خراسان غږ

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

خراسان غږ پنځلس ورځنۍ مجله، العزائم خپرندویه اداره یې وړاندې کوي

د جوړ جاړې کوونکو وروڼه

دشرم ګوډي

تاسې به لیدلي چې په وروستیو کې کابل ته د چین د ملحد سفیر د راتګ پرمهال یې همدا کشرخیل ځومره ذلیله لاس په نامه ورته ولاړ و او د الله عز وجل او د میلیونونو ایغوري مؤمنانو د دښمن راتګ یې زیرئ باله...

شرقي ترکستان او مرتد طالبان

په آخره کې د شرقي ترکستان اشغالګرو او د ایغور د محکومو مسلمانانو قاتلانو چینایي ملحدینو ته اختار ورکوو چې د طالب ملېشو له لوري ستاسې د امنیت نیونې دا د شګو بندونه...

کلک شئ ای د وخت رجالو!

مجاهدینو وروڼو...!
د کفارو او د هغوي مرتدو غلامانو شمیر ته مه ګورئ بلکې د خپل هدف دنګ منار ته ځیر شئ خپل هدف ته د ورتګ لپاره د کفر لښکرې د پښو لاندې پایمال کړئ..

دیوبندیان څوک دي؟

حسبنا الله ونعم الوکیل، د شرک غرونه یې قایم کړل او د توحید جنازه یې وویستله! د قیامت په ورځ چې کله الله تعالی قاضي وي او څوک به ساه هم نشي اخستلی حتی انبیاء به له ډاره غلي ولاړ وي خو د دیوبندیانو عمومي مشر امداد الله وايي هغه ورځ باندې به هم زه د خپل پیر څخه کومک غواړم!...

د منافقانو صفات او ځان ترې ساتل

منافقت یوه پټ مرض دی چې په زیاتو خلکو کې موجود دی، سلف صالحین به د دې مرض څخه زیات ډاریدل، حسن بصري فرمائي: "د نفاق څخه نه ویرېږي مګر مؤمن او ددې څخه نه بې غمه کیږي مګر منافق...

د ثبات غرونه

د الله حکم جهاد ډیری مسلمانانو پرېښی، هغه که عالم دی او که امي، ځوان دی که بوډا، مالدار دی او که فقیر، ایا دغه خلک ګمان کوي چې په جهاد کې به ووژل شي؟ کلا وحاشا! د هر چا د مرګ نېټه معلومه ده چې نه یې څوک مخکې کوی شي او نه یې څوک وروسته کولی شي.

26 ګڼه

دوشنبه 24 | ربیع الأول 1445 هـ

مؤسسة العزائم الإعلامية

يي وړاندې کوي

سرليک

خراسان غږ مجله ۲٦ مه گڼه ربيع الأول ۱۴۴۵ هـ

- سر مقاله:

03 د جوړ جاړي کوونکو ورونه

- سيا سي برخه:

07 شرقي ترکستان او مرتد طالبان

20 دشرم گوډي

29 کلک شئ ای د وخت رجالو!

86 د ثبات غرونه

- ديني برخه:

43 د منافقانو صفات او ځان ترې ساتل

50 ديوبنديان څوک دي؟

59 د تصوف بنياد نړولو سره شرف حاصلول

70 اسباب النصر والتمکين څلورمه ۴

د جوړ جاړي کوونکو

ورونه

(د النبأ مجلي څخه)

امت ته په يوه ځيز کې هم دومره زيان نه دی رسېدلی، څومره زيان چې ورته په ولاء او براء کې د نيمګړتيا په وجه رسېدلی دی، د ولاء او براء عقيده چې د دې عقيدې په تائيد، د دې عقيدې د ماتولو، يا پکې د درز اچولو او يا پکې بې غورې کول په حرمت کې شمېر شرعي نصوص راغلي دي.

په خلکو کې د دغه عقيدې د مضبوط ديوال د نړولو يوه مشهوره صحنه د يهودو سره د موالاتو اړوند درېځ دی، خلک يې د "اړيکو رغول"، او سپک جوړ جاړی بولي، داسې جوړجاړی چې وطني خوځښتونه يې جرم بولي، خو په ورته مهال بيا جوړ جاړي کوونکي مجرمين نه ګڼي او د هغوی سره د اړيکو رغولو ته دوام ورکوي په دې اعتبار چې دا يې "وروڼه او نږدې ملګري دي!".

د يهودو سره د موالاتو په قضيه کې دا پراخ تناقض د هغه پخواني عقيدوي انحراف زيږنده ده چې له مخې يې کلونه کلونه عربو د يهودو سره د جاهليت اختلافات درلودل، برابره ده که دا اختلافات د حکومتونو په کچه وو، او که د احزابو او حرکتونو په کچه، دغې انحراف د الولاء والبراء معيار ګډوډ کړ، د يهودو سره د دوی تولو د دښمنۍ معيار شريعت نه و، بلکې دې دښمنۍ نورې وطني، قومي، لنډمهالي سياسي او نيمګړې بڼې درلودې، سره د دې چې دوی د وسلوالو يهودو "صهيونيستانو" او عامو يهودو، او د فلسطيني يهودو او د نورې نړۍ يهودو ترمنځ هم توپير کاوه، اوس يې دا بل مصيبت شو چې ځانونه "د جوړجاړي دښمنان خو د جوړجاړي کوونکي وروڼه او دوستان" ګڼي.

د دغه تناقض او ټکر يوه نمونه دا ده چې ډېری خلک د يهودو سره د اماراتو او سعودي په "جوړ جاړي" يا اړيکو رغولو نيوکه کوي، خو د ترکيې او قطر پر "جوړ جاړي" او اړيکو رغونې له نيوکې ځان ساتي؛ سره د دې چې د قطر او ترکيې جوړ جاړی ډېر خطرناک او له خباثت ډک دی، بلکې دوی خو قطر او ترکيه دې قضيه کې پاک ګڼي او عذرونه ورته لټوي! نو د دوی په نزد جوړ جاړی او د يهودو سره د اړيکو رغول په دوه ډوله دي: حرام جوړ جاړی او حلال جوړ جاړی، معذور جوړ جاړی او بل داسې جوړ جاړی چې هيڅ عذر نه لري.

طاغوت "اردوغان" چې د مرتدو اخوانيانو د زړونو او سترګو هډه او د دوی وروستۍ کنډواله شوې کلا ده، کټ مټ د يهودو سره هغه جوړ جاړی په ډاګيز ډول کوي کوم چې سعودي او امارات کوي، بلکې د هغوی نه هم د ترکيې اړيکې يوه ګوته پورته دي، مګر د اردوغان مرستندويان دا جوړ جاړی يو پلان بولي او معذور يې ګڼي، د طاغوت "نتنياهو" سره د اردوغان وروستی ليدنه چې په کې دواړه غاړه غړی او خند رويه ليدل کېږي! د جوړ جاړي د مجازي دښمنانو له لوري د ډېرو نيوکو او غندنو سره مخ نه شوه، ولې؟ ځکه چې دوی د "اړيکو رغونکو وروڼه" له نظريې سره سم د "جوړ جاړي " سره ستونزه لري، نه د "جوړ جاړي کوونکو" سره.

په دې کې يوه بله ګډوډي هم شتون لري، چې هغه د يهودو سره "جوړ جاړی" جرم بلل کېږي خو د نصرانيانو سره نه، چې دا کار د قرآن د څرګندو نصوصو خلاف دی، الله تعالی فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ}، ژباړه: «ای مؤمنانو، يهود او نصارا په دوستۍ سره مه نيسئ»، نو الله تعالی يوازې د يهودو له موالات څخه منع نه ده کړې، بلکې الله تعالی يهوديت او نصرانيت يوځای ذکر کړل، سره د دې چې دا دواړه خپلو کې تضاد لري، مګر مسلمان ته په دې امر شوی چې د دواړو سره به دښمني کوي، بلکې د يهودو او نصرانيانو نه سيوا نورو کفارو سره به هم دښمني کوي، الله تعالی فرمايي: **{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ**

الْمُؤْمِنِينَ}،

ژباړه: «ای مؤمنانو، له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ سره مه نیسئ» بل ځای الله تعالی فرمایي: **{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ}،**

ژباړه: «ای مؤمنانو، زما دښمنانو او ستاسې دښمنان په دوستۍ سره مه نیسئ» نو دې آیاتونو کې د ټولو کفارو سره په دښمنۍ کولو فیصله شوې ده، ځکه د دښمنۍ سبب کفر دی او تیری او ظلم په ګناه کې زیادت دی.

د مثال په ډول طالبان، چې اوسمهال یې ټوله خواري، ارمان او ارزو د صلیبي امریکا سره جوړ جاړی او د اړیکو رغول دي، د "نړیوال مشروعیت" پسې هم ساه و تیګا دي، هغه مشروعیت چې د امریکا او د امریکا د متحدینو له رضایت پرته یې لاسته راوړل ناشوني دي، هر کله چې طالبان د امریکا د رضایت په کومه پوړۍ ختلو کې پاتې راشي، سمدستي د امریکا له دښمنانو لکه چین، روسیې او ایران سره د اړیکو پر رغولو کار کوي، سره د دې چې ټول د اسلام دښمنان دي او تر دې لحظې د مسلمانانو په خلاف د ټولو جرمونه دوام لري، طالبان د "جوړجاړي" له ټولو ډولونو او بڼو څخه خپله برخه اخلي، خو بیا یې هم څوک پړه نه ګڼي او نه پرې ملامتیا وایي، ځکه د جوړ جاړي دا بڼه د دوی په نزد حلاله ده!.

تر دې چې د طالبانو د دفاع وزارت سرپرست د حرمینو په خاوره کې د توحید د موسم پرمهال د "جوړ جاړي د مشهور شپونکي" طاغوت "ابن سلمان" ګرمه لیدنه درلوده، او له دې وړاندې یې بیا اماراتو ته سفر درلود چې هلته یې د اماراتي طاغوت سره ولیدل! مګر د جوړ جاړي د شپنو سره د ملېشو د مشرانو دا ښکاریدنه هیڅ جرم ونه ګاڼه او نه چا د "امارت" په دې کړنه نیوکه وکړه، هغه امارت چې تل یې په اعلامیو کې د "عربو وروڼو" سره د اړیکو پر ښه والي ټینګار کړی، خو په ورته مهال بیا په خپلو اعلامیو کې "د یهودو سره جوړ جاړی او د اړیکو رغول" غندي کوم چې همدا د دوی "عرب وروڼه" عملي کوي!، ولې؟ ځکه چې د دوی ستونزه د "جوړجاړي" سره ده، د "جوړ جاړي کوونکو" سره نه ده!.

دا سرطاني دانه چې د عملیات کېدو نه هم وتلې، ډېری اسلامي حرکتونو، د هغوی د مرستندویانو، کدرونو، عوامو او خواصو کې راختلې ده، دوی شر ښکنځي خو هیڅکله د شریرو خلکو له ملګرتیا منعه نه کوي، د خیانت بد وایي خو بیرته له خائنینو سره اتحاد کوي، کټ مټ لکه د "القاعدة" څخه راپاتې ځینې تش په نوم جهادیان، هغه چې ډېر کرت دیموکراسي کفر بولي خو دیموکراټانو ته کافر نه وایي! پارلمانانو کفر ګڼي خو وکیلان یې کافر نه ګڼي، همداسې د دوی مشکل یوازې له کاڼو سره دی! او عقیده یې یوازې نمایش دی، بل لور ته که څوک یې په عملي ډول په ځمکه کې دا عقیده د اصولو سره سمه تطبیقوي، هغوی "سختدریځه" او "خوارج" نومول کېږي.

د قضیې د سم فهم لپاره تکرارا وایو چې نن مونږ د یو پیچلي فطري انحراف سره مخ یو چې د تاریخ په اوږدو کې نا آشنا دی، د فلسطین له یهودو سره "جوړ جاړی" او د اړیکو رغونه په کې جرم ګڼل کېږي او د نورې نړۍ له یهودو سره نه، یوازې د یهودو سره جوړ جاړی غندل کېږي، خو د نصرانیانو او نورو کفارو سره جوړ جاړی نه غندل کېږي، او غوسه او پړه هم یوازې په "جوړ جاړي" اچول کېږي او رد یې کېږي، خو د "جوړ جاړي کوونکي بیا وروڼه ګڼل کېږي!".

د دغه ترخې او پیچیده صحنې د روښانتیا لپاره په کار ده چې مجاهدین د یهودو او امریکایانو سره ټول "جوړ جاړي" کوونکي هیوادونه یوځای د خپلو بریدونو هدف وګرځوي، په دې وجه چې دوی د یهودو او نصاراوو دوستان دي او

الله تعالی يې حکم بیان کړی دی، فرمايي: **{وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ}**، ژباړه: «او چا که له یهودو او نصاراوو سره دوستي وکړه، دا هم له دوی (یهودو او نصاراوو) څخه دی»، نو چا چې د یهودو او نصرانیانو سره موالات وکړ، حکم يې د هغوی د حکم په څېر دی، د یهودو او نصاراوو سره د "جوړ جاړي کوونکو " هیوادونو په هدف ګرځولو سره د دغه فطري انحراف عملي درملنه کېږي په کومه چې نن سبا د امت ډېری برخه اخته شوې ده، په دې سره د نمایش او تطبیق ترمنځ دا جوړه شوې ژوره کنده ډکېږي او په دې د الولاء والبراء عقیده را ژوندۍ کېږي او د دې ترڅنګ په دې کار سره د "جوړجاړي کوونکو د ورونو" څېرې بربنډېږي، چې نه به بیا د مخ پټولو لپاره نقاب او نه به د ګډو بیزو په څېر غار او شپول ولري!

خلاصه دا چې د یهودو او نصاراوو سره د جوړ جاړي کوونکو دوستانو هدف ګرځول د القدس، مکې او اندلس په لور سمه لاره ده، او همدا یوازینی کولاوه لاره او عملي ډګر دی د هغه چا لپاره چې نیغ په نیغه تر یهودو او نصاراوو تګ ورته سخت شوی وي، نو د یهودو او نصاراوو د دوستانو سره جګړه د هغوی سره جګړه، د مسلمانانو ټپ یو دی، دښمن يې هم یو دی، د نجات لاره هم یوه ده او معیار هم چې **"الولاء والبراء"** ده یو دی، همدا به په ځمکه کې پاتې وي او له نور خو تش ځګ دی چې عبث به لاړ شي.

(د النبأ مجلې څخه)

شرقي ترکستان
او
مرتد طالبان
2023/09/24

کله چې د اسلام لومړیو فاتحینو د زمکي دا پراخه کره په دوه برخو وویشله، او ددې پراخه نړۍ ډیرې برخه د اسلام د غازیانو د اسونو د قدمونو لاندې راغله ، د توحید وياړلی بیرغ دشرک په ماڼیو هسک شو ، د دوی غرور او دبدبه خاورې شوه ، نو دغه مهال ټول اسلامي امت یو امت و، ټوله اسلامي خاوره یوه خاوره وه ، د ټولو امام او خلیفه یو و، د ټولو اداره او نظم له یوه مرکزه رهبري کیده ، او ټولو مسلمانانو د یو جسد حیثیت درلود، که د نړۍ په لر سر کې به په یو مسلمان ظلم وشو ، نو له بر سره به د حق د لښکرو د اسونو ششنار واوریدل شو او باطل به په ویره او ډار کې شو، هغه مهال کفر او کفار ذلیله وو، دوی د اسلام بچو ته جزیه ورکوله ، او چې چا به سرکشي وکړه بیا به یې سرونه د اسلام د سربښندویانو د اسونو په پښو کې رغړیدل ، بچي او لونې به یې بیاد مریانو په بازارونو کې خرڅیدل.هو ! هغه مهال د اسلام برم او عظمت و، هغه مهال اسلامي امت یو موټی او واحد ملت و.

خو کله چې دې امت خپل مسوولیت ترک کړ ، دوی د خپلو نیکونو جنګي اسونه وتړل او د خپلو مشرانو هغه تورې چې د کفارو په وینو سرې وې په پوخونو کې دننه کړې او د دنیا عیش وعشرت ته یې مخه کړه ، همدغه وخت د اسلام د دښمنانو د مسلسلو کوششونو او په دې وروستیو کې د اسلامي حکامو په نامه د کفارو د لاس پوڅو غدارانو د خیانتونو په پایله کې یو ستر امت ټوټې، ټوټې شو ، او د اسلام ستره کلا راونړیده ، پراخه اسلامي خاوره یا په فزیکي لحاظ اشغال شوه او یا هم د کفارو له لورې د هیوادونو او وطنونو په نومونو وویشل شوه ، د پراخه اسلامي نړۍ په سینه یې د وطنیت کرښې راښکلې ، ددې کرښو په داخل کې پراته ملتونه یې په مختلفو نومونو ، قومونو ، ژبو او سمتونو وویشل ، دوی یې د وطنیت په کفري عقیده ایمان ته اړ کړل ، او ددې کرغیړنو کرښو ترشا یې نور ګڼ کفري مفاهیم خوندي او په مسلمانانو عملي کړل ، اوس نو دا دی درسته اسلامي خاوره په یو نه ، یو ډول اشغال ده او اسلامي امت پایمال او په بدحال دی.

څکه نو اندلس د ماضي کیسه شوه ،د شیشان ، داغستان ، قفقاز، بخارا ، سمرقند او د ماوراالنهر دنګ ، پیچلي مرګوني غرونه او هیبتي ناونه هغه چې یو وخت د اسلام د بچو نه ماتیدونکي مورچلونه او سنګرونه وو اوس نو د روسي تزار د خرمستیو، د سیال او عیاشیو په میله ځایونو او نایټ کلبونو بدل شول، د فلسطین له بدنه تازه وینه روانه ده خو ددې پرهر د ترلو څوک نه شته ، د شرقي ترکستان صحراوي او سرسبزه اورشوګاني د چینایي درنده ګانو د وحشت په هډو او د ظلم او ستم په تورو او تیاره زندانونو واوښتې ، اوس نو دلته د اسلامي امت یوه عظیمه برخه یرغمل ده ، اوس نو دلته په میلونونو مسلمانان د خپل دین او هویت په پریښودو او هیریدو اړ کیږي اوس نو دلته له هغه تاریخي مساجدو او مدارسو د ځارویو طبیلي جوړې شوي دي چې یو وخت به یې له دنګو منارو د اذان اذانګو روح ته سکون ورکاوه او له مدارسو یې د علم چیني خوټیدلې .

خو افسوس دا چې نن اسلامي امت ټوټه ، ټوټه او هره ټوټه یې په خپل غم اخته ده ، څکه نو د اسلام په نامه د کفارو روزل شوې ډلې ټپلې په داسې حال کې ځانونه د اسلامي امت استازې بولي چې د همدغه اسلامي خاورې اشغالګرانو اود اسلامي امت قاتلانو ، د دوی د ناموس لوټونکو کفارو سره د دوی په سر په سودا او معاملو بوخت دي، د ډالرو په کڅوړو یې نه یوازې دا چې خپل ایمانونه وپلورل ، بلکې کوشش یې دا دی چې ټول اسلامي امت او اسلامي خاوره هم د تل لپاره په کفارو وپلوري څکه نو د همدې پروژې د تطبیق لپاره خپل اخري کوشش کوي چې د اسلامي خاورې د ازادۍ او په ټوله

نړۍ د حقیقي اســـــــلامي نظام حاکمونکو د اسلامي امت د اصلي وارثانو د اســــــــلامي دولت د سربښندویانو مخه ډب کړي .

په دې خاطر چې روس په ماورالنهر خپلې وحشــــــي منګولي همداسې لاپسې کلکې کړي ، امریکا او اروپا د اندلس له تاریخي مساجدو پرلاپسې کلیســـاوې جوړې کړي او په نړۍ د دیموکراسۍ د تطبیق پروژه دوامداره وساتي او وحشــي چینایان په شرقي ترکســتان کې د ایغور د مســلمانانو وینې لا خه وزبیښــي ،نو د اسلام په نامه راولاړې شـــوې هغه ډلې ټپلې چې د ســپمي د اســتخباراتي ادارو مهارونه په کـې پـراته وو په ځینو سیمو کې واک ته ورسـولې او زیاتو نورو ســـیمو کې ورســـره کفار او طواغیت واک ته د رسولو په هڅه کې دي ، چـــي له دې ډلو یـــي یوه د اســـلامي امارت (!) په نوم هغه ډله ده چې د اســــلامي نظام د قیام په شـعارونو یې ډېرى خلک خطا وتلي وو او د یو ســپېڅلي هدف په پار یې په دغه صــــف کې قرباني ورکولې، دغه اسلام بدناموکې ډله چې واګې یې د اي ایس اي په لاس کـې وې او دي ، د واک او ډالرو ترلاســه کولو په خاطر یې په خپلو غیرتونو ، ایمانونو او د اسلامي امت په وینو ، اوښـکو ، قربانیو د دوی د لنډ ډیري ســکولر مشـــر ستانکزي په وینا په دوه زره اوم میلادي کال د امریکا په تـر ټولو ســـتره اســــتخباراتي هډه قطرکې مســــتقیمې خبرې او سوداګرې پیل کړه .همغه ډېری مخلصـو مجاهدینو او مهاجـرینو ته د دوې موخـــې او پلانونه ځرګند شـــول او د امارت له صفه کیناستل ، اخر هم د ټولې نړۍ په پاکو او ســــــپېڅلو مجاهدینو او مهاجرینو الله عزوجل یو ستر احسان وکړ او د اسلامي خلافت ظهور وشـو ، د اســـلامي خلافت د نور وړانګې د خراســـان په غرونو هم ولګېدې چې ګڼو تنظیمونو ، قومونو او د مخـتلفو ژبو ، ســـمتونو او هیوادونو اذادو او سرلوړو مجاهدینو د مســــلمانانو د خلیفه سره بیعتونه وکړل .

له همغه پیله د نړۍ ټول کفار په ټولو سیمو کې د اسلامي خلافت په مجاهدینو راحشر شول او په دې حشر کې ورسره په مختلفو سیمو کې د اسلام په نامه جوړو شویو تش په نوم جهادي تنظیمونو او د سیمې طاغوتي هیوادونو هم برخه واخسته چې په خراسان کې خه مثال د اسلامي دولت په خلاف د امریکا په مشرۍ د ټولو کفارو تحالف یادولی شو چې په کې د پاکستان ، ایران په شمول روسي او نورو هیوادونو مستقیما او غیر مستقیما برخه درلوده ، چې د امارت ملیشي ددغه ایتلاف عمده برخه وه ، دغه ایتلاف د اسلامي دولت د مجاهدینو سره د څو کلونو پرلاپسي جګړو کې له ماتي وروسته په ډیر ګڼ تعداد کې له څو لوریو په داسي حال کې هجوم راوړ چې امریکا پې د کروزونو او مختلفو جنګي طیارو د درنو بمبارونو په ترسره کولو ملتیا کوله ، همغه مهال طالب ملیشو هم دا ومنله چي د دوی نظامیان او د امریکا نظامیان په یو چینل کي د دغه جګړې اړوند د طرحو او کوردیناتو په راکړه ورکړه بوخت دي او امریکایي چاړواکو هم په ډیر فخر طالبان خپل زمیني ځواک وباله او خپل هوایي ځواک ته به یي د طالب ملیشو د هوایي ځواک خطاب کاوه ، که څه هم طالب ملیشو د خپلو تبلیغاتو په زور ډیره هڅه وکړه چې خپل دا شرم پټ کړي خو ونه توانیدل او د دوي بادارانو له دې رازه پرده پورته کړه چې د اسلامي دولت په خلاف جنګ کي طالب د امریکا د لاس غرګې وو.

اخر هم د همدې معاملي په صورت کې په خراسان کې د اسلامي دولت د تمکین له ختمیدو وروسته امریکا د یوې میاشتې په اوږدو کې ټول واک ځواک د جمهوریت له مرتدینو واخست او طالب مرتدینو ته یې وسپاره ، طالب مرتدینو چې د وطنیت په کفري عقیده بې ایمان راوړې وو، د دوحې د تړون په اساس له خپلو لیکو هغه بهرني مجاهدین وشړل چې د خپلو کفري نظامونو د ړنګیدو په نیت یې د امارت لیکو ته پنا راوړې وه ، طالب ملیشو خپلو بادارنو ته دا ډاډ ورکړ چې نور به د دوی سرحدات طالب ملیشي ساتي ، افغانستان به د دوی لپاره خطر نه وي او دوي به وخت په وخت د دوي د دښمنانو په اړه ورته جاسوسي کوي .

د افغانستان اسلامي امارت
ونظامي چارو کمیسیون
اداري ریاست

نېټه: ۱/رجب المرجب/۱۴۴۲ هـ ق
13/02/2021میلادي
ګڼه: ۴۴/جلد:۲

بسم الله الرحمن الرحیم

د ټولو ولایتونو مسؤلینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

وبعد: صحت او عافیت مو له الله جل جلاله څخه غواړو

ټولو مسؤلینو او مجاهدینو ته هدایت دی چې هیڅوک نه شي کولای چې په خپل سر بهرنیو وګړو ته په خپلو صفونو کې ځای ورکړي، او یا یې له ځان سره پټ وساتي، که هرچا داسې عمل تر سره کړ او تاسې (ولایتي مسؤلینو) ته یې معلومات وشو، نو له مسؤلیت څخه یې لیرې (معزول) کړئ، دلګۍ او ګروپ یې لغوه کړئ او د بعدي جزاء لپاره یې د نظامي چارو کمیسیون ته معرفي کړئ

والسلام

د افغانستان اسلامي امارت

شماره: ۵۲۵ | د ویاند دفتر | ۱۴۴۵/۱/۲۲هـ ق

د پاکستاني چارواکو د مکررو تورونو په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندوني

په پاکستان کې د وروستیو خواشینوونکو امنیتي پېښو وروسته یو ځل بیا پاکستاني چارواکو د خپل هېواد د امنیت د ټینګښت پر ځای د پړې ګوته افغانانو ته نیولې ده.

د افغانستان اسلامي امارت دغه تورونه په بشپړ ډول ردوي او پاکستاني مسئولینو ته وریادوي چې افغانستان له اوږدو جګړو څخه راوتلی هېواد دی او په بل هېڅ هېواد، په ځانګړې توګه ګاونډیو هېوادونو کې نا امني نه غواړي.

د افغانستان حکومت یو ځل بیا خپل اصولي دریځ تکراروي چې اجازه نه ورکوي د افغانستان خاوره د بل کوم هېواد د امنیت پرخلاف وکارول شي، خو دا په دې معنا هم نه ده چې افغانستان د سیمې د هر هېواد د امنیتي ناکامۍ مسئول وي.

زموږ سیمه له بده مرغه په تېرو شلو کلونو کې د امریکا په مشرۍ د بهرني یرغل او د سیمې د ځینو هېوادونو د غلطو سیاستونو قرباني وه چې اغېزې یې تراوسه احساسېږي.

پاکستان باید خپل امنیتي وضعیت سره دقیق چلن وکړي او په خپل کور کې یې حل وپلټي.

په تېر ۱۴۴۴هـ ق کال کې په افغانستان کې په بېلابېلو عملیاتو کې تر ۱۸ تنو پاکستاني داعشیان وژل شوي چې زموږ په خاوره کې یې چاودنې او بریدونه کول او لسګونه نور ژوندي نیول شوي دي چې ټول اسناد او شواهد یې له موږ سره موجود دي.

د دې پر ځای چې موږ پاکستاني لوري ته د پړې ګوته ونیسو، د افغانستان حکومت خپل امنیتي تدابیر ټینګ کړي چې الحمدلله نتیجه یې هم وینو.

د یادولو وړ ده، چې که څوک په پاکستان کې بریدونه کوي او یا د داعش په نامه د افغانستان او پاکستان د مسلمانانو وینې بهوي، باید په ګډه ورته حل لار ولټول شي، تورونه لګول د حل لار نه ده.

داچې په افغانستان او سیمه کې په دیني علماوو او مدرسو د بریدونو یوه لویه توطیه روانه ده په دې اړه زموږ کشفي ارګانونو له مخکې نه معلومات تر لاسه کړي او په افغانستان کې یې د مخنیوي لپاره کارنده عملیات تر سره کړې او هم یې په دې اړه د سیمې له هیوادو سره معلومات شریک کړي خو متاسفانه چې ځینو هیوادو یې په اړه پر وخت اقدامات ندي کړي.

د افغانستان اسلامي امارت یوځل بیا په تاکید سره وایي چې موږ په پاکستان کې د هیڅ برید طرفدار نه یو او هیچا ته اجازه نه ورکوو چې د افغانستان خاوره د پاکستان په ضد وکاروي، خو د پاکستان په خاوره کې دننه د بریدونو مخنیوی او کنترول زموږ دنده نه ده؛ بلکې په هغه هیواد کې د امنیتي او استخباراتي ارګانونو دنده ده چې د همدې لپاره د خپل هیواد یوه لویه حصه بودیجه مصرفوي، پاکستاني امنیتي ارګانونه باید خپله دنده په سمه توګه ترسره کړي او د خپلو خلکو او نړیوالو د ذهنیت بدلولو لپاره افغانستان متهم نه کړي.

په تېرو شاوخوا دوو کلونو کې چې افغانستان کې یو خپلواک او مسئول حکومت رامنځ ته شوی، په افغانستان او سیمه کې امنیتي وضعیت د پام وړ بهتره شوی دی. دا چې یوازې پاکستان کې امنیتي پېښې زیاتې شوې دي، ښکاره ده پاکستان یې حل په خپل هېواد کې ولټوي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی
۱۴۴۵/۱/۲۲هـ ق
۱۴۰۲/۵/۱۷هـ ش . 8/8/2023 م

طالب ملېشــو هم په خپلو څرګندونو کې په دې اعتراف وکړ چې دوی نور هیچا سره دښمني نه لري ، جهاد نور ختم شو ، امریکا او د نړۍ ټول کفار د دوی دوستان شول ، جهاد حرام او د امریکا په شـــــــمول د نړۍ ټولو کفارو سره دوستي او راشــه درشــه واجب شــوه ، او دادی د امارت برکت دی چــې اوس امــریکا محفوظ ده او طالبان په دې خوشاله دي چې په دې ماموریت ترې بایډن راضي دی .

نو په همدې اساس طالب ملېشــــو نه یوازې په خبرو کــې بلکــې په عملــې توګه یې د نړۍ د ټولو مســــلمانانو سره پریکون او کفارو سره پیوستون ننداري ته وړاندې کـړ ، دوی ته اوس د نـــــــــړۍ د محکومو او مظلومو مسـلمانانو په ځاې د دوی قاتلین او اشــغالګران محترم دي چې په همدې لړ کې یې د شرقي ترکســـــتان د اشــــــغالګرو او د ایغور د میلونونو مســــــلمانانو له قاتلانو او ناموس لوټونکو چینایانو ســره دوســـتي له

هیچا پته نه ده ، مخکې له دې چې ایغور د مظلومو مسلمانانو له حالاتو ، دوی سره د چینایي وحشیانو د ظلمونو او بیا همدغه درنده ګانو سره د طالب ملېشو په یارانه وغږېږو په لنډه توګه به د شرقي ترکستان تاریخ ستانه شو .

کمونستو چینایانو په نولسمه پیړۍ کې څو ځل په شرقي ترکستان بریدونه ترسره کړل خو هر ځل د ماتې او ناکامۍ سره مخ شول ، کله چې عثماني دولت ړنګ شو نو په ۱۹۳۳ کال کې دفکري جګړې په لړ کې د شرقي ترکستان یو څو بې دینه مشرانو غوښتل چې دا هیواد د شرقي ترکستان اسلامي جمهوریت په نوم د یو سیکولر هیواد په حیث نړۍ ته معرفي کړي خو دا نظام عامو مسلمانانو ته د منلو وړ نه و، نو دغه موقعې څخه ګاونډي کافر استفاده وکړه او دا یې د اشغال مناسبه موقعه وبلله، د جمهوري نظام تشکیل لا بشپړ نه و ، چې څو میاشتې وروسته یې حکومت د منځه لاړ. روس او چین ائتلاف وکړ، ځکه چې شرقي ترکستان د روس مستعمره هیوادونو په ګاونډ کې واقع و، او هسې هم د اسلام دښمنۍ دواړه سره یوځای کړي وو.

په ۱۹۴۹م کال یې شرقي ترکستان د سختو ظلمونو او وحشتونو په نتیجه کې په کامله توګه اشغال کړ او د شرقي ترکستان دا پراخه هیواد یې د سینګیانګ په نوم د خپل هیواد یو ایالت وګرځاوه، چینې ژبه یې ورته رسمي ژبه وټاکله او په هر نوعه دیني احکامو باندې یې بندیز ولګاوه.د شرقي ترکستان مساحت ۱،۷ میلیون کیلومتر مربع دی.

شرقي ترکستان ډېر بډایه هیواد و، ځکه چې ډیرې معدنیات لري، د مثال په توګه دا هیواد د چین د احتیاطي ذخیرې ۲۵٪ پټرول او ۲۸٪ طبیعي ګاز تولیدوي، په دې سیمه کې طلا، سنګ ذغال، قیمتي ډبرې، یورانیم او نور کانونه هم شتون لري، پدې ډول څېړونکي وایي چې شرقي ترکستان د چین څلویښت سلنه عواید تشکیلوي خو د دغه سیمې اتیا سلنه مسلمانان د فقر او غربت د لاسه ولږې او نهارې تیروي، د دې سربیره دا سیمه ډیرې ښایسته زړه وړونکې منظرې لري، د غرونو پراخه لمنې، شنې ورشوګانې، ښیرازه دښتې او روانې اوبه لري. د آسمان څکو غرونو په واورو پوښلي سرونه یې د سیلانیانو د پام وړ دي، پدغه ګلاب ، ګلاب وطن کې د ترکي د مسلمانانو یو قوم اوسېږي چې د ایغور په نامه یادېږي، د چین له اشغاله وړاندې ددې سیمې ۸۰ % اوسیدونکي ایغوري مسلمانان وو، خو د ۱۹۴۹ میلادي کال د چینې اشغال څخه وروسته نن ورځ دوی د سنکیانګ (شرقي ترکستان) یوازې ۴۵٪ برخه تشکیلوي.

د ایغور مسلمانان له همغه وخته د کمونستو چینایانو د ظلم په ژرنده دل کیږي ، چین د شرقي ترکستان د اشغال راهیسې تر ننه په میلونونو مسلمانان په شهادت رسولي دي، چې د ځینو سرچینو په وینا د قربانیانو مجموعي شمیر یې تقریبا ۴۰

ميلونونو پورې رسېږي، دا هغه لوړ تعداد دی چې د عراق، افغانستان، چېچن، فلسطين او بوسنيا مجموعي شهيدانو شميره پوره کوي يا داسې ويلی شو چې چين د ټول افغانستان نفوس هومره مسلمانان وژلي او ژوبل کړي دي.او دا لړی لا اوس هم روانه ده .

چين په ۱۹۵۲ ميلادي کال کې ۱۲۰ زره مسلمانان اعدام کړل، او دا اکثره نيکان خلک وو، علماء، قاريان او کوادر وو، هدف يې دا و چې کله له دې ټولنې د سر سړي لرې شي او د چين لخوا د عقيدې تغيرولو مشن شروع شي نو ډېر زر به د مسلمانانو له زړونو څخه خپل ايمان، اسلام او د جهاد مينه وباسي. د علماؤ شهادت څخه وروسته چيناي ملحدانو مدارسو او مساجدو ته مخه کړه، څه يې رنګ کړل، څه يې تخريب کړل، له ځينو يې پلورنځي او له ځينو يې د څارويو غوجلي جوړې کړې، بعضې يې د مونځ کونکو پرمخ وتړل،د ۱۹٤۹ ميلادي کال څخه تر ۱۹۷۹ ميلادي کال پورې دې اشغالګرو ۲۹۰۰۰ مساجد تخريب کړل، د ۱۹۹۷ ميلادي کال څخه تر اوسه تقريباً ۱۲۰۰ مساجد يې د کمونيستانو په دفترونو بدل کړل.

د اشغال له پيل څخه چين په زرګونو ديني مدارس او د الله د کتاب د تعليم تعلُم مراکز وسوځول.

همدغه راز يي د خپل دين او اسلامي هويت د پريښودو او همدې هدف ته د ګمارل شوي اردو د خدمت او دوی ته د شاقه کارونو د ترسراوي لپاره يي ۵۴۰۰۰ مسلمانان وګمارل، د مساجدو امامان يي په زور د رقص او موسيقۍ زده کړې ته اړ کړل، ترڅو خلکو ته د قرآن او حديث پر ځای رقص او سرود وروښايي. د ديني بنسټونو د منځه وړلو څخه وروسته يي په دين عمل کونکو لپاره سختې جزاګانې مقرر کړې، په حجاب يې مکمل بنديز ولګاوه، مونځ، روژه، ږيره، حج او داسې نور احکام جرم وشميرل شول، د خنزير غوښه خوړل، شراب څښل او رقص وغيره منکرات جبري شول، د قرآن کريم اود نورو ديني کتابونو او اوراقو ساتل په مطلق ډول بند شول، يوازې په همدې شعائرو او احکامو طويل المدت قيدونه مقرر شو، چې د لسو کالو څخه نيولي تر عمرقيد پورې نيتې ورته وټاکل شوې. د مثال په توګه طورستان په نامه ۵۸ کلن سپين ږيري ته يې د ږيرې پريښودو له امله ۱۷ کاله قيد ورکړ.

۵۰ کلنې زنانه ته يې د قرآن درس ورکولو له امله ۱٤ کاله بند ورکړ.

همدا ډول د شراب نه څښلو له امله ۱۵ کاله قيدونه ورکړل شول، د حجاب نه پريښودو له امله حتی زنانه ژوندۍ وسوځول شوې، خو دغه عفت مندو پيغلو تر اوسه هم دغه ذليله کفارو ته تسليمي نده ورکړې. د مسلمانانو بې دينه کولو لپاره د فکري بې لارۍ ستر روزنتونونه جوړ کړي، چې حقيقت کې دا د نړۍ تر ټولو کرغيړن او ستر زندانونه دي، چې د بي بي سي او نورو کفري سرچينو په اساس يو مليون او د اويغوري مسلمانانو د قول مطابق تر لس ميليونو پورې مسلمانان په کې د تعذيب څخه ډکې شپې او ورځې تيروي. هر نوعه فزيکي او معنوي جزاګانې ورته ورکول کيږي، د دوی ترمخه د اسلامي مقدساتو توهين کيږي، دوی څخه جامې ويستل کيږي، دوی وږي ساتل کيږي، د عفت مندو مسلمانو خويندو عزتونه د غيرتي ورونو ترمخه لوټل کيږي. ،چيناي پوليس راځي او په بنديو زنانه و سره د ټولو خلکو په مخ کې ډله ايز جنسي تيري کوي ، عجيبه لا دا ده چې دغه وخت سخت امتحان دا و چې ټول بنديان مکلف وو ترڅو د بدکارۍ دې فعل ته وګوري، که چا به د ډير شرم او حيا د لاسه سترګې ښکته کړې نو هغه مسلمان به د دوی په نزد ستر مجرم و.

هر وحشي ځناور د خپلې شپې تيرولو لپاره د اسلامي امت له لونړو څخه د خپلې خوښې هغه يي خپلې خوب خونې ته وړي ، او که نا که به چې د يوې زنانه په اړه خبر شو چې دا اوس هم دين او اسلام يادوي نو بيا به يې د ټولو په مخکې ورسره ډله اييز زياتی کاوه، تر دې چې د ټولو مخکې به يې دغه عفت مندې مسلمانې ته د جامو ويستلو امر کاوه چې جامې به هم ته خپله وباسې!! حسبنا الله ونعم الوکيل. ځينې داسې زنانه هم وي چې د شپې به يې بوتللې او بيا مونږ هغه کله هم ونه ليدې خو دا ټول هر څه مونږ په چوپه او پټه خوله زغمل!

او د نارینه وو لپاره د بربنډولو جزا خو بیخي عادي خبره وه، د چین الحادي فکر او قومیت درسونه به ورکول کېدل، په اجتماعي ډول به پرې د چین شعارونه بدرګه کېدل. د چین د مصالحو لپاره د تجسس عهدونه به ترې اخستل کېدل او د دغه کیمپ نه خلاصون څخه وروسته د هر نارینه او زنانه افعال او اعمال څارل کېږي چې آیا کوم بدلون پکې راغلی او که نه ؟ شراب څښي او که نه ؟

حجاب کوي او که نه ؟ لباس يې کوم ډول دی ؟

د رقص او موسيقۍ مجالسو ته حاضرېږي او که نه ؟ چين داکوشش هم کوي چې د اویغوري مسلمانانو نسل دخپریدو څخه وساتي، مسلماني پیغلې چینایانو سره ودونو ته اړ ویستل کیږي، او مسلمان ځوانان هم چینايي ښځو سره ودونو ته مجبوره کیږي، ترڅو د دوی راتلونکی نسل کاملاً چینايي مفکوره ولري، د دې سربیره د مسلمانو زنانه وو او نارینه وو د شنډوالي لپاره هم مختلف تدابير استعمالوي. همدا اویغور مسلمانان د طب په بخش کې تجربو لپاره استعمالوي، دغه رنګ چین هر کال د ٦٠ څخه ١٠٠ زره پورې د انساني اعضاؤ انتقال عملیات ترسره کوي چې اکثره اعضاء يې د اویغوري مسلمانانو څخه په زور ویستل کیږي.

د مسلمانانو بچیانو ته هم کمیونستي تعلیم ورکول کیږي، دوی ته د ایمان او توحید پر ځای د رقص او الحاد درسونه ورکول کیږي.دوی څخه خپل دین عقیده او هویت په مختلفو شکلونو اخلي او په چینايي ټولنه کې يې مدغم کوي

د همدې وحشي درنده ګانو سره د طالب ملېشو دوستي او یارانه څه د تعجب وړ خبره نه ده ، بلکې چینايي کمونستان پوهیږي چې دا جاهله اخوندان د واک او پیسو وږي لیوان دي ، ځکه يې نو ورسره د یاراني تار وغځوه وخت په وخت چینايي چارواکو هم له طالبانو غوښتې چې د ایغور د مسلمانانو په ځپلو کې د ترهګرو د ځپلو په نوم دوی سره مرسته وکړي .

د طالبانو لپاره د چین نوي ټاکل شوي سفیر ژیو چینګ پخپلې ایکس پانه لیکلي، د طالبانو رژیم په بریالیتوب د داعش او هغه نور خطرونه راکم کړي، چې د سیمې هېوادونو او چین ته ګواښ وو، نو له همدې امله مور ورسره نږدې سیاسي او اقتصادي اړیکې غواړو: «چین له طالبانو پوره داد لري. طالبان د سیمه ییزو خطرونو د ختمولو ورتیا لري.»

Translate Tweet

شیخ مولوي نداء محمد ،،ندیم،،صاحب حفظه الله :چې په مشرق کی یوه مسلمانه ښځه بیعزته کیږی

د مغرب په مسلمانانو فرض ده چې ددی ښځی د عزت ساتنه وکړی

Translate Tweet

1,893 views

او طالب مشـــــرانو هم هر ځل نه یواځې په خپلو خبرو کې چین ته ډاډ ورکړې بلکې له پخوا څخه یې په خپل عمل کې دا ثابته کړې چې دوی د کمونســـتو چینایانو دوستان او د ایغور د مظلومو مسلمانانو دښمنان دي ، د خلکو د غولونې په هدف یې کله دروغجن امیر المومنین وایي چې

د نړۍ به هـر ځاې کــې که کوم مسلمان د ظلم او وحشــت لاندې وي مرسته به ورسره وکړې او همدا راز یې نور لاپوک او مغروره نصواریان هم ورته ځرګندونې کوي .

خو بل لور ته بیا دا منافقین په خپل ګاونډ کــې د ایغور د مظلومو تور سرو د وامعتصـــما په غږونو ځانونه کڼوي او د ایغور د مسلمانانو مسله د چین داخلي مسله ګڼي .

هو ! کمونســــتـ چینایان په شرقي ترکســتان کې د اسلامي امت له لونړو سره جنســي تیري کوي خو دا د اې ایس اې جنګــي چـرګان بیا د همغه چیت پوزو کمونســتو چینایانو سره کله وزرې جــنګوي او کله ورته د سـپرم زیاتیدو لپاره جنغوزي ډالۍ کوي ..

Zabihullah (..ذبیـح الله م)
@Zabehulah_M33
د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي امیرخان متقي صاحب لخوا د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي ته ځنغوزې په تحفه کې ورکړل شول چې د هغه له هرکلي سره مخ شو.

Translate Tweet

103K views

11:57 AM · 26 Oct 21 · Twitter for Android

هو !
طالب ملېشـو دغه سرو لیوانو سره لاس یو کړې هم یې پرې د اسـلامي خاورې کانونه او معدنونه لوټ کړل او هم یې پرې د اسلامي امت د لونړو عصمتونه او عزتونه لوټ کړل دا پلن ښتي او غټ خېتي دومره د ډالرو او واک نشـــې لیوني کړي چې د دغه ملحدو حـربــي کفارو یو ټیټ رتبه مامور ته دومـره ټیټ وپاس کیـږي چې سرې یې په لیدلو شرمیږي

هم د شرابو او د موسيقۍ محفلونه جوړوئ نو معلوميږي دا چې تاسې کې د اسلام په نوم کومه جوهر نه ده پاتې، ځکه تاسې اوس د شرقي ترکستان د مظلومو مسلمانانو سره کوم تعلق نه احساسوئ، هغوی مسلمانان دي او تاسې مرتدين، نو ستاسې په هغوی څه پروا راځي ؟! تاسې خو بې د چين په نايټ کلپونو او لوبغالو کې د انجونو سره په خرمستيو بوخت کړي ياست .

هو!

طالب مشرکينو ملحدو چينايانو سره په همدې خبرو بيعت تازه کړ ، چې که تاسې د ايغور د مسلمانانو سره هر وحشت کوئ ، که په هغوی خپل دين بدلوئ ، که د مسلمانو خويندو سره ډله ايز جنسي تيري کوئ نو موږ به د سپرم د زياتيدو لپاره درته جنغوزي ډالۍ کوو ، زموږ درسره کار نه شته موږ ته فقط ډالر راليږئ ، تاسې که د هغوی له مساجدو او مدارسو طبيلې جوړوئ ، که هغوی بربنډ نڅوئ او که د اسلامي امت د لوڼو عصمتونه تار ، تار کوئ موږ ته يې څه دا ستاسې داخلي مسله ده طالبه !

ددې هرڅه باوجود د هغوی امنيت خوندي کوئ،په هغوی د بريدونو مخنيوې کوئ، هغوی ته ډادينې ورکوئ، هغوی ته په افغانستان کې

اوس نو دادی د اسلامي نړۍ د فاتحانو (!)

دا پلاوی په همدی هدف (!)

تللي چې هلته د دغه مظلومو او محکومو ایغوري مسلمانانو د زندانونو څخه لیدنه وکړي .

هلته د کمونستو چینایانو د ستم په ژرنده دل کیدونکي د اسلامي امت د ورو بچو حال وګوري .

هلته د اسلامي امت د هغه خویندو د له حاله ځان خبر کړي چې چینایان ورسره ډله ایز جنسي تيري کوي .

دوی به هلته په شرقي ترکستان کې وبخئ سینکیانګ کې په هغه مساجدو او مدارسو هم وګرځي چې د چینایانو ترې طبیلې او غوجلې جوړې کړي .دوی به په پوره رعب او دبدبه (!)

د هغه ډله ایزو کمپونو څخه هم لیدنه وکړي چې ایغوري مسلمانان په کې د خپل دین پریښودو او د الحاد د فکر او عقیدې خپلیدو لپاره روزل کیږي .دغه فاتح پلاوې (!)

به هلته له ډیر درد او غمه هیڅ خوراک ونه کړي ، دوی به د اوښکو په ځای وینې وبهوي او چې کله بیرته راستون شي نو خپل د دفاع وزیر ملا یعقوب به د مسلمانانو له حاله خبر کړي ، خپل امیر المؤمنین ملا هیبت الله ته به کندهار ته ورشي او ورته به ووایي چې تاسې څه موده مخکې په ډیر جرات دا خبره کړې وه چې که د نړۍ په هر کونج کې د هر مسلمان سره ظلم کیږي نو ته به یې پوښتنه کوې ، دادې په ګاونډ کې دې په میلونونو مسلمانان قتلیږي ، ناموسونه لوټیږي، د خپل دین بدلیدو ته اړ کیږي ، او د وحشتونو په اورونو کباب کیږي .

ملا هیبت به نو بیا په ډیر غرو پرش خپل د دفاع وزیر ښاغلي (!)

زړور او بهادر (!)

د ټولو مسلمانانو د دفاع وزیر ته امر وکړي چې لښکرې دې په چین ورمرش کړه ، که په غرونو نه شئ ورواوختلې نو لږ صبر وکړئ دا د بدخشان له ولایت څخه چین ته یو سړک باندې کار روان دی دا تکمیل شي نو په همدې به بیا ورشئ .

ګرانه لوستونکیه !

له پورته انځور څخه رالاندې لیکنې په لوستو دې څه تصور وکړ ؟هسې دې دا خیال پلاو رښتیا وګاڼه او که د دغه حقایقو د برعکس برخورد په هنداره کې دې د طالب ملېشو اصلي څېره وکتله او له درده دې اوښکې تویې کړې ؟

طالب ملېشو ته وایو !

افسوس !

نړۍ ته تاسې د کوم اسلام کوم تصویر وړاندې کوئ ، دا هر څه چې په کې روا دي دا هغه پاکستانی اسلام دی چې تاسې پرې په دوحه کې آیمان راوړ په حقیقي اسلام کې خو د داسې محاربو کفارو د څټونو څخه د لمبو پورته کولو امر شوی دی او د اسلام د دغه اوامرو د عملي کولو لپاره لله الحمد د اسلامي امت اصلي بچي لا ژوندي دي تاسې به هیڅکله په دې ونه توانیږئ چې خپل دا ملحد باداران هیڅرته زموږ له بریدونو خوندي کړئ

طالب ملېشو ته وایو ! که تاسې د ډالرو ، واک او چوکۍ نشو او تماشو مرتد کړي او بزدله کړي یاست نو د اسلامي دولت انغماسي زمرو ته مخه خوشې کړئ نو د خلافت د مجاهدینو مخنیوی خو مه کوئ دغه بارډېرې ورته خوشې کړئ، چې دوی د چین ملحدین په توغندو ووليي، انغماسي او

دې د خنځير بچو ته خو داسې تاوده هرکلي مه کوئ ، دوی ته خو دومره ټيټ پاس مه کيږئ والله المستعان.

استشـــهادي بريدونه پرې وکړي، یو کار ته خو تيار شئ.

خه که دا هم نشئ کولای نو حداقل دا خو وکړئ چې دوستي خو ورسره مه کوئ، د اويغوريانو په پرهـرونو کـې خو چړې مه وهـئ، د هغوی زخمونه خو مه تازه کوئ، د هغوی د قاتلينو ملاتړ خو مه کوئ، دغه اشـــغالګرو کفارو ته خو ډالۍ مه ورکوئ.

د اســــلام او ايمان خو مو درک او څرک نه لګيږي، خو کاش !

چې د شـــرم او غيرت په نوم مو هم کوم ارزښــــت پيژندلای، چې دومره سترو شـملو، سـپينو جامو او اوږدو ږيرو سره د شرقي ترکســــــتان د مســــــلمانانو د سر او ناموس سودا کوئ!

په اخره کې د ايغور په شمول د نړۍ په ټولو محکومو مسلمانانو غږ کوو د اسلامي دولت غيږ تاسـې ته خلاصـه ده راځئ د نورو ايغوري ، تاجکـي ، ازبکي شازلمو په پل ، پل کيږدئ او د اسـلامي دولت د ليکو سـره يو ځاې شـــئ تر څو د طالب په شــــمول د اشغال شوي اسلامي خاورې څخه دا د کفارو نيابتي ملېشې ورکې کړو او درســـته اســـلامي خاوره د شـــرک ،طاغوت، جمهوريت ، ديموکراسۍ او وطـنـيت د ګـنده افکارو او عقائدو څخه وژغورو او په ځاې يـــې د الله عـــزوجل نظام حاکم کـــړو .

طالب کشرخيلو ته وايو !

نور نو د څه وخت په انتظار یاست ، له دې وراخوا د مشـــــــرکينو او ملحدينو چوپړ شـته چې سـتاسـې مشران يي وکړي ؟

نور د دغه مزعوم امارت له صـفونو جلا شـــئ د الله دين ته راوګرځئ ترڅو مو دنيا او اخرت خايسته شي او که چرته مو اسلامي دولت سره له دښمنۍ لاس وانه خســت نو لرې نه ده چې تاسې به د خپلو دې مشرکو او ملحدو بادارانو ســـره يو ځاې د خراسان له پاکې خاورې نيســـت او نابود شئ .

په اخره کې د شرقي ترکســــــتان اشـــغالګرو او د ايغور د محکومو مســلمانانو قاتلانو ملحدو چينايانو ته اختار ورکوو :

تاسـې به هيڅکله د طالب په نامه د شـګو په دې بندونو ســتاســې په سرحدونو د اسلامي دولت د خونړي سـيلاب مخه ډب نه شـــئ کړئ باذن الله ، هغه ورځې ډيـرې نيـږدې دي چې ســتاســي د تعذيب خونو څخه موږ خپلې مســــلمانې خويندې را ازادې کړو او په ځاې يي ستاســې ښـځې وينځې او ســتاســې بچي مريان وګرځوو ان شاء الله

МОСКОВСКИЙ ФОРМАТ
КОНСУЛЬТАЦИЙ ПО АФГАНИСТАНУ
5-е заседание
د افغانستان په اړه د مسکو مشورتي فرمت
پنځمه غونډه
MOSCOW FORMAT
CONSULTATIONS ON AFGHANISTAN
5th meeting
د شرم
گوډي

له کومه راهیسې چې امریکا او نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د ترهګرۍ (اسلامي دولت) پر ضد جګړه طالب ملېشو ته سپارلې ده، له هماغه راهیسې ملیشې په دې جګړه کې ورځ تر بلې خپل اخلاص ښکاره کوي، وخت پر وخت نړۍ ته د خپلو کړیو وعدو پر اړه ډاډ او اطمنان ورکوي، چې دوی کفري نړۍ سره په خپلو ژمنو ښه ټینګ ولاړ دي او په دې برخه کې د خپلو صلیبي بادارانو هیڅ ډول بې اطاعتي نه کوي، د همدغه ژمنو په اساس دوی د مهال ویش سره سم کله غربي او کله شرقي کفارو ته خپله کارګذاري وراندي کوي او کله بیا د نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو (طاغوت) د رضایت لاس ته راوړلو لپاره خپل ټول وس او توان په کار اچوي، او کله بیا د غربي نړۍ د شاباسي ترلاسه کولو په موخه د غرب لنډغرو جواسیسو او د جاسوسیو ځالو ته پروتوکولونه ورکوي او پراخ تبلیغات ورته کوي تر څو نړۍ ته دا ثابته کړي چې دوی هم د نورې نړۍ په څېر د دیموکراسۍ اصولو ته ژمن دي، خو دوی دغه ماموریت په سپینو جامو، اوږدو ږیرو او پګړیو کې ترسره کوي.

د دغه کم کرایه ماموریو طالب ملېشو یو غړی سراج الدین حقاني تازه یو ځل بیا نړۍ ته د خپلې جګړې مقصد بیانوي او څرګندوي چې د دوی جګړه خو د وطنیت تر رانده بیرغ لاندې جګړه وه او هیڅ کومه شرعي بڼه یې نه درلوده، حقاني وایي: "د دې هیواد لپاره چې په دې تیرو شلو کلونو کې کومې وینې تویې شویې که دا راتولې شي د قوشتیپې کانال به ترې جوړ شي" تاسې وګورئ چې دا د وطنیت لپاره جګړه مار څنګه په سپین سترګۍ په دې اعتراف کوي چې د دوی جګړه د وطنیت لپاره وه، دا یوازې د دې لپاره تر څو نړۍ ته دا ثابته کړي چې د دوی جګړه په وطنیت څرخې او که د دوی په هیواد برید نه وای شوی د دوی یې له کفارو سره څه؟ خو دا چې په وطن راغلل نو بیا خو د نړیوالو اصولو سره سم دوی له خپل وطن نه دفاع وکړه، نور نه دا جګړه جهاد و او نه د الله په لاره کې قتال... اوس چې بیرته یرغلګر زمونږ له هیواده ووتل بیرته زمونږ ورونه، دوستان او ملګري دي.

اوس نو د دوی د دارالفتاء په شمول د دوی مشران ملا هیبت او ملا بیوقوف له افغانستان څخه بهر جهاد حرام بولي او ستانکزی یې د امریکا په شمول د نړۍ په ټولو کفارو دا واجب ګڼي چې دوی سره دوستی راشه ، درشه خپلوی او انډیوالی ته رامخ ته شي .

د دوی جګړه د کابل د ګدۍ لپاره وه او اوس یې چې د کابل ګدۍ ترلاسه کړه نو په همغه لومړۍ ورځ یې ویاند وویل نوره نو د دوی هیچا سره هیڅ دښمني نه شته ، نو په کفارو واجب ده چې دوی سره په دې روانه دوستۍ کې لا زیات اخلاص او صمیمیت څرګند کړي .

او کفار به ولې د ډالرو د کڅوړو خولې نه ورخلاصوي چې طالب ملېشې یې د تېر جمهوریت د ملېشو څخه په ارزانه بیه همغه کټې خوندي کوي لکه هغوی چې ورته ژمن وو، اوس یې نو د اشرف غربي په ځای ملا عبدالکبیر خان دا د امارت برکت ګڼي چې امریکا خوندي او بایډن خوشاله دی .

دوی په دې ډاریږي چې هسې نه کفارو سره دا پخه یارانه یې چرته سر ونه خوري ځکه نو د خپلو کافرو بادارانو له لوري د ځان په اړه د داسې خبرو د اوریدو برداشت نه لري چې په هغې کې دې دوی او کفار سره جلا وشمیرل شي ، که څه هم دوی د کفري ملت یوه عضوه ګرځیدلی، فقط په رسمي شکل دا اعلان د ټولو په همغږۍ د ځینو نورو مصلحتونو او ذهنیت سازۍ په هدف وروسته ، وروسته کیږي نو ځکه په ملیشو د ملګرو ملتونو د یو راپور سره سرګرداني، پریشاني او ساہوبي راځي او له مشره یې تر کشره ټول په دې اندیښنه کې شي چې ګوندې د رسمیت پېژندني لپاره د دوی دا بې دریغه اخلاص او د کفري نړۍ د امنیت د خوندیتابه لپاره دا نه ستړیدونکې هڅې چرته ټولې عبث نه شي؛ نو لګیا دي او د هغوی د یو یو اعتراض سپیناوی یې شروع کړی او په ډېر ادب ورته خپل خدمات مخې ته بږدي چې مونږ خو ستاسې لپاره دا قرباني ورکړې او ستاسې امنیت د خپل سر په بیه ساتو نو تاسې ولې بیا مونږ په رسمیت نه پېژنئ؟!

ملګرو ملتونو ته که د دوی اعلامیې وکتل شي نو تاسې ته به معلومات وشي چې طالب ملیشې له الله عزوجل څخه ډار نه لري بلکې له ملل ملحده بې له ډاره زړه چوي؟

ملګرو ملتونو ته که د دوی اعلامیې وکتل شي نو تاسې ته به معلومات وشي چې طالب ملیشې له الله عزوجل څخه ډار نه لري بلکې له ملل ملحده بې له ډاره زړه چوي؟

تاسې دا اعلامېې تعقیب کړئ نو وبه پوهیږئ چې دوی سره د الله د خفګان ډېره اندیښنه ده او که د ملل ملحده؟

د الله د رضایت ډېر کوښښ کوي او که د ملل ملحده؟ او بیا به په دې پوهه شئ چې دا ملیشې د الله عز وجل په بنده ګۍ خوشالیږي او که نه د رسمیت او چوکۍ په غوښتلو سره د ملګرو ملتونو طاغوت په بنده ګۍ سره؟!

نو هغه به څنګه مؤمن وي چې دعوه د الله د بنده ګۍ کوي او عمل کې بیا

د طاغوت په بنده ګي خوښ او راضي وي.

د دوی رذالت يوازې تر دې کچې نه دی چې بنده ګي د طاغوت کوي او خلکو ته ځان مؤمنان معرفي کوي، بلکې دې د الله دښمنانو د همدغه طواغيتو څخه د الله د دين او د الله له دوستانو سره د دښمنۍ پروژه هم اخيستې ده او د دغه پروژې د کارونو معلومات هم خپلو بادارانو ته وخت په وخت رسوي، تازه د طالب ملېشو د بهرنيو چارو يا د کفارو د امنيت ساتنې د چارو وزير امير خان متقي د خپل کاري ګزارش د بيان په موخه د روسيې کرملين ته تللی، هماغه کرملين چې دوی يې د دوستۍ په تور نږدې درې لسيزې وړاندې ډاکټر نجيب په اريانا څلور لارې کې اعدام کړ، خو دادی نن د هماغه روسيې په دربار کې حاضريدل خپل وياړ ګڼي او د هماغه کمونسټ نجيب په څېر د مؤمن وژنې ماموريت اوس دوی مصلحت، حکمت، سياست او د نړۍ سره د تعامل يوه اړينه لاره بولي، اوس نو لکه څنګه چې په معنوي لحاظ د نړۍ ټولو حربي کفارو سره يو لاس شوي دي لکه څنګه يي چې اوس د نړۍ کفارو سره ګډې ، اهداف ، پلانونه او ارمانونه يو دي ، دغسې نو د نړۍ ټولو حربي کفارو سره داسې په يو کتار کې ودريدل هم اوس خپل وياړ او لاس ته راوړنه بولي .

په دې مانورنو کې له يوه لورې د روسې ، چين ، ايران په شمول د نورو حربي کفارو له لورې د ظلم د ژرندو د پلونو لاندې دل کيدونکي محکوم اسلامي امت ته دا ورپه ګوته کوي چې له موږ ايمان ، غيرت ، مروت او مردانګۍ کډه کړې ، نو بل لورې بيا خپلو همدغه کافرو بادارانو ته دا ورښايي چې لکه څنګه چې کفر او اسلام دوه جلا خېمې دي دادی زه ستاسې په خيمه کې ستاسې په کتار کې پلن ښټ او غټه خيټه ولاړ يم نو زه ستاسې له ډلې يم ، په ما چرته د يو غيرتي مؤمن ګمان ونه کړئ .

د توقع سره سم متقي هلته دغه ټولو بادارانو ته د اسلامي دولت پر ضد د خپلو وروستيو کارکردګيو راپور وړاندې کړ، او په ډېره سپين سترګۍ يې وويل چې دوی د ترهګرو هغه دسيسې شنډې کړې چې غوښتل يې د سيمې او نړۍ هيوادونه نا امنه کړي، هغه جهاد او قتال چې سلګونه آياتونه يې په اړه راغلي دي، اوس طالب ملېشو ته دسيسې ښکاري، د اسلامي امت په لر او بر کې په مظلومو مسلمانانو د کفري نړۍ له لورې ظلمونه د کفري هيوادونو کورنۍ چارې دي خو د اسلامي دولت له لورې بيا د کفري نړۍ د امنيت ګواښل، د کفري نړۍ سره جګړه او د کفري نظامونو له منځه وړل دسيسه او ناوړه عمل دی، اوس الله او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم د کفارو وژل او د هغوی امنيت په ويره بدلول يو شرعي عمل ګڼي او دې لپاره مبارزه پر مسلمانانو واجب بولي خو د طالب مليشو متقي چې په اصل کې د امريکا څخه ويريږي دا کړنه دسيسه بولي او په ډير وياړ سره وايي چې دوی د سيمې د امنيت خرابونې وروستۍ دسيسه په ډير مسلکي ډول شنډه کړه، حال دا چې دغه مليشې اسلامي دولت د کفارو پروژه ګڼي، خو له بل لورې بيا د کفارو امنيت ته ګواښ دسيسه بولي او د کفارو امنيت ساتنه چې په حقيقت کې فساد دی دا مليشې يې جهاد بولي، د دوی ماشومانه او احمقانه څرګندونې لله الحمد ددې لامل شوې چې اوس يې نو په صف کې دننه هم څوک په خوله تريخ پياز نه خوري ،په داسې حال کې چې دوی امريکا سره د اسلامي دولت سره د دښمنۍ شريک محاذ خلاص کړی او همدغې شريکې دښمنۍ د کابل تر ګدۍ ورسول او دادی د امارت په نامه د جمهوريت بديل نظام چې د بېوسۍ ،



ديوسـی ، غلامۍ ، بد اخلاقۍ په شمول په ډول ډول موزي مرضـونو اخته دی او د بيا صـحت لپاره يي د امريکايي ډالري کڅوړو سيروم ورته لګيدلـی اوس يـي هم جاهله افـراد اسـلامي دولت د امريکا پروژه بولي امريکايانو سره د خپلو مشرانو پټې او ښـکاره اسـتخباراتي ناسـتې ، د دواړو لوريو له دوسـتۍ او محبت ډکې څرګندوني هر اړخيزې مرستې ورته نه ښکاري خو امريکا سـره په ټوله نړۍ کې په جګړه ښـکيل اسـلامي دولت ورته د امريکا پروژه ښکاري .

دا بې شـرمه او سـپين سـترګي جاهلان اوس هم په ديني شـعائرو د ځينو خلکو له احسـاساتو ګټه پورته کوي په داسې حال کې چې اسـلامي دولت مجاهدين د نـړۍ په ګوټ ، ګوټ کې د نړۍ ټولو کفارو سـره په جګړه کې ښکيل دي او له دې ډلې په يهودو هم ګذارونه کړي په داسـې حال کې چې يهودو د امارت په څېر د اسلام په نامه راپورته شوې اسلام بدنامونکو ډلو څخه له ځانه دفاعـي ديوالونه جوړ کـړي خو بيا هم وخت په وخت د دولت غازيانو د اقصـې اشغالګران د خپلو تندريزو ګذارونو لاندې نيولي ..

خو بل لورته بیا طالب ملېشې په داسې حال کې په چوکونو کې د خلکود د داسې ذهنیت سازۍ په خاطر چې ګوندي دا د بایډن نوي عسکر د اقصې د ازادۍ ارمان لري په چوکونو کې یې په ښکاره د بیت المقدس سمبولیکي ودانۍ جوړې کړې، خو په پټه یې بیا د همدغه یهودي اشغالګرانو سره مشران په عیاشیو او خرمستیو بوخت دي او د دوی ترمنځ د پټو پلانونو او شومو هدفونو یو نیم راز رسنیز هم شي .

لقاء الأحباب !

صورة من مؤتمر السياحة الدولي في السعودية تجمع كل من :

وزير السياحة #الإسرائيلي.
وزير السياحة #السوري.
وزير السياحة #بحكومة_طالبان.

أتباع طالبان شنو وضعكم ؟

Translate Tweet

عجیبه ده !

د دوی سترګې د کانو دي ، شرم ، خجالت ، غیرت او د حیا په نوم هیڅ ډول ارزښت نه پیژني ، فاحشه مشران یې اسرایلي چارواکو سره په سلفي اخستو بوخت دي خو کشران یې اسلامي دولت د اسرائلو پروژه ګڼي قاتلهم الله أنی یؤفکون.متقي که په کرملین کې کفارو ته د امنیت ساتنې وعدې ورکوي د ملیشو ویاند هم له چا کم نه دی، تازه یې په کندهار کې د ګرځندوی ورځې په مناسبت یوې غونډې ته په وینا کې ویلي: "خدای دې نه کړي چې افغانستان نورو هیوادونو ته سرخوږی جوړ شي او خاوره یې د نورو هیوادونو (کفري نظامونو) پر ضد استعمال شي". دا نو بیا د رافضي ایران او آی ایس آی هغه وفادار دی چې د مخکنیو تولو وفادارو ریکارډ یې مات کړ، دا نو بیا فکر کوي چې اوس خو یې دوی ساتنه کوي هسې نه د دوی د تګ نه وروسته یې د بادارانو امنیت څوک وګواښي له همدې وجې له الله تعالی غواړي چې د دغو کفري نظامونو امنیت خراب نه شي، دا د الله دښمنان اوس دومره جرأت کوي چې له رب العالمین څخه د کفري نظامونو بقا او پایښت غواړي، خو ژر ده چې الله عز وجل دوی او د دوی بادارن لکه د ابوجهل او ابولهب په خیر هلاک کړي او د ځمکې مخ تري صفا کړي.فکر کوي د افغانستان خاوره د دوی د پلار ده د بل چا کوم حق په کې نه شته ، دوی یې بس امریکا مالکان ګرځولي دي ، نو دوی یې که د نړۍ د حربي کفارو د امن ساتونکو د روزونکو په هډه بدلوي او که د بهرنیو سیلانیانو د عیاشۍ او فحاشې په میله ځایونو یې بدلوي نو دوی ازاد (!) دي د چا ورسره کار نه شته .ځکه یې نو د همدې اهدافو لپاره د ګرځندوی چارواکي د اسرایلو سره هم په اړیکو او دوستۍ نه شرمیږي .

د قهار ذات قهر ته دعوت روان دی

باميان بند امير کې بيخي اروپايي حالات دي
د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت که دغه ځای
کې خپل مسؤلیت ادا نکړي
نو د رب العزت قهر ته منتظر ووسئ
نجونې په نازکو جامو کې د لوفرانو تر مخ د اوبو
شرشرې ته لامبي
حال د جمعې د ورځ ویدیو کې
دا وړه نمونه ده

0:18

62 57 185 22.2K

په داسې حال کې چې د نړۍ د ټولو حربي کفارو سره یې دوستي مثالي ده ، د الله عزوجل حدود یې ځنډولي ، د رافضي مشرکینو په شمول یې د

نړۍ ټولو مشـــــرکانو ته د هر ډول شرکي مراســمو د نمانځنې اجازه ده ، اخلاقي مفاســـد په اوج کې دي او عدالت يې دادی چې د همدې اخلاقي مفاسدو په مردارو ډنډونو کې غوټې وهونکي چاواکي يې له هرې ســـزا څخه مستثنې دي ، خو په بې وزلو د شريعت په نامه د دوی خود ســاخته ســـزاوې تطبيقيږي ، د دې او نورو لســګونو اسلام ماتونکو نواقضــو په درلودو طالب مشران هڅه کوي چې کله ځوک مســـجد ته دعوت کړي او کله بــې بيا په لارو کـــې د ډېـــرې پرېښودو او نه پرېښودو په مسائلو د خلکو ســره جنجال وي او کله نو بيا د حجاب مسله په داسې حال کې مخ ته وړي چـــې له يوه لوري خپله د نامحرمه ښـــځو ســـره ارتې تنې مجلســـونه او بنډارونه کوي خو بل لور ته په ښــځو د حجاب او پرته له نامحرمه ســفر د ټينګار په شــمول د ځينو تمثلي کړنو په ترســـره کولو خلکو ته دا ذهنيت سازي کوي چې د پراخه کفري کــړونو باوجود هغه دی په دې يو څو سمبوليکو کړنو د دوی نظام اســلامي نظام دی .حال دا چې په دې برخه کې يې هم د غــرب لنده غړې له دې فرامينو څخه مسثنې دي .ځکه دوی خپلې باداري اي ايس اي داسې روزلي چې د دوه مخه په ځاې بايد لس مخه ولري ، يو مخ به يــي د

شریعت په پوهړو پوښلي او اولس ته ښودلي وي خو بل مخ بيا خپلو غربي بادارانو ته داسې ښايي چې دوی خو د ښـــځو اذادی ته ژمن دي دادی د دوی خوبندي مســــــــــلمان نما جاسوسانو سره د شريکو عکســونو او مجلسونو اجازه لري .

او دادي د لندن د نايټ کلـپونو لـنده غړې که دلته خورې زلفــې ډرايورې کوي که پارکونو ته چکرې وهي باک نه لري دوی بــې خور ګڼــي او ورته هرکلی وآيي .

هو !

دوی له اسلام څخه چاره جوړه کړې ده ، خپله پرې منې ســــــپينوي او خوري يـــي او نورو ته يـــي په خيټو منډي، دوی که هـــر څه کوي هغه به حلال وي ، ځکه چې اســـلام دوی د خپلو خواهشـــاتو تابع کړی ، اسلامي

احکام د خپلو غوښتنو په اساس تحریفوي او فکر کوي چې دوی که هر کفر کوي نو دوی نه کافر کیږي ځکه د دوی پټکي په سر دي او ږیرې یې په مخ دي ځکه نو دوی کفر پروف دي کفر نه ورداخلیږي . دې مداریانو او اسلام بدنامونکو اخوندانو لکه څنګه چې په حجاب رشخند وواهه داسې یې د اسلام ټول احکام رشخند کړل .

دوی دې د نامحرمه ښځو سره مجلسونه کوي خو په نورو ه بندیز وي .دوی دې د حجاب په نامه یوه ډله ښځې په کوتکونو وهي خو بله ډله ښځې دې بیا لوڅ مخ د دوی د لونډانو سره سلفي وباسي .دوی دې یو شمیر ښځې د حجاب نه مراعتولو په تور زنداني کوي خو ځینو نورو ته بیا دا امتیاز حاصل دی چې خورې زلفې او لوڅ مخ ډارئیورې وکړي او دوی ورته هرکلی ووایي .دوی دې په افغانستان کې د خلکو د ذهنیت سازۍ لپاره حجاب مخ مخ ته کوي خو بیا دې د چین په لوبغالو او نایټ کلیپونو کې سره له ږیرو او پټکیو نیمه بربنډو انجونو سره اتڼونه کوي .افسوس ! طالب ملېشو ته ټول خلک د ځان په څېر احمقان ښکاري ، فکر کوي چې د دوی چاپلوسان او ټالي حتې دوی ته دا کاذب ډاډ ورکوي چې تاسې خو فاتحین او د شریعت تطبیقونکي مبارزین یاست ، نو په دې سره دوی پټکي کاږه کړي او دا ګمام لري چې د دوی په اړه به ګوندې ټول خلک همدا فکر لري خو خبر نه دي چې اوس یې نو دا جعلي شعارونه او د ماشومانو ایکټونه ټولې دنیا پیژندلي. یوازې د طالب ملیشو مشران په دې ناروغۍ نه دي اخته چې شپه او ورځ د کفري نړۍ د رضایت لپاره هلې ځلې کوي، بلکې په دې ناروغۍ کې ورسره کشر خیل هم شریک دي، تاسې به لیدلي چې په وروستیو کې کابل ته د چین د ملحد سفیر د راتګ پرمهال یې همدا کشرخیل څومره ذلیله لاس په نامه ورته ولاړ و او د الله عز وجل او د میلیونونو ایغوري مؤمنانو د دښمن راتګ یې زیرۍ باله او د خوښۍ جشنونه یې په ټولنیزه میډیا او اداراتو کې کول، حال دا چې

مسلمان باید د کفر په ښکته کیدو، هغوی سره په قتال، د هغوی په وژلواو د هغوی له لاسه په وژل کیدو خوشاله شي او یو بل ته زیري ورکړي؛ خو طالب ملیشې د کفر په سرلوړۍ، هغوی ته لاس په نامه
ودریدو او په کابل کې د جاسوسۍ د یوې ځالې په خلاصیدو یو بل ته زیري ورکوي، په دې کار سره الله تعالی د ملیشو نور خباثت هم ښکاره کړ، ځکه مؤمنان د الله سره په کړې سودا چې د الله په لاره کې قتال دی خوشاله دي او طالب ملیشې بیا د کفر سره په کړې سودا چې دوستي او موالات دی خوشاله دي، نو هغوی بریالي دي چې د رب سره یې سودا وکړه او هغوی ذلیله، رسوا او شرمنده دي چې د کفر سره یې سودا وکړه.

نن که په یوه دریځ سراج حقاني د وطنیت شعارونه زمزمه کوي، په بل دریځ بیا ذبیح الله مجاهد په جوش او جزبې سره د ګاونډیو هیوادونو د امنیت ساتنې شعارونه په تکبیرونو بدرګه کوي، له بل لوري یې کشرخیل خپل مشران حربي کفارو چینآیي ملحدینو ته لاس په نامه ودریدل هم ویاړ ګڼي او په دې تاریخي شرم او ردت په زیري ورکولو کې له یو بل سره سیالي کوي، او بل لور ته یې بیا سرلارۍ اجیر متقي د روسیې په کرملین کې په متکبرانه انداز د کفارو د امنیت ګواښل شومه دسیسه بولي، دا ټول د طالب ملیشو د هغه سیستماتیک انحراف پوړۍ دي چې دوی پرې قدم په قدم ښکته روان دي، تردې چې ژر به د اصفهان د یهودو سره یوځای د دجال د لښکر لارویان شي.

کلک شئ ای د وخت
رجالو!
(تحریضي رساله)

کلک شـــئ اې د وخت رجالو .ای د اسلامي خلافت زړورو مجاهدینو!ای د فـتـنو د طوفانونو او تـندرونو په وړاندې نه نـړیدونکو غـرونو!ای د مرتدینو، منافقینو،کفارو ،مشریکینو او د الله ﷻ دټولو دښـــــمنانو په زړونو کې د ویـرې او ډار نومونو او سببونو.

ای د الله ﷻ او محمد العـربـی ﷺ سپاهیانو!

الله عزوجل مو همداسـې صـابره ، باثباته، باعزمه او معزز لره .

تاسې د ازماېښـــتونو او کړاونو له ســـختو پړاونو تېرېږئ ، دا همغه مهال دی چې ســـتاســې ایمان، زړورتیا ،ایثار او سربښندنه د امتحان لاندې دهنن ورځ کفـر ټولــې پیاده ،سپرې، هوایي ،سمندري او د ځمکې لښکرې،روافض ،مشـرکین،طواغیت او ورســـــره په څنګ کې د کفر په پیسـو پالل شوي ډېرور او بې ډېرې مرتدین هم ملګري شوي.

خپل ټول توان، طاقت ، پیسـه، فکر ، کینه ،شیطانت،وسـوسـې، دامونه او په خوږو کې زهـر، په نوم خواږه په حقیقت کـې وژونکـې تـراخه ، او دبشر پالنې په نوم د بشر لوټنې نرم دریځ او ډول ډول فتنـې یـې په کار اچولې تر څو د نړۍ څخه د اسـلام روڼ تصویر محوه او یا بدنام کړي.

خو إن شـاء الله باذن الله دې ارمان ته به ونه رسیږي، ځکه چې د کفر د ســمندر یاغي څپو ته د اســـلامي خلافت د مجاهدینو فولادي کمر ولاړ دی.

مجاهدینو ورونو...!

د کفارو او د هغوي مـرتدو غلامانو شمیر ته مه ګورئ بلکې د خپل هدف دنګ منار ته ځیر شئ خپل هدف ته د ورتګ لپاره د کفر لښکرې د پښـو لاندې پایمال کړئ.

باید د کفارو او د هغوې مـــــرتدو غلامانو سره مقابلې لپاره سـپاره او پیاده روان شو او دغه د ابلیس رزیل دوســـتان او مزدوران په خپلو پنجو کې را ونیسـو او په وینو یې نهرونه او له هډوکو یې دښـتې ډکې کړو تر هغې ورسـره وجنګیږو تر څو یې یا روحونه له بدنونو او یا د غـــــرور ســــرونه یې له تاجونو څخه را وباسؤو.

ورځې وربانديې تورې شپې او شـپې وربانديې نورې هم تیارې کړو.

مجاهدینو ورونو...!

د کفر او الحاد لښـــکرې به ضرور شکسـت خوري ځکه چې اخر انجام د متقیانو دی او الحَمْدُ لله تاســـې متقیان یاست إن شاء الله.

د کفر لښـــکرې ړنګیدونکې او شا اړونکې دي، عـزمونه یـې پـریوتـې ،حوصلې یې ماتې دي او همتونه یې بایللي دي إن شــاء الله.تاریخ په دې ګواه دی چې مسـلمانانو کفارو او د کفر لښـــکرو ته د بدن او وسلې په طاقت نه ، بلکـــــې د ایمان په قوت ماتې ورکړې ده.تاسې د هغه غزواتو ننداره وکــړئ کومو کــې چــې د مسلمانانو شمیر لږ خو د کافرو او د شیطان د لښکرو شمیر زیات دی.

خو بیا هم چـــــې کله به کفارو د مسلمانو لښـکرو ثبات او استقامت ولیدو نو بیا به یې په شا منډې کړې خپل زخمونه به یـــــې څټل او د افســوسونو داسې تراخه ګوټونه به یې کول چې بیا به یې د مســلمانانو لښـــــکرو سره د مخ کیدلو تاب نه درلود.

مجاهدینو وروڼو!هغه غزوات درته په ګوته کوم چې لږو کسانو په ډېرو برې موندلی او بیا به یې هم مومـې ان شـــاء الله .ځکه چې الله ﷻ په خپل کتاب کې فرمایي:

ژباړه:ډیر کـرت وړه ډله په لویه ډله کامیابه کیږي.

د بدر تاریخ سازه غزا چې د الله ﷻ ۳۱۳مـــــــتورو غازیانو په لاس ۱۰۰۰مشـــرکینو ته د عبرت نه ډکه ماته.

د موته غـزا چــې قائد یــې زید بن حارثه رضـی الله تعالی عنه وو چې د ۳۰۰۰مجاهدینو په لاس یـــې دوه لکه ۲۰۰۰۰۰غســـاسنه رومیان تس نس کړل.

د یرموک غزا چې رهبر یـې خالد بن ولید رضـی الله تعاله عنه/ابو عبیده بن جراح رضي الله تعاله عنه وو، په خپلو ۳۶-۴۰زره مجاهدینو په مټ یې دوه لکه او څلویښــــــت زره ۲۴۰۰۰۰بزنطیني رومیانو ته عبرت ناکه ماته ورکړې وه.

د قادسـیې په غزا کې سـعد بن ابی وقاص رضـی الله تعاله عنه په خپلو ۳۰۰۰۰ســرښــــندویانو د الله په مرسـته د فارسـي مجوسـیانو دوه لکه۲۰۰۰۰۰لښـکر د پښـو لاندې غوبل کړی وؤ.

د نهاوند،وادی لکة، ملازکـرد، زلاقه، حطین، دودونیه او داسـې نوري غزا ګانې چې لرو مســـلمانانو په ډیرو کارو برې موندلی.

همدا شان د معاصر خلافت تاریخي جنګونه او معرکې چې تیر تاریخ یې په خپلو میړانو شاته پرېښــــود او خپلې تاریخي کارنامې چـې د هـر ولایت په هغې بې په لســـــګونو جلدونو کتابونه لیکل کیـږي چـې د اســــلام زرین تاریخ به ورباندې وویاړي او اینده نســــلونه به یې د سرښـندنو سـتاینې ، د ځان لپاره د ډلارې مشـــــالونه کړي إن شاء الله.

خو موږ صـرف د عراق د موصـــل یادونه کوو چـې په ۹۰۰۰مجاهدینو باندې د کفارو، مـــــرتدینو، صحواتو،روافضـو،ډلو ټپلو او د الله ﷻ دری نیم لکه ۳۵۰۰۰۰دښمنانو ځمکنۍ حمله وکړه په داســـې حال کې چې د کفارو په خپله وینا په یوه میاشـــــت کې ۳۵۰۰۰ توغندي یې پر داعش توغولـــې خو ددغه میـــړنیو ځلمو د ثبات او صــــبر په وړاندې کفار ذلیله شول.

دغو زمریانو پوره نهه میاشـــــتې د دغې محاصرې سره مقابله وکړه خو تسلیم نشول.

د ولـږو،تندو، زخمونو، کــړاونو، تکلیفونو،اقتصـــــادي او د امنتي مشـــــکلاتو پروا یې ونکړه او خپل ورسپارل شوي سنګرونه یې تر هغې وسـاتل چې کله په تن کې سـاه وه ، تر هغې یي د خلافت پاکـې خاورې ته په خپل ژوند کـې د کفارو نجس قدمونه ورداخلـــیدل ونه زغمل او د الله ﷻ لقا ته په داسې حال کې لاړل چې پیغور یې شاته پرینښود او جګ سر او لوړې سـترګې خپل هغه عهد چې د الله ﷻ سره یې کړی وو پوره کړ.

تقبلهم الله جمیعاورونو!همدغســـې سرښندنو او ایثار ته ضرورت دی.

کفار که هر څومره ډیر او یو موټـې ښــــکاري، خو په حقیقت کې ډیر کم،ډارن، کم عقل او زړونه یــې جلا جلا دي.

لږ صبر او بیا ورپســـې د فتحو او تمکین خواږه دي إن شاء الله.

ورونو زموږ او ستاسې جګړه د کوم هیواد او قوم سـره نه ده بلکې زموږ جګړه د ټولو هغه سرکشــــــــانو، ظالمانو، جابرانو او د الله ﷻ د هغو ټولو دښمنانو په ضـد ده چې د الله ﷻ په ځمکه کې فساد خپروي.

ورونو موږ او تاسې د واک، حکومت، شـــهرت او ځان ښــودنې لپاره نه، بلکـې د الله تعالـی د نظام قایمولو لپاره جنګیږو چـې دنیا کـې امن او سوکالي راشي.

ځکه چې موږ او تاسې د خپل ځان سلامتی سربیره د ټولو انســــانانو ســـلامتي غواړو او په ځمکه کې د سلامتی او امن لار اسلام او اسلامي نظام دی.

دغســـې فکر درلودل چې ټول امت مسـلمه یو موټې شي او د نړۍ څخه د غلام او بادار، تور او سـپین عربي او عجمي توپیر ختم شــــې مګر په تقوا فیصلې کیږي.

زموږ هدف د دې دین بـــــــری او برلاسی دی د دې هدف لپاره مرګ او ژوند لویه نیکمرغي ده.

د همدې مقصـــد لپاره د انبیاو علیه الســـلام ،صحابه کرامو رضوان الله اجمعین، تابیعینو،تـبه تابـیعـینو ، امامانو، علماو، مجاهدینو تر اوســه پورې خپلـې وینـې او هډونه نذرانه کړې چې دا لړۍ لا روانه ده.

د معاصر خلافت مشرانو چې د لسو

کلونو په اوږدو کې شهيدان شوي او دا دين يې له خپل سنګره شاته نه دی راپريښي.
لکه هر يو:اســــامه ابن لادن،ابو مصـعب زرقاوي، ابو عمر البغدادي، ابو حمزه المهاجر،ابو بکر البغدادي، ابو ابراهيم الهاشمي ،ابو الحســـــن المهاجــر،ابو محمد العدنانـــي،ابو حمزه القريشــــــي، ابو الحســـــن القريشي، عمر الشيشاني، ابو زيد او په ولايتونو کــې د جنګ اميــران، واليان، قاضــــيان او نورو اړوندو اداړو اميران په ســلګونو شـــهيدان شـــوي او خپلي وعدي يې د الله ﷻ سره پوره کړي.
او د کشرانو مجاهدينو خو شمار نه دی معلوم چــې څومــره دي؟ای د اسلامي خلافت شاځلميانو!
تاسې بايد په خپل نصـــيب وویاړی چې تاســې الله عزوجل د خپل دين، خپل قانون، خپل نظام د اشـــاعت ، ساتلو او په ټوله دنيا باندې د پورته کولو لپاره غوره کړي ياســـــــت الحَمْدُ لله.
په خپلو کمو امکاناتو، تجهيـــزاتو، افرادو او وسايلو کمښـــــت ته خفه نشئ.
هغه وخت ياد کړئ چې الله ﷻ خپل ۳۱۳ کمـــزوري او د کمو افـــرادو اسلحو او امکاناتو درلودنکي ډله يې په غوره او سنبال لښـــــکر باندې بريالی کړه.
ورونو موږ او تاســـــې هم د همغه بدری لښکرو د منهج دعوی کړې.
همغه رب اوس هم شتههمغه فکر او تګلاره چــې بدري غازيان ورباندې روان وو موږ او تاسې هم پرې روان يو نو حتماً به غالبيږو ان شاء الله
ځکه چې موږ د همغه ذات د کلمې د لوړوالي لپاره کوششـــونه کوؤ کوم ذات لپاره چې بدري لښکرو کوشش کړی.
همغه نظام لپاره موږ او تاســې هم جنګيږو کوم نظام لپاره چــې بدري لښکر جنګيدلی.لکه څنګه چې همغه کمزورې او ضـعيفه ډله يې په قوي او په غوره وســلو او جنګي ســامات آلاتو سنبال لښکر باندې بريالی کړه همداسې به موږ او تاسې هم بريالي کوي إن شاء الله.په قادسـيه ،يرموک او اجنادين کې د حق د يوې توري په وړاندې د باطل لس او کله له لســـو ډيرې توري راوتلي وې، خو بيا هم د حق د تورو په وړاندې به له مايوسی ماتې، کړېږ او پټې شوې.
نن هم ستاســې د حق يوې توري په وړاندې د دوه ســوو۲۰۰څخه زياتي توري راوتلي، خو تاســــــې د الله عزوجل په مرسته په خپلو مظبوطو ارادو د کفر بی شـميره توري ماتې کړي او کړې کړي دي .
نن کفري دنيا ســتاســې د صـبر او ثبات په وړاندې په ګونډو شوې.
تاســې د کفارو هغه ځای ژوبل کړی چې کفر ته ډېر درد رسوي.
زما قهرمانانو وروڼو ...!
الله تعالی به مو نوره هم مرســـــته کوي کله چې موږ خپل مسـؤليت ته په وفاداری کار وکړو خپل مسـؤليت په غوره توګه ترســـره کړو نو د الله تعالی مرسته يقيني ده.
ځکه د الله عزوجل فيصـــــــــلي نه ماتيدونکي دي او نه بدليدونکي دي.
الله عــزوجل د رحمت لاس د هغه چا په لور غځيږي چې د غشــو په باران کې د اسلام ابادی او ساتنې ته سينه ډال کړي.
د قدرت نعمتونه د هغه چا لپاره دي چـــې د تاريخ هـــره پاڼه په خپلو مبارکو وينو وليکـــــي، د ازادی او اســـلامي نظام نيالګي په خپلو وينو خړوب کړي .
مجاهدينو ورورڼو...!
چا چې د الله ﷻ د دين نصـــــرت پريښود نو قران ګواه دی چې زندګي يــې ارامه نه ده.خپل ژوند ورباندې ګران شـــوی تاســـې وګورئ بنی اسرايل څه ډول امت و ، خو چې کله يې جهاد پريښود او د دين ساتل يې الله ﷻ او د هغه پيغمبر موسی عليه السلام ته پريښود، نو ذليله شول چې اوس د ځمکې په يوه حصه کې هم د ارام ځای نه لري.

الله ﷻ دې داسې ورځ نه راولي چې زمونږ او ستاسې د ژوند د کتاب څخه د جهاد بابونه ختم شي.
اللهم آمین یاربزما زړورو وروڼو...!
نن ورځ زمونږ او ستاسې لپاره د ازمېښت ورځ ده.
اوس وخت کې موږ د بدر او حنین سنت راژوندي کوؤ د قادسیې او یرموک د شهیدانو په پلونو مو پلونه ایښي.
هغه تولی چې رب العالمین د ځمکې نقشې د تغیر لپاره پیدا کړی په یقین سره وایم هغه تاسې یاست.
د حق د تورو په وړاندې به د اوسنیو طواغیتو او مرتدینو توري د قیصر او کسرا له تورو څخه تیرې نه وي.
د قیصر او کسرا توري چې د حق د تورو په وړاندې ماتې ، کړېږ او له لاسونو پرېوتې ، نو اوس هم د سپینې ماڼۍ، کرملین، لندن، تهران ،چین او په مجموع کې د ټولې کفري نړۍ په لاسونو کې دا توري به هم د همغې په څېر کړېږي ، ماتیږي او د دوی له لاسونو سره یوځای به په ځمکه غورځیږي ان شاء الله ..
مېړنیو وروڼو!
اوس وخت کې زمونږ او ستاسې دا خونړۍ جګړه د هغه چا سره ده چې دا دنیا یې د ظلم او وحشت څخه ډکه کړې او په دې یقین ولرئ چې ظالمان زړور نه وي بلکې ډارن، بزدله،سپک او بې زړه وي.
قدرمنو وروڼو...!
دا کفار او مرتدین په خپلو فولادي پنجو کې را نیول غواړي او داسې سزا ګاڼي ورکول غواړي، چې بیا په نړۍ کې د ظلم خپریدو جرأت ونه کړي او د تل لپاره مغلوب شي.
د دې مرتدینو او منافقینو سره د مخکیدلو په صورت کې یې داسې ټوټه ټوټه کړئ چې د پاتې کفارو زړونه په خولو راوځي.
خو وروړنو د کفر د ازغیو د لرې کولو په وخت کې ډیر پام کوئ چې کوم ګل د پښو لاندې نه کړئ.
د انتقام په بریدونو کې پام کوئ چې ظلم درنه ونشي نور د کفر او ردت بچو سره داسې معامله وکړئ چې الله ﷻ ته مو غاړه خلاصه وي.په لویدلي دښمن لاس مه پورته کوئپه سپین ږیرو،زنانه و او ماشومانو باندې لاس مه پورته کوئ.
وروڼو پام کوئ چې د اسلامي امت د انتقام جذبه مو ظلم ته اماده نه کړي.
د الله ﷻ په قانون کې د توبه کونکو لپاره هر وخت د رحم ځای شته.
دښمن مات او مرعوب کړئ او دا ورته وښایاست چې زمونږ غیرت د الله تعالی لپاره دی او زمونږ توري د الله ﷻ توري دي خو چې کله یې ماته وخوړه او ضرور به یې خوري او خپله ماته یې ومنله او پنا یې وغوښته نو بیا ورته غیږ خلاصه کړئ او ورته ووایاست د الله ﷻ د رحمت دروازې د هیچا پر مخ نه دي تړلي.
ای د اسلامي خلافت اتلانو ..!
تاسې پوهیږئ چې د اسلام په تاریخ کې هیڅوک هیچا دومره نه دې زورولي لکه د مکې کفارو چې محمد رسول الله ﷺ زورولي.
د ظلم په کڅوړو کې داسې غشې نه وو چې په نبی علیه السلام او وفاداره ملګرو نه وو ازمویل شوی.
د هغه رحمة للعالمین پیغمبر په وړاندې به د هغه ملګرو په سینو تاوده کاڼي ایښودل.
په ځمکو راښکل کیدل د ظلم په ژرنده دل کیدل تردې چې د همغه مشفق نبي مدینې ته هجرت وکړو خو مشرکینو هلته هم په ارام پرینښود او د مدینې په جګړو کې ډیر قیمتې ملګري یې ورته شهیدان کړل خو د مکې د فتحې څخه وروسته چې د مکې خلکو سره همغه پیغمبر چې مشرکینو ته به یې ویل زه ستاسې د ذبح کولو لپاره راغلې یم کوم چلند وکړو په تاریخ کې سارې نه لري.
د همدغه سلوک له وجې د نبي علیه السلام بدترینه دښمنان په خوږو دوستانو بدل شول چې د اسلام لپاره یې بیا نه هیریدونکي خدمتونه کړي دي.

همداسې به بيا هم کيږي او موږ به هم په کامله توګه هغه تګلاره په خپل دوست او دښمن عملي کوؤ د کومې تګلارې دعوه چې مو کړې چې هغه په نبوی تګلاره روان خلافت دی.

مجاهدينو ورورنو...!

د لارويانو کمښت ته بايداندېښنه ونکړو ځکه چې الله ﷻ په خپل کتاب کې بار بار ويلی اکثر خلک نه پوهيږي اکثر خلک کم عقل دی اکثر د خلکو نه ايمان نه راوړي او داسې نور ارشادات چې قران الکريم په واضحو ايتونو او دلايلو باندې د ډيرو خلکو ته ښه نه دي ويلي.

مجاهدينو ورورنو د حق لارويان ډير کم وي خو همدغه کم ټولي ته الله عزوجل دومره ځواک ورکړی چې د باطل لښکرې وربانديې ويروي او وهي يې.

مجاهدينو ورونو هر يو خپلې علاقه کې ځير شئ چې څومره خلک د حق او څومره د باطل ملاتړي دي.

ځينې داسې علاقې شته چې هلته د حق يو لاروی هم نه وي او يا که وي يو نفر دوه به وي.

خو بيا يې رعب وګورئ چې د باطل پرستو ملتونو په زړونو دمرګ د سيورې په څېر خواره دي .

په هيڅ ځای کې به نه يې خو د خلافت اتله ستا رعب او ستا د غيرت ، اخلا ص، ميراني ، صداقت او سپيڅلتيا کيسې هر يو کور ته رسيدلي، ته که په خپل مرکز کې ارامه ويده يې نو ستا دښمن ستا له ويرې خوب نشي کولی.

ته د غريبۍ له وجې نهر ګرځيږې، خو ستا دښمنانان بيا ستا له ويرې له رنګا رنګ خوراکونو څخه خوند نشي اخستلې.

ته د باطل په سترګو کې ازغی يې په خوبونو کې ويرونکې خوب يې ، او په ويښه يې نارامونکې يې ، نو بيا ګلابه د څه شي کمی لرې؟

ته خو د ځمکې په سر د الله هغه سپاهي يې چې د دنيا ټول جاه او جلال دې د پښو لاندې کړی. اصلی حکومت خو ستا دی، چې ستا له وجې مؤمنان ارامه او کافران نا ارامه دي.

ستا له وجې مؤمنان هيله من او کافران ناهيلي شوي.

ستا له وجې مؤمنان خپل راتلونکې رڼا او کافران خپل راتلونکې تياره ويني.

ستا له وجې مؤمنان ستاسې راتګ ته انتظار او د راتلو دعاګانې غواړي او کافران ستاسې د راتګ او ستاسې د راتلو څخه پناه ګانې غواړي.

مؤمن ولسونه غواړي چې په ستا راتلو سره خپل ژوند رنګين او روڼ ووينې او کافر ولسونه او ملتونه ستاسې راتلو سره خپل ژوند تياره او ازغن وينې.

مبارک مو شه زمريانو همداسې د غيرت زندګي، ستاسې په حال باندې نن خلک غبطه کوي غواړي ستاسې په شان شي.

مجاهدينو ورورنو ...!

موږ او تاسې بايد د خپل نظام اسلام د يام او با لپاره د اسلامي خلافت په هره اداره کې چې په کار بوخت يو د خپلې وسې څخه هم پورته کار وکړو ،ځکه چې کفارو د همدې ګوتو په شمار مجاهدينو او ټولې د ختمولو لپاره د خپې يوې هڅې څخه هم دريغ نه دی کړی او نه به يې وکړي.

او ولې به يې وکړي چې همدې د خلافت غرباؤ مجاهدينو د هغوی ټول ارمانونه د پښو لاندې غوبل کړل.

مجاهدينو ورونو تاسې به د قاسم سليماني مشرک مجوسی رافضي وينا اوريدلې وي چې ويل به يې :

موږ د داعش څخه د قادسيې او نهاوند د جګړو غچ اخلو.

وګورئ قادسيې او نهاوند غزاګانې څه وخت تيرې شوې او غچ يې د چا څخه اخلې؟

همدغه مشرک شيعه ګان پوهيږې چې د فاتحينو صحابه و اصلي بچيان همدا تاسې د اسلامي خلافت غوره زمريان او اتلان ياست.

په خپلو نصيبونو وويارئ چې د

مشریکینو لمسي او بچي د صحابه وو په لاس د خپلو ذلیله شویو نیکونو غچ له تاسي اخلي.

کله چې رب العالمین سره مخ شوئ بیشکه چې جنت ته مو داخلویان شاء الله ځکه چې د صحابه کرامو څخه الله عزوجل راضي وو او د همدغه غوره خلکو په غچ کې چې کفار په تاسي داسي راټول شوي نو پوه شئ چې تاسي د همدغه غوره خلکو د اعراضو،کوششونو او لاسته راوړنو د حفاظت ساتونکي یاست.

او د صحابه کرامو د عزتونو او ناموسونو ساتونکي نه د امریکې پروژه کیدایشي او نه هم خوارج او تکفیریان.

ځکه چې د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

چې د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په شان ایمانونه راوړئ.

همدغه د ایمانونو نمونې دي.همدغه د هدایت سنبولونه دي.

تاسي هم د هغوي په ایمانونو او هدایت پسې روان یاست ځکه د خپلو مجوسیانو کافرو نیکونو غچ له تاسي اخلي، په همدې کار او نصیب باندې افتخار او د الله تعالی حمدونه ووایاست.

- د الله تعالی شکر ادا کړئ او د الله تعالی شکر دادی چې د همدې مشریکینو د نجسو وینو په بهولو ځانونه الله تعالی ته نیږدې کړئ.

په خپلو مبارکو عملیاتو یې یو ځل بیا د قادسیې او نهاوند غزاګانو یادونه ورتازه کړئ چې بیا په پیریو وروسته یې کړوسیان د ستاسو لارویانو ته د غچ اخستو خبرې وکړي، لکه څنګه چې د صحابه و په لاس د مردار شویو نیکونو لمسي یې تاسي ته د غچ اخستو ګوت څنډنې کوي .

مجاهدینو ورونو اوس وخت إن شاء الله تاسي ټول مرابطین یاست او د مرابطینو په اجر به إن شاء الله ټول خبریاست خو بیاهم د فضیلت په توګه به یو څو روایت ذکر کړو.

- مسلم د ابو هریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړی
- چې رسول الله ﷺ وفرمایل:د ټولو خلکو نه د هغه سړي ژوند ښه دی چې د الله ﷻ په لاره کي یې د آس واګي په لاس کې نیولې د الوتلو لپاره چمتو ولاړ وي هر کله چې د دښمن د راتلو یا دخطر خبر اوري نو فوراً د خپل آس په شا سوریږي او د حملې لپاره الوځي او مرګ د مرګ په ځایونو کې لټوي... (رواه المسلم:۱۸۸۹).
- ابن مبارک د عبدالله بن حارث رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړی چې هغه ویلې دي چې هغه سړي ته خوشحالي ده چې د الله تعالی په لار کې د خپل اس سره شپه سبا کوي سبا نارې د ډوډۍ په یوې وچې ټکړې او یخو اوبو سره وکړي.
- ابو هریرة رضی الله تعالی عنه فرمایلي چې د دریاب په غاړه د مسلمانانو د ښځو د حفاظت لپاره یوه شپه پیره کول زما لپاره د دې څخه غوره ده چې په مسجد حرام یا مسجد نبوي کې لیلة القدر ومومو او درې ورځې پیره له یوه کال څخه غوره ده پوره پیره داري ځلوېښت ورځې ده.مصنف عبد الرزاق(۵/ ۲۸۱).
- بخاری له ابو هریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل هلاک دې شي د دینار او درهم بنده،هلاک دې شي د ګلدار ځادر حریص که هغه ته څه ورکړل شي نو هغه خوشحاله کیږي او که ورنکړل شي نو خفه کیږي او هغه دې د سر په تالاق وغورځیږي او چې کله یې په پښو کې اغزی لاړ شي نو هغه دې را ونه ووځي او د هغه بنده لپاره د جنت زیری دی چې

د الله تعالی په لار کې يې د اس
جلب نيولی وي د سر ويښتان
يــې د دوړو څخه ډک وي که هغه د
حفاظت په ټولـــې کـــې
واخيســتلی شي نو په هغه کې
وي او که د لښـکر په اخر کې
وي(يعني د جهاد په هر ميدان
کې وظيفه په ډيره ښـــه توګه
ســر ته رســـوي)که اجازه
وغواړي څوک اجازه نه ورکوي
او که هغه سپارښـت وکړي نو
سـپارښـت يې څوک نه قبلوي
يعني په ښــــکاره ورته څوک
اهمـيت نه ورکوي خو د الله
تعالی سـره د هغه مرتبه ډيره
اوچــــــــــــــــته ده.
(رواه الـــــــبخاري:۲۸۸۷).

- عمر رضـــــی الله تعالی عنه فـرمايـي:که چيـری زه د الله تعالـی په لار کـې د ويـرې په حالت کـې پيـره وکـړم دا ماته دسلو سـورليو د صـدقه کولو څخه غوره ده.

مجاهدينو ورونو يوه شـــــپه د الله تعالـی په لار کـې پيـره کول د الله تعالـی ته د نـږدې کيدلو لويه ذريعه او اوچت عــــبادت دی او دا د رباط بهترينه نوعه ده ځکه د هر هغه ځای ساتونکي ته چې هلته مســـلمانان د دښمن د حملې څخه ويريږي هغې ته مرابط ويل کيږي.

مجاهدينو ورونو...!

تاســـې ياســـت چې د مؤمنانو او مؤمناتو ساتنه کوئتاسې ياسـت چې هر يو غدار چې مؤمنو زنانه ؤ ته په بده سترګه ګوري په دار راوځړاوه.

همدا تاسـې مرابطين ياسـت چې د اسلام د حدودو، نواميسو، اعراضو او اهدافو ساتنه د خپل سـر او ژوند په بيه کوئ.

مجاهدينو ورونو تاسـې ياسـت چې شپې په پيره او ورځ مو په زحمتونو کې تيريږي.د دې لپاره چـې دا امت سر لوړی او په ځان بسيه شي.

ســـتاســـې په هکله د الله نبي ﷺ فرمايي :دوه سترګې دي چې د جهنم اور يې نشــــې سوځولی يوه هغه ســـترګه چې د الله ﷻ له ويرې يې ژړلي وي او بله هغه ســـترګه چې د الله ﷻ په لاره کـې د پيـرې لپاره ويښه پاتې شوي وي.

وګورئ څومره لوی فضـــــيلت او منقبت دی، چې داســـــې مبارکو سترګو سـوځولو جرأت د جهنم اور نشي کولی د جهنم په اور کې دومره زور نشـــته چې دغســـې سترګې وسيځي.

تاسې خو يوه ورځ نه بلکې ټول عمر مو په پيره کې تېر کړو نو ستاسې به کوم فضيلت وي؟

ســتاســې په مقام يوازی الله تعالی خبر دی او بس.

- مســــلم د ابو هريرة رضی الله تعالـی عنه څخه روايت کــړی چې رســــــــول الله ﷺ وفـرمايل:چـې کافـر او د هغه قاتل به هيڅکله په اور کـې يو نه يو ځای کيږي. (مســــلم: ۱۸۹۱).

مجاهده وروره...!

ته چې په کوم عمل اخته يې له هغـې نه غوره عمل نشـته بل إن شاء الله.د ايمان څخه وروسته غوره عمل جهاد دید مســـجد حرام له جوړولو څخه جهاد غوره دیجهاد د ټولو عملـونـو څخه غوره دیالله تعالـــی ته د جهاد څخه محبوب عمل بل نشتهالله تعالی ته د مجاهد څخه غـــوره بل څـــوک نشتهد جهاد سره هيڅ يو شی نشـی برابريدلې.

جهاد په ګوښــه کې له ناسـتې او مسلسـل عبادت څخه غوره دیمجاهد د ټولو خلکـو نه غـوره او الله ﷻ ته ګران بنده دی.

د مجاهد خوب د نورو خلکو د شـپې تهجدو او د ورځــــې د روژو څخه بهتر دی.

د دی امت سياحت جهاد دی.

جهاد د اســـلام لوړه څوکه ده او د لوړی څوکې نه ښــــکته ټوله علاقه ساتل کيږي همداســې په جهاد سـره ټول دين ســاتل کيږي نو ځکه غوره دی.

الله تعالی د جهاد د لارې مجاهد نه ضایع کوي بلکې په خپل لطف او مهرباني يې پالنه کوي.
له وتلو څخه تر راستنیدلو یا شهید کیدلو پورې مجاهد د الله ﷻ په ضمانت کې وي او په دې جریان کې ورسره د الله تعالی نصرت مل وي او الله ﷻ ورته هدایت کوي.
مجاهده وروره...!
پام چې خفه نشېهغه د مکې دور یاد کړه چې د انبیاؤ سردار ﷺ باندې کوم حالات وو؟
آیا د هغې دعوت ته چا غوږ ایښوده؟
آیا د هغې د خبرو د نه اوریدلو لپاره کفارو او مشرکینو هڅې نه کولې؟
آیا هغوې په ډاډه زړه دعوت کولی شو؟
آیا د همدی حق دین په خاطر چې نوی راغلی و، د حق لارویان په کوڅو کې نه رانښکل کیدل؟
آیا اقتصادي بندیزونه وربان‌دې نه وو لګیدلي؟
آیا د هغوی سره مرسته جرم نه وه؟
آیا د هغوی مشرانو په سرونو انعامونه نه وو ایښودل شوي؟
آیا الله هغوی بریالي نکړل؟
آیا همغه خلک چې پرون یې همدغه کمزوري صحابه ځورول سرټیټي ورته الله تعالی ونه درول؟
آیا هغه مکه چې نبي علیه السلام په کې د تش دعوت اجازه نه درلوده د همغې مکې فاتح نشو؟

نو مجاهده وروره!

تا هم د همغه نبي ﷺ د منهج او تګلارې دعوه کړې په داسې حال کې چې نبي علیه السلام د همدې وخت خبر ورکړی.
چې دا دین غریب او ناشنا شروع شو او ژر ده چې بیرته همداسې غریب او ناشنا شي خوشحالي ده د همدغو ناشنایانو لره.
آه...
مجاهده ته څومره ناشنا يې ؟
مه خفه کیږهتا چې په کومه لاره خپل یون جاري ساتلی، په همغه لاره دی مخکیني اسلاف ټوټه ټوټه، بی کوره، بی وطنه او بې څوکه شوي وو.
ته څومره ناشنا يې ګلابه!
کټ مټ لکه مکې دور کې چې اوسې.
ته خو د هغوي حالات وګوره.
ته لاندې مقایسه دقیقه وګوره او خپل زړه ته وربان‌دې تسلي ورکړه.
د دواړو غریبو او ناشنایانو زماني مقایسه:
ستا خبرو ته هم نن څوک غوږ نه ایږدي، لکه څنګه چې یې زموږ د پیغمبر خبرو ته غوږ نه ایښوده.
لکه څنګه چې په هغوې اقتصادي او امنیتي بندیزونه وو، همداسې په تاسې هم دي.
لکه څنګه چې هغوې دعوت ته نه پریښودل کیدل همداسې تاسې هم نه پریښودل کیږئ.
لکه څنګه چې هغوي په شعب ابی اطالب کې درې کاله د اقتصادي محاصره لاندې وو، همداسې تاسې هم په خپلو مرکزونو کې محاصره یاست.
لکه څنګه چې هغوې ته د دعوت په لار کې خنډونه اچول کیدل همداسې تاسې ته هم اچول شوي لکه د رسنیز ډګر مشکلات د ملګرو شهادتونه د ایډیانو خرابول،هک کول،بندیز وربان‌دې لږول او نور...
لکه څنګه چې د هغوې په مشرانو انعامونه ایښودل شوي وو همداسې ستاسې په مشرانو هم انعامونه ایښودل شوي دي.
لکه څنګه د هغوې د کفارو په وړاندیزونو چې لږ نرم او له خپله دریځه لږ رانښکته شي رد کړل ، همداسې تاسې هم د کفارو هر رقم وړاندیزونه رد کړل.لکه څنګه چې په هغوی اعتراضونه کېدل او وړپسې قسما قسم تبلیغات کیدل او هغوی يې له خپله مسیره کاږه نه کړل ،همداسې يې تاسې هم د کفارو، مرتدینو، مشرکینو،منافقینو،ملحدینو ،روافضو، بلعامي ملیانو، مرجیفینو او نورو د الله تعالی دښمنانو اعتراضونو په جواب کې داسې وویل چې که ټوله دنیا دومره اعتراضونه وکړي چې زموږ څخه تیار خلک هم

لاړ شـــي بيا به هم له خپل دريځ او منهج څخه ذره هم شاته نشو.
لکه څنګه چې هغوی الله تعالـــی د هغه وخت په کفارو برلاســـي کړل همداسې به تاسـې هم برلاسـي کوي إن شـــاء الله.لکه څنګه چې د هغوي مخې ته د کفر سرلارۍ تيټ سـرونه ولاړ وو همداسـې به تاسې ته هم د اوس وخت د کفر سرلارې او مشـران ټيټ سرونه ودرېږي باذن الله.
خو دا هر څه به د لوی صـبر او نه ماتيدونکي استقامت څخه وروسـته کيږي.
ته اسـتقامت وکړه الله ﷻ به ثبات درکړي.
ته صبر وکړه الله ﷻ به بريا درکړي.
ته د الله ﷻ لپاره ځان ذليله کړه الله ﷻ به دې په ټولو خلکو کــې اوچت کړي.
ته د خلکو نه ځان د الله ﷻ لـــپاره ورک کړه الله ﷻ به دې په خلکو کې ښکاره او غالب کړي.
ته د الله ﷻ لپاره خپل کور پرېږده د دی دنيا به څه کورونه وي الله تعالی به داســـې کورونه په اخرت کې درکړي چې هغه به ډير ښـکلي وي رڼا ګانـې به يــې تيــزی او نه ختميدونکې وي په خوا کې به يـې د ميوو ونې او خوشحالي به پکې وي ، يوه خښته به يې د سرو او بله به يې د سپينو وي ستوماني او سسـتي به پکــې نه وي ،کانــې به يــې لؤلؤ ،جواهرات او مـرجان وي ،دنګوالـې کې به بې مثاله وي، د هغوي په هـر کونج کـــې به حورې،غلمان او خدمتګاران ولاړ وي.
دومـره غټـې مانـۍ به وي چــې د لريوالي له وجې به د يو کونج حورې د بل کونج حورې نه وينـــي په دغو مانيو کې به خوراک هر وخت موجود وي څوک به د خوراک څخه نه مـنع کولی شـــي،هر ډول خوراک ته چې دې زړه وشي درته به حاضر شـي د انساني تقاضوې لکه (تشـې او ډکې بولې) او داسې نور څه به نه وي.د خوراک له وجې به يـې د بدن څخه د مشکو په شان خوشبويه او د ملغلرو په شـان سـپينه خوله وځي ، چې په وتلو سره به يې خوراک هضـــم او ګېډه خپل لومړي حالت ته راځي.
په لنډ ډول به ووايم چـــې په دغه مانيو کې داسې نعمتونه دي، چې نه سـترګو ليدلي،نه غوږونو اوريدلي او نه د چاپه خيال کې راغلي، دغه مانيو کې به هميشـه هلکان وي بوډا کيږي به نه او هلته به يوازې همدا غږ اورې سلام سلام ښه راغلاست .
نو مجاهده وروه رب به داســـې کورونه درکړي.مجاهده وروره!
د دې دنيا ژوند په دې نه ارزي چـې بنده ورباندې د اخرت د نعمتونو مالا مال ژوند له لاسه ورکړي.
- ســهل بن ســعيد فرمايې چې جبريل آمين عليه السـلام د نبي کريم صــلی الله عليه وســلم خواته راغـــی او ورته وويل:ای محمده!الله ﷻ تاته فرمايـي:په دې دنيا کـې چـې څومـره هم ژوندی وې يوه نه يوه ورځ مرګ درته راځي،له چا ســـره چې دوســتي غواړې وکړه يې،يوه ورځ ته له هغه نه جدا کيدونکی يې او چې څنګه عمل(ښه يا بد) وکړې، نو د هغه اجـر به هـرو مرو درکول کيږي او يوه شـــه! چې د مؤمن شرافت د تهجدو په لمانځه او عــزت يــې د خلکو څخه په بــې نيازۍ کـــې دی.) شعب الايمان للبيهقي:۳/۳۷۳. او مستدرک للحاکم:(۴/۳۲۵).
محمد العــربـــي ﷺ په دغو لنډو مبارکو خبـرو کـې يــې د مــرګ،له دوسـتانو څخه جدايې او د عملونو د جزا کومه يادونه شـويده دادی زموږ او ستاســې د ويرولو لپاره کافي دي او په دې کـې د عقل خاوندانو لپاره عبرت دی.
وروڼو دا دنيا د اوسـيدلو ،کېپ شـپ ،مال جمع کولو ځای نه دی.
ددی دنيا د خوشحاليو شاته غمونه د نعمتونو شاته يې فکرونه دي، نن که خاندې ســـبا به ژاړې که څوک يې جمع کول غواړې نو تيت او پـــرک

کيږي ترې او سړی غريب پريږدي.

چې د چا سره نه وي نو مرتبه يې ښکته وي چې د چا سره وي هغه نا ارامه وي که د چا سره زياته شي نو تباه کوي يې، که څوک يې ابادوي نو ورانيږي ترې ،که د وصال سخا درسره وکړي نو بيا ژر جدا کيږي.

دی دنيا ته چې څوک نږدې کيږي نو د الله ﷻ څخه لرې کيږي د دې عاشق د الله ﷻ له دربار نه شړل شوی خواږه يې عذاب او شراب يې سراب دي.

د تکليفونو،مصيبتونو،فکرونو، سترياؤ، غمونو،فراق او بدبختۍ کور دی.د دې ډير په حقيقت کې لږ دي عزتمند يې ذليل دی غنې يې فقير دی، لوی ګټونکي يې حقير دی د آفتونو څخه ډکه، د پښيمانيو څخه مالا مال ده، وفا د سره پکې نشته،په وعدو يې باور نشي کيدلې او نه هم خپل لوظونه پوره کوي ،مينه کونکي ورسره هر وخت ستړې ،عاشق يې هر وخت غمجن، باور کونکې ورسره رسوا کيږي، خپل عيبونه يې پټ کړي په خپلو مصيبتونو يې پرده اچولې په خپلو زرغونو خلکو ته دوکه ورکوي، په خپلو رشوتونو خلکو سره ټګي کوي ، خپل جالونه يې خواره کړي لومې يې ايښې ،خپل بيکاره او بدرنګ شيان يې ښايسته کړي.

خپله توره يې راباسلې ،خپل خواږه شيان يې راوړاندې کړي په خپلو بديو يې پردې اچولي دي.

او دا ناري وهي چې ای خلکو!

زما سره وصال وکړئ.

بس څوک يې چې د وصال قصد وکړي نو هغه به د دې په لومو کې راګير شي هلته به دا د بدحال څخه خبر شي ، چې کله دا په سخت عذاب کې راګير شي او د ناپوهۍ له وجې نه به د دې دنيا بنديوان شي.

دی چې په ځان پوهيږي نو د دنيا ټول چل ول به داسې راګير کړی وي، چې هيڅ به هم نه ويني،په دې وخت کې به د پيښمانۍ لاسونه موروې او خوله به ورباندې لګوي د اوښکو پرځای به يې له سترګو ويني وبهوي، خو هيڅ فايده به ورنه کړي او د څه شي په طلب کې چې دی و هغه به يې هلاکت ته وغورځوي،دی به د تيښتې کوښښ کوي خو تيښته به ورته ممکنه نه وي.

ای مسلمانه!

ای انسانه!

ای مجاهده او مهاجره!

له مرګه مخکې مخکې د غفلت له خوبه بيدار شه!خپل ځان د بندي کيدلو څخه مخکې مخکې له بنديخانې څخه وساته،د نيکبختۍ او سعادت په لور ګامونه اوچت کړه، کيدايشې الله تعالی درته د شهادت فضيلت په نصيب کړي او د دې ثواب په لاسته راوړلو کې دی هيڅ يو سبب ستا د پښو ځنځير جوړ نشي،ځکه د کلکې ارادې څښتن هغه دی چې خپله اراده مظبوطه کړي او هوښيار سړی هغه دی چې په جهاد کې برخه واخلي او لوی اجر ترلاسه کړي .

کوم سړی چې د سستۍ، تنبلۍ او يا اوږدو اميدونو له وجې د الله په لاره کې له جهاد څخه پاتې شو نو په هغه ځای کې به ارمان وکړي چې هلته ارمان هيڅ ګټه نه رسوي،کله چې شهيدان د جنت په اوچتو ماڼيو کې ووينې نو هغه وخت به بيا د خپلې بې پروايې او له دې ستړې بريا څخه د وروسته کيدلو او بې برخې کيدلو له امله به له افسوسه خپل غاښونه وچيچي او وايي به چې کاش ما هم جهاد کړی وای او د الله ﷻ په لار کې شهيد شوی وای.

الله ﷻ حقه خبره کوي او نيغه لار ښايې همغه الله ﷻ زموږ لپاره کافي او هغه ډير ښه کار جوړونکی دی.

مجاهده وروره ...!!!

دا دنيا هسې هم زموږ او ستاسې لپاره نه ده که موږ پکې اوسيږو نو بايد په کفارو باندې د اسلام توره اوچته ونيسو او په دې دنيا کې د غيرت ژوند وکړو.

مجاهده ورورہ!
اخرت ژوند ډیر غوره ژوند دی ددې دنیا حقیقت دې وپیژنه.
د دنيا دستړي ژوند د خرڅولو په بدل کې الله ﷻ د اخرت داسې خوږ ژوند ورکوي چې هلته نه ستړيا، نه ويره، نه ده نعمتونو زوال، نه غم، نه هم، نه مرګ، نه زنداني کيدل،نه وهل کيدل،نه شړل کيدل، نه رټل کيدل، نه ولږه نه تنده څه سر به دې خوږوم هغه څه چې يو مشکل او ستا د خوښې نه وي دا به هيڅ هم وه وي ، خو چې د څه شي ارمان کوي هغه به ميلاويږي.
چې د ټولو څخه لوی ارمان هغه د الله تعالی ديدار دی، همملته به پيدا کيږي او بيا خو شهيدان د الله ﷻ ځانګړي ميلمانه وي.
هلته به د انبياؤ سردار مُحَمَّد ﷺ سره بنداړونه وي.
هلته به د ابوبكر، عمر، عثمان، على، ابو عبيده، طلحه، زبير، عبدالله، خالد بن وليد، نعمان بن مقرن، سعد بن وقاص رضوان الله عليهم اجمعين او نورو صحابه كرامو سره د جنت په شنو درو كې چكرې وهل وي.
هلته به د امام احمدبن حنبل، شافعي، مالک، ابو حنيفه، ابن تيميه او نورو د دين مشرانو سره د مينې بنداړونه وي .
هلته به د اوسني خلافت مشرانو او امامانو لکه:
ابومصعب زرقاوي، ابوعمر البغدادي، ابو بکر البغدادي، ابو الحسن الهاشمي، ابو ابراهيم الهاشمي او نورو مشرانو خواږه خواږه ملاقاتونه وي.
واه مجاهده وروره!
جنت كې د انبياوو، صحابه كرامو، صالحينو، شهيدانو يو ځای بنداړونه چې نبي عليه السلام ته كيسې شروع كړې او هر يو د خپلو حماسو يادونې كوي چې ای د الله نبي زه هغه څوک وم چې ستا په تګلاره روان وم.
ستا د تګلارې موافق مې كفارو ته داسې مرګونه وركړل چې په اوريدلو يې د كفارو زړونه ټق چاودل.
په هيڅ ځای كې مې پرينښودل.
په لارو كې مې ووژل، مركزونو كې مې ووژل، هره مورچه او هر كمين ځای كې مې ووژل، سره د دې چې خلكو به خوارج ګڼلم خو ستا او ستا د ملګرو په هدايت پسې روان وم د هيڅ غيبونكي سپې خبرو ته مې غوږ ونه نيولو ، ستا په تګلاره مې خپل يون جاري وساته او په دغه وخت كې درته د الله عزوجل نبي صلى الله عليه وسلم ووايي چې ﷻ نور نو تاته ستا ددې تكليفونو بدلې او اجرونه دركول شول، مه خفه كيږه هره ستړيا دې ختمه شوه اوس
د جنت د نعمتونو څخه خوند واخله.
واه!
واه مجاهده وروره په دغه وخت كې به ستا حالات څنكه وي؟
نو ای زمريه كله چې جنګ ته وړاندې كيږې، نو د همغه جنت د نعمتونو فكر كوه.
مجاهده وروره!
كه نن درڅخه د الله ﷻ د رضا په خاطر خپل اولادونه او ښځه پاتې شوه نو مه خفه كيږه الله ﷻ به تاسې إن شاء الله بيا په جنت كې سره يوځای كړي ،كه چيرې نيكان وو هله او كه چيري نيكان نه وو، نو كيدايشي ستا د سفارش له وجې هغوي ته ته د نجات ذريعه شې.
كه نن دې د الله ﷻ لپاره خپله ښځه پريښودله داسې ښځه چې په اول كې د منې يو ځاځكې بيا به ترى يو بوی ناک لاش جوړيږي، د هغه په ګيډه كې ګندكې ساتې، زيات عمر په حيض كې تيروي،د دې ښخو څخه يې بيا ډيرى داسط وي چې نافرمانې ډيره او خبره كمه مني، كه سترګې توري نكړي چخې كوي، كه ويښته ګمنځ نه كړي نوپرې ببر به شي، كه

ويښته غوږ نکړې بدرنګه او وچ به شي او سږې به پکې پيدا شي،که صفايي ونه کړي بد بوي به ترينه لاړه شي،زياتره وخت ناجوړه وي او زيات تنګول کوي،کله چې زړه شي د يو کار هم نه وي،که ټول عمر ورسره احسان وکړې نو د غصې په وخت کې يې هر څه له ياده ووځي.

- په بخاري او مسلم کې د ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی :چې رسول الله ﷺ د ښځو د ناشکرۍ په باره کې دا ارشاد وفرمايه :که ښځې سره ټول عمر نيکي وکړې او بيا لږ غوندې تکليف درڅخه ووينې نو وايې به چې ما له تا څخه چيرته هم خير ونه ليدلو. (بخاري:۲۹،مسلم:۹۰۷)

لنډه دا چې که ګټه تري اوچتوې، نو کوږوالي به يې زغمې او که دوامداره ملګرتيا يې غواړې نو په ځان به سختۍ او تکليف راولې توبه الله توبه!مجاهده وروره !

که همدا د دنيا ښځه موږ د الله ﷻ لپاره پريښوده او د دين د ساتلو له وجې تري جدا شو نو الله تعالی به په اخرت کې داسې حورې او بيبياني راکړې چې هغه د نور نه پيدا شوي، د جنت په ماڼيو کې په ناز لوی شوي دي،په الله ﷻ قسم چې د جهاد په لاره کې د کارو له لوړې په شهادت رسيدلو سره سم به درته دغه حورې حاضرې شوي وي او له شهيد سره به يوځای کيږي، چې د شهيد سترګې ورباندې يخيږي او خوند تري اخلي.

مجاهده وروره !دغه جنتي ښځې ډيرې ښايسته او غټې سترګې لري،په ښکلا او حسن کې د ياقوتو او لعلونو په شان ښايسته پاکې او حياناکې پيغلې دي، چې له تا وړاندې هيڅ انسان او پيرې لاس نه دی وروړی، خبری يې پستې،قد يې برابر، ويښتان يې تک تور او قدر يې ډير لوړ دی، بانه يې ښايسته، حسن يې ښکاره،جمال يې عجيبه او ناز يې په زړه پورې دی،د تکو تورو سترګو، خوږو خبرو، حيرانونکې جوړښت او ښايسته اخلاقو خاوندانې دي.

جامې يې پرقيدونکې او ګاڼې يې ځليدونکې دي.دومره حياناکه او مينه ناکه دي چې له تا پرته به بل چاته نه ګوري، ستا هرې غوښتنې سره به د مينې اظهار کوي، که چيرته د هغې يو نوک دنيا ته راښکاره شي نو څوارلسمې سپوږمۍ به توره شي او که د شپې يې بنګړي راښکاره شي نو په دنيا کې به تياره پاتې نشې.

که چيری يې مړوند خلک وګوري نو ټول به يې د مينې بنديوان شي که خپل ځان دنيا ته ښکاره کړي نو ټوله دنيا به د خوشبويو څخه ډکه شي، که په مالګين او تريخ سمندر کې لاړې توکړي، نو په خوندورو او خوږو اوبو به بدل شي، څومره چې زيات ورته ګوري، نو هغومره به يې د ښکلا پټ رازونه څرګنديږي، که ورسره کينې او مجلس ورسره شروع کړې، نو حسن به يې دوه چنده شي نو مجاهده وروره د خپلې دنياوي ښځې پسې زړه مه اچوه چې هغه رانه پاتې شوه، خپل هدف ته ځير شه د دنيا د ښځې نه جدايي حتمي او يقيني ده که دغه دنيا وي ښځه دې نيکه وي نو إن شاء الله په جنت کې به بيا درسره يوځای کيږي، هلته به همدا ښځه د جنت د حورو نه ښايسته وي دومره ښايسته لکه د دنيا د ښځو نه چې حورې ښايسته دي، نوره به هم دومره ښايسته شي چې د هغې علم الله ﷻ څخه پرته بل چاته نشته.

خو د دی لپاره يو ځل فراق حتمي دی چې هغه مرګ دی په دنيا کې چې کوم عادتونه يې ستا خوښ نه وو هغه به ټول ختم شي، اخلاق به يې ښايسته،جوړښت به يې برابر، سترګې به يې غټې او تکې توري شي، ښايست به يې څو چنده زيات شي، له حيض او نفاس نه پاکه، پاک لمنه پيغله به ترې جوړه شي، ټول

کوږوالي او نقصـــانونه به يې ختم شي، لنډه دا چې هر ډول او هر نوعه خوبياني به پې راشي ، نور او پرڅيدا به يې زياته شي ستا په سترګو کې به يې عزت او مرتبه لوړه شـي او په حورو عينو باندې به په ښايســـت او انوارو کې داسې شي لکه په دنيا کې چې حورې وربانډې زياتې دي.

که چيرې تا نن خپله ښـــځه په دنيا کې د جهاد په خاطر پريښوده اوترى جلا شـوې نو الله ﷻ به د دى عوض ډير ژر درکړي، که چيرته جنتـي وې نو هغه به ضرور ستا سره جنت کې يو ځاى کيږي.نو مجاهده زړګيه!پام کوه چې د جهاد سختى درڅخه خپل هدف ورک نه کړي.

پام کوه چې د ملګرو شـهادتونه دې مورال کمزورى نه کړي.

پام کوه چـــې په خپلو تندريـــزو بريدونو کې دې سستي را نه ولې.

کفار په خپلو فولادي پنجو کـــې را ونيســـه او داسې دردونکي عذابونه ورکړه چې بيا دې امت ته په ســپکه ونه ګوري.

تا چې د ټول امت پيټى په ســـــر اخيســـتې حتماً به کړيږې، خو د الله ﷻ ديدار،مُحَمَّد ﷺ ســـره ملاقات، صحابه کرامو رضى الله تعالى عنهم ســـره بنډارونه او د جنت نعمتونه درياد کړه.

د اشغال شوې اقصـــى د ازادى اتل همدا ته يې.

د مظلومو ايغوريانو ســـترګې همدا تاته دي.

دبورما او نور محکوم اســـلامي امت وروستى هيله همدا ته يې.

د مظلومو خويندو د ازادى ورســـتى تکيه تاسې ياست.

د مظلومو مســـلمانو بنديو د اهونو غچ اخيستونکي تاسې ياست.

د دى امت هغه ځوانان تاسې ياســـت چې د زندانونو څخه مو اســـيري خويندې درته همدا ناري وهي، چـــې اى زما د امت ځوانانو!

موږ هم ووژنـــــئ خو دا ظالمان په خپلو بارودي موټـــرونو باندې ټوټه ټوټه کړئ.

هغه ورونه تاسې ياســـت چې د امت عفيفې خويندې ورته له زندان څخه ناري وهي چې:

چې اى ورونو دا زندانونه زموږ لپاره هديره کړئ خو د دې زنا کاره کافرو ،مرتدو، مشـــرکو او روافضـــو د ظلمونو او تيريو څخه مو وژغورئ.

نو اى د اسلامي خلافت لښکرو!

اى د امام مهدى لښکرو!

اى د طايفه المنصورة ځوانانو!

هلئ نور نو د کفارو ســـره د پريکون او د غچ اخيستلو وخت را رسيدلى.

خويندې او ورونه مو په زندانونو کې انتظار کوي.

راپاڅئ يو ځل بيا د تکبيـــر او باقيه په تندريزو غړونو ښارونه او کوڅې ولړزوئ.

راځئ يو ځل بيا د کفارو او مرتدينو د وينو سيلابونه وبهوؤ.

راځې د کفارو او مرتدينو په غوړونو کې د دولة الســـلام باقيه تندريز غږ راغبرګ کړو.

راځې په استشهادي او انغماسي بريدونو د کفارو زندانونه ونړوؤ.

راځئ په بارودي موټرو د کفارو ښارونه په کنډوالو بدل کړو.

راځئ د تکبير په هيبتي غړونو د کفارو زړونه له رعب او ډاره ډک کړو.

راځئ د کفار آمن په ويره بدل کړو.

راځئ د کفارو خوبونه په بې خوبى بدل کړو.

راځئ چې د کفارو د نجسو وينو په بهولو ځانونه الله ته نيږدې کړو.

او راځئ د شهادت په جام د ژوند روژه ماته کړو.

و اخر دعوانا

ان الحمد لله رب العالمين

د منافقانو

صفات او ځان ترې ساتل

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيْبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَاتَّبَعُوكَ وَلٰكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ وَسَيَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ اَنْفُسَهُمْ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ

[اې پېغمبره!] که ګټه بې کړاوه لاس ته راتلای او سفر اسانه وای، نو هغوی هرو مرو په تا پسې تلو ته چمتو کېدل. خو پر هغو باندې خو دالاره ډېره ستومانونکې شوه. اوس هغوی پر الله باندې قسمونه خوري، وايي چې که موږ تلای شوای، نو هرو مرو به ستاسې سره تللي وای. هغوی په خپله خپل ځانونه په هلاکت کې غورځوي. الله ښه پوهيږي چې هغوی دروغجن دي.

منافقت داسې يو موزي او ضرري مرض دی چې په اوس وخت کې په زياتو خلکو کې موجود دی، سلف صالحين به د دی مرض څخه زيات ډاريدل، حسن بصري فرمائي: "د نفاق څخه نه ويريږي مګر مؤمن او ددی څخه نه بی غمه کيږي مګر منافق" (صحيح البخاري). مؤمن انسان سره هميشه د خپل ايمان د حفاظت سوچ وي له همدې وجهې د نفاق څخه ويره کوي، عمر(رضي الله عنه) سره د دی چې جنتي صحابي دی بيابه هم د منافقت څخه ويريدلو او د حذيفه(رضي الله عنه) څخه به يې پوښتنه کوله چې زه خو به په هغه ليست د منافقانو کې نه يم کوم چې تاته رسول الله صلى الله عليه وسلم درښودلی دی.

ابن أبي مليكه(رحمه الله) فرمائي: ما د نبي(صلى الله عليه وسلم) ډيرى صحابه ليدلي دي چې هغه ټول به په خپل ځان د منافقت څخه ويريدل.

يو نفر وويل: يا الله ! منافقان هلاک کړی ! حذيفه (رضي الله عنه) ورته وويل: بيا خوبه ته په لاره يواځې روان يې، يعنی کله چې منافقان هلاک شي نو بيا خو به ډير کم خلک پاتې شي او لاری کوڅی به خالي شي.

په اوس وخت د نفاق مرض بې حده زيات شوی دی. اکثره خلک چې د اسلام دعوه کوي هغه د منافقت په مرض اخته شوي دي، په خوله د اسلام چغی وهي خو په عمل کې بيا د کفر او ارتداد په صف کې ولاړدي همدغه خلک منافقين دي، دوی خپل کفر پټ کړی دی او د منافقت ايمان يې عامو خلکو ته ښکاره کړی دی، دا ډيره ناکاره خلک دي، دوی په خپلو نجسو خولو د ايمان دعوه کوي خو په داسې حال چې دوی مؤمنان نه دي، الله تعالى فرمايي:**{ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ}** ژباړه: او بعضی د خلکو څخه دي چې وايي موږ ايمان لرو په الله او په ورځ د آخرت، خو دوی نه دي مؤمنان.

منافقان ترټولو بد خلک دي دوی د کفر په ترقی کې تر اصلي کفارو هم څو چنده مخکې تللي دي، ځکه په دوی عام مسلمانان نه پوهيږي او دا منافقان هم په ټولنه کې کفر او شرک خپروي، دوی په دروغجنو خبرو خلک دوکه کوي او خلکو ته د کفر او بې دينی لاره اسانه وي. د منافقانو سزا په دنيا او آخرت کې ډيره سخته ده، الله تعالى منافقان په دنيا کې ذليله کوي او په آخرت کې به هم د دوی سزا ترټولو سخته وي، الله تعالى فرمائي:**{ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا}** النساء١٤٥ **ژباړه:** يقيناً منافقان به د جهنم په تر ټولو لاندې طبقه کې وي، او ته به هيڅوک دوی ته مرستندوی ونه مومې.

رسول الله به دا دعاء کوله:(ای الله! زه په تا پوری د اختلاف، نفاق او بد خوئې څخه پناه غواړم). په دی دعاء کې د رسول الله هدف زموږ تربيه کول ؤ او موږ تا دا را زده کوي چې موږ بايد د نفاق او نورو ګناهونو څخه ځان وساتو.

په دی اساس په مونږه لازمه چې د منافقانو صفات وپيژنو، ځان او نور مؤمنان ورونه بايد د منافقت څخه بچ کړو او همدارنګه ددی صفاتو په پيژندلو سره به موږ د منافقانو د دوکو څخه هم نجات پيدا کړو. په دی مقاله کې به د منافقانو يو څه صفات په مختصر ډول بيان شي.

د نفاق تعريف:

نفاق په لغت کې پټولو ته وايي، او يا د ظاهر او باطن مخالفت ته وايي او په اصطلاح کې د ايمان ښکاره کولو او د کفر په پټولو ته وايي.علامه جورجاني يي داسې تعريف کوي: (إظهار الإيمان باللسان, وكتمان الكفر بالقلب(ژباړه: د ايمان ښکاره کول په ژبې سره او د کفر پټول په زړه سره.

د لسان العرب مصــــنف وايي: نفاق او منافق اسلامي نومونه دي چې عربانو مخکې په خاصــــه معنا پيژندل، اګر د لغت څخه ددی معنا داسې معلوميږي د کفرپټول، د ايمان ښــــکاره کول، د اســـــلام ښــــــكاره كول د تمثيل(نمايش) لپاره يا د ډار او يا د دوکې له وجهــې، لکن دوی کفر پټوي په خپلو زړونو کې.

علامه ابن کثر رحمه يې داســـــې تعريف كوي:(إظهارُ الخير وإسرار الشـــــر، فالمنافق هو الذي يخالف قوله فعله، وسره علانية). ژباړه: د خير ښکاره کول او د شر پټول، منافق هغه نفر دی چې خبرې يې د عمل مخالفې وي، باطن او ظاهر يې هم مخالف وي.

له دی ټول تعريفاتو څخه دا معلوميږي چې منافقت يو ناوړه کار دی او په اکثرو حالتو کــې نفاق د کفــر تــر سرحده رسيږي.

نفاق په دوه ډوله دی:

1.**النفاق الاكبر(لوی نفاق):** هغه نفاق ته ويل کيږي چې په کولو سره يې انســــــان کافر کيږي او د جهنم مســــــتحق ګرځيږي او دا په دوه ډوله دی، اعتقادي نفاق،عملي نفاق

١ــ اعتقادي نفاق: هغه نفاق دی چـــې په عقيده کې د انسان څخه واقع کيږي او د لاندې صورتونه لري:

- رسول الله دروغ ګڼل.
- احاديث دروغ ګڼل، کوم چې په صحيح سند سره ثابت دي.
- د نبی علیه سلام څخه نفرت کول.
- د قران او حديث څخه نفرت کول، يا د سنتو طريقو څخه نفرت کول.
- د اسلام په ښکته کيدو خوشحاله کيدل او په برياېي خفه کيدل.
- په هغه څه تصـــديق نه کول چې رسول الله پری امر کړی وي، يعنی عمل واجب نه ګڼل،

دلته هدف بنيادي اطاعت دی چې اصل امر منل فرض دي.

٢ــ عملــي نفاق: دا منافقت په عمل كــې واقع كيــږي او مرتکب شخص يې کافر دی او دا لاندې صورتونه لري:

- پيغمبر ته تکليف رسول، عيب پری لګول.
- د مؤمنانو خلاف د کفارو سره مرسته کول.
- په مؤمنانو پســې ريشــخند کول د هغوی د ايمان له وجهې.
- مخ اړول د الله او د رسول د فيصلی څخه.

2. النفاق الاصغر(کوچني نفاق): په دی سره مســلمان نه کافر کيږي، په کبيره ګناه ســــره ګنهګاريږي، لکه د مثال په ډول د لاندې اعمال:

- په خبرو کې درواغ ويل.
- په امانت کې خيانت کول.
- وعده خلافي کول.
- په جنګ کې کنځلې کول.

د منافقانو صفات په قرانکريم کې:

١ـ الكذب فی الايمان: دروغ د ټولو شرونو سرچشــــمه ده، دروغجن انســـان د هر ډول فتنو ښکار کيږي، دروغ د مناقبنو يوه لويه نښــه ده. په ايمان کې دروغ بيا كفر دی، څوک چــــې په خوله د ايمان دعوه کوي او په زړه وربانديې يقين نلــري دا په ايمان كــې دروغ ويل دي او داســـې شـــخص کافردی، الله تعالی فرمايې: :{ **وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُــــولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ**} ژباړه: او بعضی د خلكو څخه دي چې وايې موږ ايمان لــرو په الله او په ورځ د آخـرت، خو دوی نه دي مؤمنان.

په دی ايات کې د دی ډول خلکو څخه ايمان نفي شـوی دی، او دا ايات د اهل کتابو د منافقينو او د أبـــی ابن ســلول او نورو منافقانو په هکله نازل شـوی دی. ځکه دوی منافقانو خپل کفر پټ کړی ؤ او اســــلام يې په

خولو سره ښکاره کړی ؤ، الله تعالی ترى هم ايمان نفي کړ ځکه کوم ايمان سره چې تصـــــــديق قلبي نه وي موجود، هغه ايمان نه دی او انســـــان ته د کفر څخه نجات نشي ورکولی.

د منافقانو پيژندل ډير سخت کار دی، خو په دی نښـو ســـره په اســـانۍ پيژندل کيږي. په اوس وخت کې دا صـــفت په مرتدينو کې تر هرچا زيات موجود دی دوی خپل کفر د خلکو څخه پټوي او د دوکـې په ډول ايمان خلکو ته ښـــکاره کوي،اکثره طاغوتيان د خپلو کفري تـړونونو په هکله دروغ وايــي خلکو ته خپله کفـــري صلحه د حديبيی د سـولی په شـکل وړاندې کوي او په دی سـره دوی منافقت کوي او ســـاده ګان خلک دوکه کوي، دوی د کفر له پاره شـــرعي حدود ځنډ ولي دي خو خلکو ته بيا دروغ وايې، د دوی کفري نقاق اوس د هيچا څخه هم پټ نه دی، دا مـرتد منافقان اوس هـــر چاته معلوم دي.

۲ـ الخداع(دوکه): حيلــي او دوکه کول، د باطن خلاف ظاهري ښـي کړنی ترسـره کول د ا هم د منافقانو يوه علامه ده، دوی پيغمبـــــر،مؤمنانو او عامو خلکو ته په خپلو نمايشي کارونو دوکه ورکوي، د دوی په هلکه الله تعالـی فــرمايـــي:{ **يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُـــونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ**} ژباړه: دوکه کوي د الله سـره او د مؤمنانو سـره، دوی دوکه نکوي مګر د ځانونوسره او دوی شعور هم نه لري.

هو د اوس زمانې منافقان د مؤمنانو ســره دوکه کوي، دوی په خپل کفري دولت کــي د امـربالمعـروف په نوم وزارت لري، خو د شرعي حدودو د تطبيق څرک په کې نه ليدل کيږي همدارنګه په همدی مرتدو دولتونو کــې د دوکـــــې لپاره د حج اوقاف وزارت هم وي ، دوی دغه وزارتونه فقط د دوکـې لپاره جوړکـړي چـې عامو مسلمانانو ته دا وښايي چې د لته خو هم دادی مســاجد او ديني وزارتونه شـــته دی، کنه په اصـــل کې دوی د توحيد سرسخته دوښمنان دي،همدوی دي چې د اسلام په وړاندې خنډ جوړ شـــوي دي، همدوی دي چې ټول کفر ته د امن ضمانتونه ورکوي، همدوی دي چې د حق دلارې مؤحدين مجاهدين شهيدانوي، همدغه مرتدين په خداع او دوکـې کـې تـرهـربل کافـر مخکـې دي ، خو مسـلمانانو ته اوس د دوی حقيقت ښکاره شوی دی او اوس د دوی په غولونکو شعارونو نه دوکه کيږي.

۳ـ مرض القلوب(د زړونو مرض): د منافقينو زړونه د شرک،کفر،حســـــد،شبهو او کينو څخه ډک وي، دوی اکثره په شبهاتو او شهواتو پسـې روان وي، منافقان د کفر او شرک په لښکر کې تر ټولو مخکې روان وي.

هو! د دوی زړونه د مرضـــونو څخه ډک دي، دوی د کفارو سره تړونونه کوي او مســـلمانان شهيدانوي، دا کار دوی ځکه کوي چـې په زړونو کــې يـــې د ارتداد مرض پروت دی، د دوی دغه مرض د وخت په تيـريدو لازياتيږي، الله تعالــی فـرمايـي:{ **فِـي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا**} ژباړه: په زړونو د دوی کې مرض دی پس زيات کړو الله تعالی د دوی مرض. د منافقيونو د زړونو مرضــونه د وخت په تيرېدو ســـره ډيريږي او وجه يې د دوی نور کفري صفتونه دي. تاسـې وګورئ چاچې د کفارو د خوشـحالولو لپاره مؤحدين شـهيدان کړل، په دی کار ســـره د دوی کفر او ذلت نور هم ډير شو.

۴ـ کوي فســـادونه او ځان ته اصلاح والا وايي، خلک د ايمان څخه منعه کوي، خلک د قران او ســنت د دعوت څخه منعه کوي او خپل دغه کار سم ګڼي، دوی د خلکو په زړونو کې شـــــبهی اچوي خلک د حق په وړاندې شکيان کوي، همدوی لوی مفســـيدين دي ، الله تعالی فرمايي: { **وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِـي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ. أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَكِنْ لَا**

يَشْعُرُونَ} ژباړه: او کله چې ووېل شي دوی ته فساد مکوئ په ځمکه کې، نو دوی وايي موږ اصلاح والا يو، خبردار هم دوی فساد والا دي خو دوی شعور نلري.

په دې اياتونو کې د دوی څخه شعور هم نفې شوی دی، منافقان بې عقله او بې علمه خلک دي دوی د دين په اساساتو هم علم نلري، د همدې له وجهې دوی ځان ته مصلحين وايي او حق پرستو خلکو ته بيا فساديان وايي. دغه صفت هم اوس په ډېرو مرتدو منافقينو کې موجود دی چې دوی خپل هر کفر ته د مصلحت نوم ورکوي اوپه دی بهانه کفر ته ورغاړېوځي، خوپه مقابل کې په مؤحدو مجاهدينو د فساديانو او خوارجو ټاپې لګوي.

۵- په دين پورې استهزاء کول: دوی د مؤمنانو پورې ټوکې او مسخرې کوي، الله تعالی فرمايي:{ وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا إِلَى شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ} ژباړه: کله چې مخامخ شي مؤمنانوسره نو دوی وايي موږ ايمان راوړی دی، او کله چې وګرځي خپلو شيطانانو ته نو دوی وايي موږ تاسې سره يو، يقيناً موږ هغوی پورې ټوکې کولې.

هو! منافقان په سنتو پورې خندا کوي د اسلامي شعائرو بې عزتي کوي او دغه يو لوی کفري عمل دی ، چې د نن زماني مرتد منافقين هم په کې ښکيل شوي دي.

۶- مؤحدينو او هوښيارو مسلمانانو ته دناپوهی نسبت کوي:، دا صفت هم په دوی کې په زياته کچه موجود دی، دوی د امت لوی مصلحين مجاهدين په کمعقلی او بې صبرۍ تورنوي.

هو ! د دوی مشرانو کافرو منافقانو صحابه هم په بې عقلی تورن کړي ؤ، الله تعالی فرمايي { وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ} ژباړه: او کله چې ووېل شي دوی ته ايمان راوړئ په شان د خلکو(صحابه و) نو دوی وايي ايا موږ ايمان راوړو په شان ددی کم عقلانو، پس خبردار هم دوی بې عقلان دي.

هر هغه څوک چې صحابه و ته د بې وقوفی نسبت کوي دوی مرتد منافقان دي لکه روافظ د دې زمانې منافقين او مرتدين دي، څوک چې په مؤحدو مجاهدينو د بې علمۍ او بې عقلۍ تور پورې کوي ،نو په دوی کې د منافقات دغه صفت سرايت کړی دی او دوی د هلاکت په لاره روان شوي دي، منافقان ځان ته پوهه خلک وايي خو په حقيقت کې دوی تر ټولو بې عقله او بزدله خلک دي.

۷- په ګناه باندې باقي پاتې کېدل: کله چې منافقينو ته دعوت ورکړی نو د بې ځايه غيرت په نوم په ګناه باقي پاتې کيږي او ځان هوښيار ګڼي په داسې حال کې چې ګناه کول يو بده کړنه ده او په ګناه باقي پاتې کيدل ډېر ستر جرم دی، په اوس وخت کې چې چاته ووايي چې مجاهدينو پسې خبرې مکوه دغه انسان ايسته د جاهليت په غيرت ودريږي او خپلې بې ځايه خبرې لا پسې اوږدې کړي، هرهغه څوک چې په خپله ګناه قائم پاتې کيږي اوپه خپله ګناه غيرت کوي منافق دی، الله تعالی فرمايي: { وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ} ژباړه: کله چې ورته ووېل شي د الله تعالی څخه وډار شئ، نو خپل غيرت يې په ګناه ټينګوي، د دوی لپاره جهنم کافي دي او هغه ډېره ناکاره ځای دی.

ددی ايات په حکم کې هغه خلک هم داخل دي چې کله يې نيکو اعمالو ته رادعوت کړی نو د تکبر لاره ونيسي او داخبره کوي چې تاسې اوس موږ ته دعوت راکوئ؟ مونږ ته پکار ده چې د قران او سنت حکم ومنو او هر چاچې راته د توحيد دعوت وکړ بايد ويې ومنو.

٨ـ د جهاد څخه پاتې کيدل: جهاد يوه فرض عين عمل دی او په اوس وخت کې په هر مکلف انسان فرض دی، ځکه دنيا ټوله د کفري نظامونو څخه ډکه ده. په مسلمانانو لازمه ده چې دنيا د دی کفري نظامونو څخه پاکه کړي او پرځای يې اسلامي دولت حاکم کړي، له دی مبارکې فريضې څخه وروسته نه پاتې کيږي مګر منافقان، دوی خپله هم د جهاد څخه پاتې کيږي او نور خلک هم د جهاد څخه منع کوي، الله تعالی فرمايې: { **فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ**}التوبه٨١ ژباړه: د رسول څخه وروسته پاتې کيدونکي خلک په خپله ناسته باندې خوشحال دي او دا بده ګڼې چې دوی د الله تعالی په لاره کې په خپلو مالونواو ځانونو سره وجنګيږي، او وايې دوي: په ګرمی کې جهاد ته مه ځئ، ته ورته ووايه: اور د جهنم زيات ګرم دی، که دوی پوهيدای.

په دی ايات کې د منافقانو لاندې صفات ذکردي:

- د جهاد څخه وروسته پاتې کيدل: دغه صفت اوس په ډيرو خلکو کې موجود دی، د فرضې جهاد څخه پاتې کيدل په هيڅ صورت کې نشته دی، مګر که شرعي عذر وي.
- د جهاد څخه په پاتې کيدو خوشحالي کول: منافقان به د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کې هم د جهاد څخه په پاتې کيدو خوشحاله کيدل او د جهاد څخه به په مختلفو بهانو پاتې کيدل. په اوس وخت کې دغه مرض په مرجيفينو کې موجود دی.
- په مال او نفس سره جهاد بد ګڼل: منافقان دا ډيره بده ګڼي چې مال په جهاد کې مصرف کړي، او ځانونه خو بيخي جهاد ته نه حاضروي.
- نور خلک هم په ډول ډول شبهاتو له جهاد څخه پاتې کول: په اوس وخت کې مرتد منافقين کوشش کوي خلک د جهاد څخه په شبهاتو منع کړي، څوک چې په مؤحدينو بدنامي لګوي همدوی ستر مجرمان او منافقان دي.

٩ـ طاغوت ته فيصلی وړي: په دی کار سره انسان مرتد کيږي، او دغه خلک د مرتدو منافقينو په نامه ياديږي. او الله تعالی هغه خلک کافران ګڼلي چې دا لله تعالی په کتاب فيصله نکوي، الله تعالی فرمايې: { **وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ**} ژباړه: او څوک چې د الله تعالی په نازل کړي شريعت فيصله ونه کړي، هغوي کافران دي.په دی مسله ډير بحث نکووم، دغه مسله موږ په تفصيلي ډول په بل ځای کې تشريح کړی ده نور تاسې خپله په دی هکله تحقيق وکړئ.

١٠ـ دعوی لوی کوي خو چې وخت راشي معرکې ته نه حاضريږي: په بعضو خلکو کې دا مرض موجود دی کله چې د بوعمل وخت نه وي نو د ځان صفتونه کوي او ځان ورته ډير قوي ښکاري، خو کله چې د عمل وخت راشي بيا نو تيښته کوي او د جهاد ميدان ته نه حاضريږي او غيری شرعي عذرونه وړاندې کوي.

د منافقانو يو څه صفات فقط نومونه يې ذکر کوو:

1. د مؤمنانو تر منځ فسادونه خپرول.
2. مسلمانان بد ګڼل او ښه اخلاق ورسره نه کول.
3. په مؤحدينو او اهل حقو عيبونه لګوي.
4. د شريعت خلاف کړنې ترسره کوي او خلک د عمل صالح څخه بندوي.
5. دوکه او غدر کوي.
6. په درواغو زيات قسمونه کوي.
7. ډارن او بزدله وي.
8. د خلکو د خوشحالولو هڅه کوي اګر که هغه نفر منافق هم وي.
9. د خبرو او عمل تر منځ يې زيات واټن وي.
10. په عباداتو کې سستي کوي او لمونځونه په پابندۍ سره نه کوي.

په دې صـــفاتو مونږ خپله دغه مقاله رانغاړو الله تعالى دې مونږ د منافقت د صفاتو څخه وساتي، هذا و با الله التوفيق.

دیوبندیان

څوک دي؟

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو.!

تاسې د دیوبندیان څوک دي ؟ سلسله واري علمي ، معلوماتي ،تحقیقاتي، مدللې او مستندې لړۍ پنځمه برخه د مجلې په تېره پنځه ویشتمه ګڼه کې ولوسته ، په دې هیله چې د دیوبندي بدعتیانو د عقیدوي خرافاتو په اړه شپږمه برخه په دې ګڼه کې ولولئ او تر نورو يې ورسوئ .

له قبرونو ستونزې "مشکلات" حل کول له قبرونو څخه د مشکلاتو د حل کېدو دا انداز هم وګورئ:

حاجي امداد الله وایي: اسی زمانے میں مراقبے میں، میں نے حضرت شیخ الشیوخ خواجہ معین الدین چشت کو دیکھا "قد منا اللہ باسرارہ" کہ فرماتے ہیں کہ میں نے تمہارے ہاتھ پر زرخطیر صرف کیا اور ارشاد فرمایا کہ اس وقت سے کوئی حاجت ضروریہ دینویہ تمہاری بند نہ رہے گی- فالحمدللہ کہ اس وقت سے ایسا ظہور میں آیا جیسا کہ حضرت خواجہ نور اللہ مرقدہ نے ارشاد فرمایا- [شمائم امدادیہ حصّہ اوّل: ص١٤]

ژباړه: ما په دې زمانه کې حضرت شیخ الشیوخ خواجه معین الدین چشتي په مراقبه کې ولیدلو (قدّ منا الله باسراره) نو هغه وفرمایل: ما ستا په لاس باندې ډېر زیات زر (مال) مصرف کړي دي او زیاته يې کړه چې له دې وروسته به په دنیاوي حاجت کې ستا لاس نه بندیږي نو الحمد لله له هغه راهیسې همداسې وشول لکه څنګه چې خواجه فرمایلي وه.

بل ځای کې د خپلې بې وسۍ او لوږې یادونه کوي او فرمایي:

فاقہ کے نویں دن خواجہ اجمیری عالم واقعہ میں تشریف لئے اور فرمایا کہ اے امداد اللہ تم کو بہت تکالیف اٹھانی پڑیں- اب تیرے ہاتھوں پر لاکھوں روپے کا خرچ مقرر کیا جاتا ہے- [شمائم امدادیه: حصه سوم ص٧٩] **ژباړه:** د لوږې په نهمه ورځ خواجه اجمیري، په حقیقي بڼه تشریف راوړ او هغه وویل:

اې امداد الله!

تا ډېر زیات تکلیفونه وګاللل، اوس ستا په لاسونو د لکونه روپو مصروفول مقرریږي.

تاسو لږ دا اندازه وګورئ چې د حاجي اجمیري د مرګ څومره وخت تیر شوی، د ځمکې په تل کې هغه څنګه خبر شوی چې د حاجي صاحب لاس تنګ دی؟ څوک د مور بچي شته چې دا کیسه را جوړه کړي؟

دا خو د خواجان معین الدین او د اجمیري د رازقیت (رزق ورکول) انفرادي حال دی، اوس د اجتماعي مجلس د رزق پریکړې هم واورئ:

حاجي امداد الله له سید قطب علي څخه روایت کوي چې هغه فرمایي: کہ میں نے عالم واقعہ میں تمام اولیاء کو عموما حضرت خواجگان چشت کو خصوصا دیکھا ذکر تمہارا سنا- ایک صاحب نے ان میں سے تمہاری نسبت فرمایا کہ مصارف ان کے بہت ہیں اور آمدنی اقل قلیل- اس کے جواب میں بزرگان چشت نے فرمایا (قدس سرہم) کہ ہاں ایسا ہی تھا- لیکن فی الحال واسطے "رفع مایحتاج" یہ ان کے لئے وظیفہ مقرر کردیا گیا ہے اب جس قدر کہ حاجت ہوگی عنایت ہوا کرے گا- "فالحمدللہ علی نوالہ" کہ تب سے رفع ضروریات لاحقہ بلا تردد و تفکر غیب سے ہوتا ہے- راقم عاجز نے بچشم خود دیکھا ہے کہ معارف کثیر بے سبب ظاہری بہ احسن وجوہ انجام پاتے ہیں- یہاں سے معلوم ہوہ کہ استغنائے تام پرستاران حضرت ایشاں سے ہے کبھی اغنیاء وامراء کے یہاں قدم رنجہ نہیں فرماتے- [شمائم امدادیه حصه اول ص١٢]

ژباړه: ما په حقیقي نړۍ کې ټول اولیاء کرام په عامه توګه او په ځانګړې توګه د چشت خواجه‌ګان

وليدل او ستا ذکر مې واورېدو، يو صاحب پکې ستا په اړه ويل: د ده لګښتونه (مصارف) ډېر زيات دي خو آمدن يې بيخي لږ دی، د دې په ځواب کې د چشت مشائخو وفرمايل: دا خبره همدغه شان ده خو في الحال د "رفع ما يحتاج" [د اړتيا موافق] وظيفه ورته ټاکل شوې ده، اوس چې څومره يې حاجت وي نو ورته به ورکول کېږي "فالحمد لله على نواله" چې له دې څخه وروسته ضرورتونه له شک پرته له غيبو پوره کيدل، ليکوال عاجز په خپلو سترګو دا حال ليدلی دی چې ډېر مصرفونه به له کوم ظاهري سبب پرته، په ښه ډول پوره کيدل، له دې ځايه معلومه شوه چې استغناء د حضرت صاحب نوم دی چې کله يې هم د مالدارو او د اميرانو په در قدم ندی کيښودلی.

د رزق ورکولو د قوت اظهار په يو ځای کې داسې شوی چې حاجي امداد الله صاحب فرمايي: میرے حضرت کا ایک جولاہا مرید تھا۔ بعد انتقال حضرت کے مزار شریف پر عرض کیا کہ حضرت میں بہت پریشان اور روٹیوں کا محتاج ہوں، کچھ دستگیری فرمائیے۔ حکم ہوا کہ تم کو ہمارے مزار سے آنہ یا آدھ آنہ روز ملا کرے گا۔ ایک مرتبہ میں زیارت کو گیا وہ شخص بھی حاضر تھا۔ اس نے کل کیفیت بیان کرکے کہا۔ ہر روز وظیفہ مقررہ پائیں قبر سے ملا کرتا ہے۔ [شمائم امدادیه حصه سوم ص٨٤]

ژباړه: زما د حضرت يو ډېر عبادت کوونکي (توتې جوړوونکی) مريد وه، له مرګ څخه وروسته يې د حضرت قبر ته وويل چې حضرت صاحب! زه ډېر زيات پريشانه او محتاج يم او ډوډۍ ته ډېره اړتيا لرم، څه نا څه مرسته مې وکړه نو حکم ورته وکړای شو چې تا ته به زما له قبر څخه هره ورځ يوه انه يا نيمه انه په لاس درځي، يو ځل زه د زيارت لپار لاړم هغه کس هم شتون درلود، هغه دا ټوله کيسه راته وکړه او دا يې وويل: هره ورځ دا وظيفه له لاندې قبر څخه راکول کېږي.

د مړو خبرې اترې..!

خدام الدين لاهوري شيخ التفسير نمبر [ص٤٤] کې د قبرونو څخه د مړو خبرو اترو کيسه هم ولولئ: مولانا لاہوری نجم المدرس کے سالانہ جلسہ پر کراچی تشریف لائے آپ سے مولانا ظہور الحق افغانی نے دریافت کیا کیا آپ بالا کوٹ سید صاحب اور مولانا شہید کے مزار پر تشریف لے گئے ہیں فرمایا ہاں علامہ افغانی نے دریافت کیا کہ حضرت کیا وجہ ہے کہ سید صاحب شیخ اور مرشد ہیں مگر ان کی قبر پر انوار مولانا کی نسبت کم معلوم ہوتے ہیں حضرت نے فرمایا، ہاں! واقعہ یہی ہے مگر میں نے صاحب قبر سے دریافت کیا تو اس نے کہا کہ میں سید احمد شہید نہیں ہوں۔ میرا نام بھی سید احمد ہے۔ میں مولانا کا مرشد نہیں ہوں۔ [ص٧٠]

ژباړه: مولانا لاهوري په کراچۍ کې د نجم المدارس کلنۍ غونډې ته راغلی وه، له هغه څخه مولانا ظهور الحق افغاني پوښتنه وکړه: تاسو بالاکوټ کې د سيد صاحب او د شهيد صاحب قبرونو ته تللي ياست ؟ نو حضرت صاحب ځواب ورکړ: هو. علامه افغاني وپوښتل: حضرت صاحب دا څه علت دی چې سيد صاحب شيخ او پير (مشر او مرشد) دی خو د هغه په قبر انوار او برکات د شهيد صاحب په نسبت لږ ښکارېږي؟

نو حضرت ځواب ورکړ: هو! خبره همداسې ده خو ما يو ځل له دې قبر صاحب څخه معلومات وکړل نو هغه ځواب راکړ چې زه سيد احمد شهيد نه يم؛ زما نوم هم سيد احمد دی او زه د شهيد صاحب مرشد نه يم.

د قيامت په ورځ خپل پير څخه کومک غوښتل.!

واخلئ د ديوبنديانو د پير او مرشد حاجي امداد الله صاحب د مشکل حل کولو عقيده واورئ او د توحيد ټيکه دارانو ته د دوی د شرک شاباسی ورکړئ.

واخلئ د ديوبنديانو د پير او مرشـد حاجي امداد الله صــاحب د مشکل حل کولو عقيده واورئ او د توحيد ټيکه دارانو ته د دوی د شرك شاباسی ورکړئ.

د الله په دربار کې د حاجي امداد الله صـــاحب د پير څواکمني او مخورتيا (اثر او رسوخ) وګورئ، حاجي امداد الله صاحب فرمايي:

تم ہو اے نور محمد خاص محبوب خدا
ہند میں ہو نائب محمد مصطفی
تم مدد گار مدد امداد کو پھر خوف کیا
عشق کی پر سن کی باتیں کانپتے ہیں دست وپا
اے شہہ نور محمد وقت ہے امداد کا
اسرا دنیا میں ہے از بس تمہاری ذات کا
تم سوا اور وسے ہرگز کچھ نہیں ہے التجا
بلکہ دن محشر کے بھی جس وقت قاضی ہو خدا
اپ کا دامن پکڑ کر یہ کہوں گا برملا
اے شہہ نور محمد وقت ہے امداد کا
[شمائم امدادیہ]

ژباړه:

اې نور محمده!
ته د الله خاص محبوب يې
او په هند کې د محمد مصطفى نائب يې
ته د امداد الله مرستندوی يې نو هغه ته بيا ډار له چا ده
د عشق خبرو اوريدو سره لاس، پښې ډاريږي اې شاه نور محمده!
دا د کومک وخت دی
په دې دنيا کې يوازې ستا د ذات اسره ده
له تا پرته له نورو خلکو د هغه هيڅ غوښتنه نشته
بلکې د قيامت په ورځ چې الله تعالی به قاضي وي
ستا لمن به نيسم او دا خبره به په ډاګه کوم اې شاه نور محمده!
دا د کومک وخت دی

حســـبنا الله ونعم الوکيل، د شرك غرونه يې قايم کړل او د توحيد جنازه يې وويســـتله! د قيامت په ورځ چې کله الله تعالى قاضـي وي او څوك به ساه هم نشي اخستلای حتی انبياء به له ډاره غلـــــي ولاړ وي خو د ديوبنديانو عمومي مشـر امداد الله وايي هغه ورځ باندې به هم زه د خپل پير څخه کومك غواړم! او دا خبره ورته څنګه معلومه شوه چې د هغه پير صاحب د الله خاص محبوب دی، حال دا چې د الله رسول صلى الله عليه وسلم فرمايي: ولا أعلم ما يفعل الله بــــي ولا بكم. ژباړه: زه نه پوهيږم چې الله به له ما او ستاسو سـره څه کوي؟

همدا رنګه يوې صـحابيه ښـــځې د نبي عليه السلام په زمانه کې د خپلې ګاونډی صحابيه ښـــځې د جنتي کيدو ګواهي ورکړه نو د الله رسول صلى الله عليه وسلم منع کړه چې تا ته څه علم دی؟

نو دا حاجي امداد بيا له کومه خبر شو؟

او بيا په کومه ورځ چـې دا حالت وي چـــې جبرايل عليه السـلام او ملائك په صفونو کې ولاړ وي او داسې حال به وي:

﴿لَّا يَتَكَلَّمُــونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا﴾ [سُورَةُ النَّبَإِ: ٣٨]

ژباړه: خبرې به نشــي کولای، مګر هغه څوك چې الله ورته اجازه کـړې وي او په دنيا کـې يې صحيح خبره کړې وي.

په کومه ورځ چې ټول پيغمبران له شـــفاعت څخه انکار وکړي، او محمد صـــلى الله عليه وسلم د عرش ښــــې نيولې وي او په سجده کې الله ته عاجزي وکړي نو په دې وخت کـې

به نور محمد صاحب کومک کوي چې د هغې له امله به حاجي صاحب بې خطره وي او الله فرمايي: ﴿إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ﴾[سُورَةُ البَقَرَة: ١٦٦]

ژباړه: کله چې هغه مشران او رهبران د کومو چې په دنیا کې پیروي کېدله، له خپلو پیروانو څخه به بیزاري ښکاره کړي او وبه ویني عذاب او د هغوي ټول روابط او تعلقات به غوڅ شي.

همدا رنګه الله عزوجل فرمايي: ﴿وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَىٰ كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَاكُمْ وَرَاءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمُ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاءُ ۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ﴾ [سُورَةُ الأنعَام: ٩٤]

ژباړه: او یقینا دا دی اوس تاسې هماغسې یوازې، یوازې زموږ په وړاندې حاضر شوئ، لکه څنګه چې موږ په لومړي ځل تاسې یوازې پیدا کړي وئ. څه چې موږ تاسې ته په دنیا کې درکړي وه، هغه ټول تاسې شا ته پرېښې، راغلي یاست او اوس موږ ستاسې سره ستاسې هغه سپارښ کوونکي هم نه وینو چې د هغو په باب ستاسې دا ګمان ؤه، چې ستاسې د چارو په برابرولو کې، هغوی هم یو څه برخه وال دي، ستاسې ټولې خپلمنځې اړیکې پرېکړل شوې او هغه ټول درڅخه ورک شوه چې تاسې یې ګمان درلود.

عام انسان خو لا څه چې الله د ملائکو په اړه فرمايي: ﴿وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِن بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَن يَشَاءُ وَيَرْضَىٰ﴾ [سُورَةُ النَّجْم: ٢٦]

ژباړه: او په اسمانونو او ځمکه کې ډېرې ملائک د هغوی شفاعت ته څه ګټه نشي ورکولای، مګر د الله له اجازې وروسته، د هغه چا لپاره چې الله یې وغواړي او هغه ته یې خوښه شي.

په یو بل ځای کې الله فرمايي: ﴿يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا﴾ [سُورَةُ طه: ١٠٩]

ژباړه: په دې ورځ به چاته شفاعت فایده ورنکړي مګر هغه څوک چې الله ورته اجازه کړې وي او د هغه له وینا څخه راضي شوی وي.

له حاجي صاحب سره د خپل پیر او مرشد حاجي نور محمد صاحب په اړه کوم ثبوت او دلیل شته چې الله به ورته اجازه ورکوي او الله به ورڅخه راضي وي؟ حاجي صاحب خو دا خبره کړې ده.

اے شہہ نور محمد وقت ہے امداد کا

ژباړه: اې شاه نور محمده! د مرستې او کومک وخت دی.

او الله تعالی دا ارشاد فرمايلی دی: ﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا﴾ [سُورَةُ بنی اسرآئیل/الإسرَاء: ٥٦]

ژباړه: اې نبي! ووایه را وغواړئ هغه څوک چې تاسو پرې له الله پرته یقین کړی و، نو هغوی له تاسې څخه د تکلیف لرې کولو واک نه لري او نه یې اړوی شي.

نو د حاجي امداد الله دا وینا او خبره غلطه ده:

تم مدد گار مدد امداد کو پهر خوف کیا

ژباړه: ته د مرستې مرستندوی یې نو امداد (ځان یادوي) ته بیا ډار له څه دی.

او حال دا دی چې الله خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته فرمايي: ﴿قُل لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۚ﴾ [سُورَةُ الأعرَاف: ١٨٨]

ژباړه: ورته ووایه؛ زه د خپل ځان لپاره د ګټې او تاوان مالک نه یم مګر دا چې الله یې وغواړي.

همدا رنګه الله عزوجل خپل نبي علیه السلام ته دا خطاب کړی دی: ﴿قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا﴾ [سُورَةُ الجنّ: ٢١]

ژباړه: ورته ووایه زه تاسې ته نه د څه زیان رسولو واک لرم، نه د څه ښېګڼې.

کله چې د الله پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احد په جنګ کې له زخمي کېدو وروسته دا دعا وکړه: (کیف یفلح قومٌ شجّوا راس نبیّهم) [الحدیث]

ژباړه: هغه قوم به څنګه کامیاب شي چې هغوی د خپل نبي سر (مخ) مبارک یې زخمي کړی دی.

نو الله دا آیاتونه نازل کړل: ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَيْءٌ﴾ [سُورَةُ آل عِمرَان: ١٢٨]

ژباړه: اې نبي! د تقدیر په معامله کې تا ته هیڅ کوم اختیار نشته.

نبي علیه السلام خپل، خپلوان راټول کړي وه او دا یې ورته ویلي وه: "لا أغنی عنکم من الله شیئا" [الحدیث]

ژباړه: زه له تاسو د الله له عذاب څخه هیڅ نشم ژغورلای. یعني تاسو خپل عمل کوئ ځکه: ﴿فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ ٦ فَهُوَ فِى عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ﴾ [سُورَةُ القَارِعَة: ٦ ـ ٧]

ژباړه: نو د چا (د نیکی) تله چې درنده وي، هغه به په خوشحاله ژوند کې وي.

د یو انسان په اسره یا پناه کې دومره ډاډه کیدل خو کومه ځیرکتیا نده، د حاجي صاحب یوه، یوه خبره جدا، جدا له شرك څخه ډکه ده، هغه لیکي: اسرا دنیا میں ہے از بس تمھاری ذات کا. ترجمه: یوازې ستا د ذات اسره ده په دنیا کې او د حقیقي مسلمانانو خبره دا ده!

(حسبی الله ونعم الوکیل، نعم المولی ونعم النصیر) ژباړه: الله زمونږ لپاره کافي دی او هغه ډېر ښه کار جوړونکی دی، ډېر ښه دوست او ملګری دی.

﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمْرِهِۦ ۚ﴾ [سُورَةُ الطّلَاق: ٣]

ژباړه: څوك چې په الله باندې ځان سپاري نو هغه ورته کافي دی.

په یو بل ځای کې الله عزوجل فرمایي: ﴿وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ﴾ [سُورَةُ البَقَرَة: ١٠٧]

ژباړه: له الله پرته ستاسو څوك ملګری او کومکي نشته.

بل ځای کې الله عزوجل فرمایي: ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْحَىِّ ٱلَّذِى لَا يَمُوتُ﴾ [سُورَةُ الفُرقَان: ٥٨]

ژباړه: او په هغه ژوندي ذات باندې توکل وکړه چې هغه نه مري (نه مر کیږي).

یعني د انسان اسره به یوازې د الله ذات وي؛ بل څوك به نه وي. حاجي صاحب خو فریاد او التجاء هم له الله څخه پرته نورو خلکو ته کوي:

تم سوا اوروں سے ہر گز کچھ نہیں ہے التجاء

ترجمه: له تا پرته نورو څخه هیڅکله هیڅ غوښتنه نشته.

او الله عزوجل فرمایي: ﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ﴾ [سُورَةُ النَّمل: ٦٢]

ژباړه: هغه څوك دی چې د محتاج دعا قبوله کړي او له هغه څخه تکلیف لرې کړي؛ کله چې هغه الله رابولي.

مسلمانان په هر لمانځه کې دا وعده او دعا کوي: ﴿وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ [سُورَةُ الفَاتِحَة: ٥]

ژباړه: اې زمونږ الله! مونږ یوازې له تا مرسته غواړو.

کومك او غوښتنه به یوازې له الله څخه کیدلای شي، له الله پرته بل چا څخه مرسته غوښتل منع دي.

لکه الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۖ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ [سُورَةُ يُونس: ١٠٦]

ژباړه: له الله پرته نور خلك مه رابله، هغه چې نه تا ته تاوان درکولی شي او نه ګټه، که تا دا کار وکړو نو ته به له ظالمانو څخه یې، او دې ځای کې د حاجي امداد الله تول غوښتنه له غیر الله څخه ده.

حال دا چې ابراهیم علیه السلام ته الله فرمایي:

﴿وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدْعُوا رَبِّى﴾ [سُورَةُ مَريَم: ٤٨]

ژباړه: زه تاسې هم پرېږدم او هغه هستی هم چې تاسې یې له الله پرته رابولئ. زه به خپل رب رابولم.

دغه ډول کله چې زکريا عليه السلام له الله څخه بچې غوښتلو نو خپل رب ته يې دا سوالونه او زارۍ کولې: ﴿قَالَ رَبِّ إِنِّى وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّى وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا﴾ [سُورَةُ مَريَم: ٤]

ژباړه: اې زما ربه! زما هډوکي کمزوري شوي دي او د بوډا والي له امله زما سر سپين شوی دی او اې زما ربه! ستا له رحمت څخه نا اميده نه يم.

سوال او حاجت به له الله څخه غوښتل کېږي، لکه: نبي عليه السلام فرمايي: "سلوا الله من فضله فانّ الله يحبُّ ان يسأل" [ترمذی]

ژباړه: له الله څخه د هغه فضل او رحم وغواړئ ځکه الله دا خوښوي چې له هغه څخه غوښتل وشي.

دارنګه نبي عليه السلام خپل د تره زوی ته فرمايي: "واذا سألت فاسئل الله واذا استعنت فاستعن بالله" [ترمذی] ژباړه: کله چې سوال کوې (يو څه غواړې) نو يوازې له الله څخه سوال کوه (له الله يې غواړه) او کله چې کومک غواړې نو يوازې له الله څخه غواړه.

همدارنګه نبي عليه السلام فرمايي: "سئلو الله كلّ شيءٍ حتّى الشسع إذا إنقطع" [ابو يعلى] ژباړه: له الله څخه هر شي وغواړئ، تر دې چې د پڼې يو تار هم وشکېږي (هغه هم له څخه يې غواړئ).

نو اوس به هم ته دي عقيدې ته سالمه او سمه عقيده وايې؟

تم سوا اوروں سے ہر گز کچھ نہيں ہے التجا

ژباړه: له تا پرته نورو څخه هيڅکله هيڅ غوښتنه نشته.

حال دا دی ابن کثير فرمايي: "والاستعاذة هي الالتجاء الي الله" [تيسير العزيز الحميد: ص١٧٨]

ژباړه: استعاذه په اصل کې له الله عزوجل څخه کومک (پناه) غوښتل دي.

او شيخ الاسلام فرمايي: "وقد نصّ الائمّة كاحمد وغيره على انّه لا يجوز الاستعاذة بمخلوق" [تيسير العزيز الحميد: ص١٧٨]

ژباړه: يقينا امامانو لکه امام احمد دليل نيولی چې مخلوق باندې پناهي غوښتل جايز نه دي.

د مسلمانانو لپاره خو دا حکم دی: ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً﴾ [سُورَةُ الأعرَاف: ٥٥]

ژباړه: خپل رب په عاجزۍ او په پټه راوبولئ.

او دا خبره کول هم ډېره ستره بې باکي ده:

بلکہ دن محشر کے بھی جس وقت قاضی ہو خدا
اپ کا دامن پکڑ کر یہ کہوں گا برملا
اے شہہ نور محمد وقت ہے امداد کا

ژباړه: ترديې چې د قيامت په ورځ به هم کله چې الله قاضي وي ، ستا لمن به نسيم او دا به په ډاګه وايم. اې شاه نور محمده! د کومک او مرستې وخت دی.

د کومې ورځې په اړه چې الله فرمايي: ﴿يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ۖ وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ﴾ [سُورَةُ الانفطار: ١٩]

ژباړه: هغه ورځ چې يو نفس به د بل نفس لپاره د هيڅ شي واک نه لري او په دې ورځ به واک او فيصله يوازې د الله تعالى وي.

او دا خو نور محمد دی. الله تعالی د خپل نبي محمد صلى الله عليه وسلم په اړه فرمايي: ﴿أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِى النَّارِ﴾ [سُورَةُ الزُّمَر: ١٩]

ژباړه: هغه څوک چې په هغه باندې د عذاب پريکړه شوې وي نو ته هغه انسان د جهنم له اور څخه ژغولای شې؟

نو بيا په دې ځای کې نور محمد صاحب څه کولای شي؟ او د حاجي صاحب له نور محمد څخه مرسته غوښتل شرك دی ځکه دا له ظاهري اسبابو پرته مرسته غوښتل دي.

﴿وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ﴾ [سُورَةُ الأنفَال: ١٠]

ژباړه: او مرسته يوازې د الله له لوري کېدلای شي.

او مرسته به هم يوازې له الله څخه غوښتل کيدای شي، او "استغاثه هي طلب الغوث" ژباړه: استغاثه د (په سختۍ کې) کومک غوښتلو ته ويل کيږي.

"هو إزالة الشدّة كالإستنصار طلب النّصر، والإستعانة طلب العون. الإستغاثة طلب الغوث" [تيسير العزيز الحميد: ص١٨٠]

ژباړه: دا د سختۍ لرې کولو ته وايي لکه څنګه چې استنصار نصرت غوښتلو ته وايي، استعانت کومک غوښتلو او استغاثه د سختۍ په وخت کې کومک غوښتلو ته وايي.

او مسلمانان خو يوازې له الله څخه کومک غواړي، لکه قران کې الله تعالی فرمايي: ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ﴾ [سُورَةُ الأنفَال: ٩]

ژباړه: کله چې تاسو له الله څخه کومک غوښتلو نو الله ستاسو دعا قبوله کړه.

د علم غيب مسئله ډېره مشهوره او معروفه ده، او د ديوبنديانو او بريليانو ترمنځ د جنګ لامل هم ده، د دې مسئلې له امله ديوبنديان بريلي حضراتو ته د شرك نسبت کوي او خپل ځان ته مؤحدين وايي خو دا يوازې د ژبې دعوه ده او په حقيقت کې هغوی هم علم الغيب د الله ځانګړتيا نه بولي او دا لاندې کيسې په دې خبره دلالت کوي

ديوال که ښيښه

اوس د ديوبندي عالم نه بلکې د خادم غيبي قوت وګورئ چې نوم يې ديوانجي وه او د مولانا قاسم نانوتوي کورنۍ خادم وه، د هغه په اړه د دارالعلوم ديوبند پخواني مهتمم مولانا حبيب الرحمن فرمايي: اس زمانے میں کشفی حالت دیوان جی کی اتنی بڑھی کہ باہر سڑک پر انے جانے والے نظر آتے رہتے تھے۔ درو دیوار کا حجاب ان کے درمیان ذکر کے وقت باقی نہ رہتا تھا۔ [حاشیہ سوانح قاسمی: ج٢/ص٧٣]

ژباړه: په دې زمانه کې د ديوانجي صاحب کشفي حالت دومره زيات شوی وه، چې د باندې په سرک کې به يې تلونکي راتلونکي خلک ليدل، د ذکر وخت کې به د کورونو او ديوالونو پردې د هغه لپاره هيڅ هم نه وې.

د دوی په لمونځ کې ذکر نه وه، حال دا دی چې د لمونځ مقصد د الله ذکر دی، الله عزوجل فرمايي: (أقم الصلاة لذكري)

ژباړه: لمونځ زما د ذکر لپاره قائم کړه.

لمونځ کونکي د الله په ذکر کې بوخت وي.

او که حقيقت دا وي نو بيا عمر رضي الله عنه ته خپل قاتل ولې په وروستي صف کې ښکاره نشو، ولې هغه د الله ولي نه وه؟ (نعوذ بالله) او که يوازې د دې خلکو لپاره دا موانع او پردې پورته کېدای شي او د خاورې ديوالونه ورته د ښيښې په څېر ښکاري.

راځئ يو خليفه مجاز حافظ عمر علي ګړهي ته د غيبو راښکاره کېدل وګورئ.

نوراني تار...!

د اشرف السوانح مصنف ليکي: ایک بار حافظ ریل میں بیٹھے بیٹھے عالم بیداری میں دیکھا کہ مسجد خانقاہ کے گنبد سے آسمان تک نور کا ایک تار لگا ہوا ہے۔ [اشرف السوانح ج٣/ص٦]

ژباړه: يو ځل حافظ صاحب په اور ګاډي (ريل ګاډي) کې د ناستې په حالت کې په ويښه په حقيقي سترګو سره وليدل چې د خانقاه جومات له ګنبدې څخه يو نوراني تار تر آسمان پورې تللی وه، کله چې د وړوکي ميا صاحب د غيبي قوت، د ادراك (حال معلومول يا د هر ځای پوهه لرل) دا حال دی چې د سر په سترګو د غيبو عالم ګوري نو دا تاسو سوچ وکړئ چې د دوی د شيخ، د انکشافي قوت به څه حال وي؟

دا خبره په ذهن کې کېښېنوئ او د شيخ د کشف قوت اندازه له دې څخه ولګوئ چې د دې ډلې د يو مجذوب (ليوني) د کشف حالت دا دی:

د "درس حیات" کتاب د مصـــــنف ملګري په سـیمه کې یو مجذوب وه، چې د ده ورسـره پېژندګلوي وه، یوه شـــپه هغه راووتلو نو ویې لیدل چې دغه مجذوب د ده مخې ته تیر شـو، دا هم ورپسـې روان شو او له سیمې څخه د باندې لـرې لـرې دغه مجذوب ودرېده او "ګهـړو" دا هغه علاقه وه چې دې اړخ ته د مولانا بشارت کریم کور وه او له هغه سره یې خبرې پیل کـړې: ارے دیکھ، ادھـــر دیکھ! وہ دیکھ گڑھوں میں مولانا بشارت کریم صـاحب ذکر کر رہے ہیں اور ان کے مکان ســـــے عرش تک نور ہی نور ہے۔ ارے اندھے دیکھ تجھ کو نظر نہـیں آتا وہ دیکھ۔ [درس حــیات: ص۳٤۲]

ژباړه: اې ړېخـوا وګـــوره! ړېخـــوا وګوره! مولانا بشـــارت کریم صاحب په ذکـــر بوخت دی او د ده له کور څخه تر عرشـــــه رڼا او رڼا ده، اې ړونده وګوره! تاته نه ښـــکاري هغه وګوره.

هغه لیونی چـې دماغـي توازن یـې برابر نه دی او لیوني داســـې ګڼې وړې ړېرې وايي خو که چیـرې تا دا ګڼې وړې وګڼلـې او له دې څخه دې تیریدل غوښـــتل نو دیوبندیان به دې له پښو کلک ونیسي او د دې لیوني د خبرو په صـداقت داسـې یقین کوي لکه مسـلمانان یې چې د الله عزوجل په خبره کوي. څنګه چې دې مصنف ویلي: اللہ اللہ یہ ہے ذکـر اور یہ ہے ذاکـر۔ جن کے انوار کا کوئی آنکھ والا ہی مشـــــاہدہ کر سکتا ہے۔ نہ صـرف قریب ســے بلکہ آٹھ نو میل کی دوری سے اس طرح مشــــاہدہ کرتا ہے جیسـا محســوس چیز کو بہت قریب ســے کوئی دیکھ رہا ہو۔ [درس حیات: ص۳٤۲]

ژباړه: الله، الله، دا اوس [سـم] ذکر دی او دا حقیقي ذاکر دی چـې د دې ذکر مشاهده یوازې د حقیقي سترګو خاوند کولای شــــي، یوازې له نژدې ځای څخه نه بلکـې له اته (۸) میله لرې واټن څخه یې داسې ویني لکه یو انسان چې له نژدې ځای څخه یو محسوس شی ګوري.

د لیونـي په دې لیونتوب د یقین حد ته وګورئ، د نهه (۹) میله فاصلـې له لرې والي، د شـــپې په تیارو کې، له ځمکي تر عرشـــــه ځای لیدل، د عجیبه انوارات او عجائباتو مشاهده کول، له منځه پردې او تیارې لـرې کېدل، که دا ټول شـــیان د یو ادنی أمتي یا مخبوط الحواس (لیونـی یا هغه چې اعصـــاب یې کار نه کوي) انســـان په حق کې منل کېدای شي، نو د بریلیانو د وینا په اساس که دا علم د نبي صـــلی الله علیه وســـلم لپاره ومنل شـــي نو په هغه باندې ولې د شرك فتوی ورکوئ؟

د خراســـــــان غږ مجلې درنو لوسـتونکو د دیوبندیانو د عقېدوي خرافاتو ، شـرکیاتو ، بدعاتو او کږو نورو انحـــــرافاتو په اړه به د دې سلســـــله واري لړۍ اومه برخه د مجلې په راتلونکې ګڼه کې ولولئ ان شاء الله

د تصوف

بنیاد نړولو سره شرف حاصلول

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! تاسې د صوفي مشرکېنو د عقيدوي خرافاتو، انحرافاتو، شرکياتو او ډول، ډول گمراهيو په اړه د دې مدللې، مالوماتي، عملي او تحقيقاتي لړۍ شپږمه برخه د مجلې په ځلوېشتمه گڼه کې لوستې وه اوس مو په دې گڼه کې د يادې سلسلې د اوومې برخې لوستو ته رابولو.

(تفريح القلوب والسرور)

[بإبطال مواضع الشرك وتهديم أبنية القبور]

مخکې فصل کې مونږ د لوی الله په خاص فضل او توفيق سره د صوفيانو دبې دليله بدعي اعمالو څخه د دوی بدعي بيعتونو باندې رد وکړ اوس به په دې فصل کې بتوفيق الله تعالی دا ذکر کړو چې د دوی په قبرونو قُبی گُنبدې او آباديانې جوړوي چې د دوی دا کار هم په څه دليل نه دی بناء بلکه د صحيح نص او دليل خلاف او برعکس عمل دی، ځکه صحيح مسلم کې په نمبر۱۶۱۶ باندې صحيح حديث موجود دی جابر رضي الله عنه فرمايي: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : (أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ ، وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ ، وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ) "

(ژباړه) رسول الله صلی الله عليه وسلم منع فرمايلې د دې څخه چې قبر چونه کړې شي او له دې چې ناسته پرې وکړای شي او له دې چې آبادي دې پرې جوړه کړې شي، او په صحيح روايت د سنن النسائي کې ورسره داهم دي چې "وأن يكتب عليه " اوله دې يې هم منع فرمايلې چې ليکل دې پرې اوشي.

نو وگورئ دلته د الله نبي د قبرچونه کول او په هغې آبادي جوړول منع کړې دي خو د تصوف په دنيا کې تاسو وگورئ کوم پير دی چې دوی يې په قبر کوټې او گونبتې نه وي جوړې کړي، رنگول او د آبادۍ ډيزاينونه او نقشې خو يې داسې وي چې بيخې ته به وايې چې دا د ژوندو اوسېدونکو کور دی داسې پړق او پروق او چراغونه پرې لگيږي، قبرونه داسې مضبوط پخوي او دومره اوچت يې جوړوي چې د نبي صلی الله عليه وسلم د امر د مخالفت هيڅ فکر او پرواه نه کوي.

صحيح مسلم کې په ۱۶۱۵ نمبر باندې د ابو الهياج الاسدي رحمه الله نه نقل دي هغه فرمايي: "ماته على رضي الله عنه وفرمايل: (أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ ، وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ)

(ژباړه) آيا زه تا په هغه څه باندې ونه ليکم په کوم چې زه نبي صلی الله عليه وسلم ليکلی وم او هغه دا چې ته روغ پرېنه دې يوه مجسمه مگر داچې خرابه يې کړې او نه کوم قبر اوچت مگر داچې هغه برابر کړې د ځمکې سره، نو عزتنمدو داشو د شريعت د امام او رهبر محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم امر خو د دې برعکس صوفيان چې چرته مقبره کې اوچته غونډۍ ووينې نو له ليرې ورته تعظيمونه شروع کړي دوی په قبرونو دغه ډول بناگانو جوړولو سره دبې علمه مسلمانانو زړونو ته د دې مړو تعظيم ورننباسي همدا په قبرونو جوړې شوې محرمې او ممنوعه گنبدې او تعميرات دي چې د دې په مرسته يې د قبر پرستۍ بازار گرم کړی دی، نن يې عبادتو نه کيږي سجدې ورته کيږي او حتی طواغيت حکومتونو يې په رسمي توگه د تحفظ او ساتنې د پاره قوانين او مادي خاص کړي دي خلکو دلات او منات غونډۍ معبودان گرځولي دي، تاسو به پاکستان کې د عمران خان مرتد هغه سجده ليدلې وي چې قبر ته يې وکړه دغه ډول په هندوستان او پاکستان کې د صوفيانو دغه جوړ کړې مزاراتو باندې به مو د نواز شريف، زر داري، بې نظيرې او نورو ډيرۍ مرتدو حکامو د ځادر غوړولو او فنډونو ورکولو او تعظيم کولو هغه اصدارات او ويډيو گانې ليدلې وي، دغه ډول په افغانستان کې به مو د

بلخ مشهور زيات چې د مزار شرير په نوم مشهور دی د هغې حال به مو کتلی وي چې تر ننه يې د افغانستان مرتد حکام او حکومتونه څنګه لمانځې سره له دې چې په هغې کې کوم کوم شرکيات او کفريات حتی د زنا او د فحشا په کې کوم کوم څه نه ترسره کيږي او نن خو يې لامرتدو طالبانو چې د تصوف حاميين او معتقدين دي د دې او دې ته ورته د جمله شرکي مواضعو حتی د بوتانو هم د ساتنې او ترويج خاص اهتمام شروع کړی دی د افغانستان په هرولايت کې صوفيانو جوړ کړی شل ګزی او چل ګزی باباګان دغه ډول د زيړي او د دانو بابا ګان دغه ډول غيره نور هغه بې شماره ګنبدې او قبې چې ډيری خلق يې د مشکل کشاء په صفت پيژنې بيخي د الله صفات يې ورته منسوب کړي چې علت او سبب يې ورباندې هم دا بنا ګانې رنګونه او اوچتې اوچتې قبې ګنبدې او ابادياني جوړول او رنګارنګ څادرونه غوړول دي څکه دغه کار په اسلام کې مطلق حرام دی ابتدا د اسلام کې د دې بوی هم نه وو موجود مشهور فقيه إمام شافعي رحمه الله په خپل کتاب الأم ١/٣١٦ کې فرمايي ولم أر قبور المهاجرين والأنصار مجصصة (ژباړه) ما د مهاجرينو او انصارو صحابه کرامو قبرونه نه دي ليدلي چې هغه چونه کړی شوې وي څکه صحابه او تابعينو نه د قبرونو ډولي کول او پخول او ياهم هغې باندې بناګانې او قبې جوړل او ياهم هغې کې اجتماع ګانې او راغونډيدل بلکل ثابت نه دي دا ډير وقت بعد شروع شوي او د امت د ګمراهی لپاره ايجاد شوی دی

شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله په مجموع الفتاوى ٢٧/٤٦٦ کې فرمايي: (ولم يكن على عهد الصحابة والتابعين وتابعيهم من ذلك شيء في بلاد الإسلام، لا في الحجاز، ولا اليمن، ولا الشام، ولا العراق، ولا مصر، ولا خراسان، ولا المغرب، ولم يكن قد أحدث مشهد، لا على قبر نبي، ولا صاحب، ولا أحد من أهل البيت، ولا صالح أصلا، بل عامة هذه المشاهد محدثة بعد ذلك، وكان ظهورها وانتشارها حين ضعفت خلافة بني العباس)(ش٢٠٤) وتفرقت الأمة، وكثر فيهم الزنادقة الملبسون على المسلمين، وفشت فيهم كلمة أهل البدع، وذلك من دولة المقتدر في أواخر المائة الثالثة؛) (ژباړه) او نه وو د صحابه وو په زمانه کې او نه د تابعينو اونه د هغوی د تابعينو په زمانه کې د دې (جوړو شوو ګنبدو اوپخوقبرونو) څخه هيڅ شی نه وو د مسلمانانو په ښارونو کې نه به حجاز کې او نه په يمن کې نه په شام کې او نه په عراق کې نه په مصر او نه په خرآسان او نه په مغرب کې او نه وو دغه راټوليدل د خلکو قبرونو ته نه په قبر د نبي او نه يې د کوم ملګري او نه د کوم بل اهل بيت او د کوم صالح انسان بلکل بلکه عام دغه بناګانې په قبرونو د اله دې نه بعد پيداشوي دي او د دې ظهور او نشر دا هغه وقت وشو چې کله دبنو عباسو خلافت کمزوری شو او أمت کې ډلې ايجاد شوي او ډير شوو هغه زنادقة چې مسلمانانو باندې يې تلبيس کولو نوپس عامه شوه په دوی کې عقيده د بدعتيانو او دا د مقتدر په دولت کې په دريم قرن په اخر کې وشو "دغه ډول موصوف رحمه الله په بل مقام د مجموع الفتاوى٢٧/١٦٧ کې يې دغه قبرونو باندې بناګانې جوړول دا د کفارو او زنادقه وو د دين دبدلو سازش او د غربيانو سره يې دا کار د مبتدعينو موافقت ګڼلی دی نو د شيخ الاسلام د خبرې نه صفا معلومه شوه چې قبرونه په دې طريقه جوړول او هغې ته راغونډيدل دا ناکاره شنيع بدعت دی او دا کار په دې امت کې نه دی ايجاد کړی مګر د غربيانو او زنادقه کفارو نه متأثر شوو مبتدعينو

امام طحاوي رحمه الله په مختصر اختلاف العلماء ۱/۴۰۷ کې د امام لیث رحمه الله قول نقل کړی چې هغه فرمایي: (بنیان القبور لیس من حال المسلمین وإنما هو من حال النصارى) (ژباړه) قبرونو باندې ابادي جوړول دا د مسلمانانو نه بلکه دا د نصاراو عمل دی نو وګورى عزتمندو دصوفیانو دغه کار د هغوی د نصاراو سره مشابهت کول دي، نو وګورئ مسلمانانو دامت اهل علم داکار د اسلام د دښمنانو عمل معرفی کوي خو صوفیان دا کار د خپلو پیرانو لازم حق ګڼي او په دې کې شک نه شته چې نن زمانه کې دغه د قبرونو د پاسه جوړې شوي قُبې او مزارات دا بیخي د شرک مراکز ګرځیدلي دي چې تصوف کې په خاص اهتمام سره د دې تعظیم او عبادت کیږي بلکه روغ روغ مسجدونه یې په دې قبرونو جوړ کړي او د نورو مساجدو په نزد دې مساجدو کې بیا د زیات اجراو ثواب په نوم لمونځونه کوي ډیری پیران د صوفیانو داسې وي چې مړه شي نو مریدان یې راواخلي او روغ یې د مسجد په کونج کې دفن کې یاېې پیر وصیت کړی وي او یاهم مریدان د تبرک په وجه دا کار کوي سره د دې چې شریعت کې دغه کار حرام ناروا او په سختو الفاظو غندلی شوی دی صحیح البخاري کې په نمبر ۴۱۱۲ باندې دعائشې بي بي رضي الله عنها څخه روایت دی هغه فرمایي چې نبی صلی الله علیه وسلم به هغه مرض کې چې هغې نه وفات شو وفرمایل : { لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ }" (ژباړه) لعنت د الله دې وي په یهودو چې هغوی د خپلو انبیاوو قبرو مسجدونه ګرځولی وو "موطا داامام مالك رحمه الله کې روایت دی چې نبي صلي الله علیه وسلم.وفرمایل : {" اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِي وَثَنًا يُعْبَدُ ، اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى قَوْمٍ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ "} (ژباړه) ای الله زما د قبر څخه بوت مه جوړوه چې عبادت یې وکړې شي، سخت دې شي غضب د الله په هغه قوم چې هغوی د انبیاوو قبرونه مساجدګرځولي دی.

نو مسلمان ولسه فکر وکړئ چې د نبي قبر باندې مسجد جوړول دا د الله د لعنت او د هغه د سخت غضب او د نبي صلی الله علیه وسلم د ښیرا او بد دعا سبب ګرځي، نو چې یو عام د تصوف د خرافاتو داعي راوستل شي او مسجد کې دفن شي او یا یې هم په قبر مسجد جوړ شي نو دا به د کوم وعید مستحق وي فکر تاسو وکړئ نو اوس د داسې قبرونو مزاراتو مشهدونو او قبو او ابادیو حکم باید وپیژنو چې شریعت کې د دې څه حکم دی، نو راځو او د شریعت د سپیڅلي حکم نه ځان خبرو. نو عزتمندو مسلمانانو لکه څنګه چې تاسو ته د تیر تفصیل څخه معلومه شوه چې دغه اوچت قبرونه او په دې جوړې شوي آبادۍ ودرول شوي مناري او ګنبدې او نقش شوي منظرې دا ټول د شرک او قبر پرستی ذریعې او آسباب دي اګر که یو منطقه کې دا موجود وي او قطعا یې څوک تعظیم هم نه کوي بیا به هم دا ناروا محرم او ناجایز وي او نړول به یې ضروري وي په دې دلائل څه دي راځو او دغه دلائل ذکر کوو...

(۱ دلیل) دا د لاة او منات په منزله کې دی نو چې یو شي دومره مرتبه کې خطرناک او ضرري وي نړول او ختمول یې فرض دي الله متعال په قرآن کې د قتال د دوام لپاره تر هغې امر کړی چې ترڅو فتنه ختمه شوي نه وي الله متعال په سورة الأنفَال ۳۹ نمبر ایت کریمه کې فرمایي:

{وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ۚ}

ژباړه : او وجنګیږئ د هغوی (کفارو) سره تردې چې شرک پاتې نه شي او طاعت ټول د الله لپاره وګرځي(ش۲۰۵)

طريقه د استدلال دا ده چې دلته په اتفاق د مفسرينو سره دفتنې نه مراد شرك دى نو چې كله د كفارو سره قتال په دې مقصد جاري وي چې شرك ختم شي نو چې كله د مسلمانانو په منځ كې د شرك اډې ولاړې وي او خپله ځانته مسلمان ويونكى په كې اخته وي او د نسلو نو د تباهۍ سبب ګرځي نو څنګه به نه نړيږي او خلاف به يې مشن جاري نه وي؟!

بل شرك جدا دين دى او اسلام جدا نو په يوه خاوره دوه دينه پرېښودل داكوم شريعت كې دي چې هم دي مسجدونه هم وي او د شرك مراكز او اډې هم.

(٢ دليل) راځو احاديثو د رسول الله صلى الله عليه وسلم ته او دا ډير زيات چې دلته به يې د الله په مرسته او توفيق ذكر كړو

(١حديث) صحيح مسلم كى په نمبر ٨٣٢ باندې حديث دى، عمرو بن عبسة رضي الله عنه فرمايي: ما نبي صلى الله عليه وسلم ته وفرمايل (وبأي شيء أرسلك ؟ قال : " أرسلني بصلة الأرحام ، وكسر الأوثان ، وأن يوحد الله لا يشرك به شيء)"

ژباړه: او په څه كار ته الله راليږلى يې؟ هغه وفرمايل" زه يې په صله رحمۍ ساتلو او د بوتانو په ماتولو او په دې چې الله يو وګڼل شي او هېڅ شريك ورسره ونه نيولى شي، راليږل شوى يم".

نو استدلال د حديث په دې ډول دى چې راتلل د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د.توحيد د قيام او د بوتانو د ماتولو لپاره دى، نو چې كله قبرونه مجسمې او دربارونه، ونيې، كاڼي دا د شرك بالله تعالى اسباب وي نو څنګه به نه شي ماتيداى.

(٢حديث) د صحيح مسلم په حوالې سره تير شو چې رسول الله صلى الله عليه علي رضي الله عنه د اوچتو قبرونو او مجسمو دورانولو په پار ليګلى وه، نو دا هم صريح دليل دى چې دغه ډول او د دې همعنا به واړه نړولى شي.

(٣ حديث) متفق عليه حديث دى جرير بن عبد الله البجلي رضي الله عنه فرمايي: ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اى جريره ته ماته راحت نه راكوې د نوالخلصة چې دا يوه كوټه وه د ختعم قبيلې چې كعبه يمانيه يې ورته ويلې هغه فرمايي زه ورپسې د يوسل او پنځوس (١٥٠) اسپ سوارو په شمار كې ووتلم، فرمايي "خو زه په اسپ نه شوم ټينګيداى (يعني زما د هغې سورلى ياده نه وه) نو دامې نبي صلى الله عليه وسلم ته ياده كړه نو فرمايي: هغه خپل لاس مبارك زما په سينه ووهلو او وه يې فرمايل "اللهم ثبته واجعله هاديا مهديا"

(ژباړه) اى الله دا مضبوط كه او ده لره هدايت كونكى او هدايت موندونكي وګرځوه. فرمايي چې لاړ او هغه يې په اور اوسوځوله او بيا جرير رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوسړى وليږه چې زيرى وركړى چې هغه د ابو ارطات په اسم كنيه ياديداې شو زمونږ څخه نو پس هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى او ورته يې وفرمايل "ما جئتك حتى تركناها كأنها جمل أجرب"

(ژباړه) زه رانه غلم تاته تردې چې موږ هغه د يو ښاربنتي اوښ پشان پريښود. نو فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د حمس په اسونو او د هغې په سړو باندې پنځه ځله د بركت دعا وكړه وجهه د استدلال ښكاره ده خو د مزيد وضاحت لپاره به د مشهور محدث حافظ ابن حجر رحمه الله قول ذكر كړم چې موصوف د دې حديث متعلق په فتح الباري٨/٧٣ كې فرمايلي دي فرمايي:

(وَفِي الْحَدِيث مَشْرُوعِيَّة إِزَالَة مَا يُفْتَتَن بِهِ النَّاس مِنْ بِنَاء وَغَيْره سَوَاء كَانَ إِنْسَانًا أَوْ حَيَوَانًا أَوْ جَمَادًا)

(ژباړه) او په حديث كې دليل دى په جواز د ختمولو د هغه څه چې خلق پرې په فتنه كې غورځيدلى شي د

ابادۍ څخه وي او که نوروي له هغه نه بيا برابره ده دا انسان وي که حيوان وي او که جماد دغه پول د دي نه بغير نور هم ډيرى احاديث موجود دي چې د هغې له جملې څخه هغه دي.

(۴حديث) چې نبي صلى الله عليه وسلم خالد بن الوليد رضي الله عنه په يوه سريه کې د عزا د ختمولو لپاره ليګلى وه.

(۵ حديث) نبي صلى الله عليه وسلم سعد بن زيد الأشهلي رضي الله عنه په يوه سرية کې د امير په صفت د مناة د نړولو په پار ليږلى.

(۶حديث) نبي صلى الله عليه وسلم عمرو بن العاص رضي الله عنه په يوه سرية کې د.امير په صفت د سواع ختمولو په پار ليږلى وه

چې دغه واړه روايات

[البداية والنهاية ۴/۲۱۲ /۴/ ۷۷۶ /۵/۷۶۷ کې او دا پول تقريبا د سيرت په هر کتاب کې ذکر شوى دى.

(۷ حديث) د مسجد ضرار واقعه د تفسيرونو هر کتاب کې صحيح ثابته واقعه موجوده ده چې منافقانو يو مسجد جوړ کړ الغرض چې کله دغه د الله او د هغه د رسول په مخالفت کې جوړ شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم مالك بن الدخشم او معن بن عدي رضي الله عنهما وليګل او ورته يې وفرمايل "انطلقا إلى هذا المسجد الظالم أهله، فاهدماه وحرقاه".

(ژباړه) ورشئ دې مسجد ته چې ظالم دى اهل د هغې ويې نړوئ.

او ويې سوځوئ تفسير ابن كثير ۴/۲۱۲ نو چې کله مسجد د دين د مخالفت لپاره جوړيږي نړول يې واجب او د نبي صلى الله عليه وسلم تابعداري ده نو چې قبرونو باندې ګنبدې مناري اباداني مساجد وغيره درباروته او معبدونه جوړيږي نو دا به څنګه پريښودلى شي راځو د صحابه کرامو معمول ته

(206 ش)

(۱الأثر) دغه پول هغه ونه چې صحابه کرامو ترې لاندې د بيعت الرضوان شرف حاصل کړى ؤ ابن القيم رحمه الله په اغاثة اللهفان ۱/۲۱۰ صفحه کې په سند سره نقل کړى چې کله عمر رضي الله عنه ته خبر ورسيده چې خلک ورځي او د هغې نه لاندې لمونځونه کوي نو فرمايي فقطعها، لأن الناس كانوا يذهبون فيصلون تحتها فخاف عليهم الفتنة

ژباړه: نو پس هغه دغه ونه قطع کړه ځکه چې خلک ورتلل او د هغې لاندې يې لمونځونه کول نو پس ويريده په دې خلکو باندې د فتنې له کبله (چې واقع په کې نه شي)

(۲الأثر) دغه پول د عمر رضي الله عنه په وقت کې د دانيال عليه السلام جسد مبارک راووتلو کيسه د امام ابن اسحاق رحمه الله په مغازى۱/۶۶ کې ذکر ده خلاصه دا چې کله صحابه دا تسليموي چې دا د الله نبي دانيال عليه السلام دى نو د عمر رضي الله په امر د ورځې جدا جدا ديارلس قبرونه کني او بيا د شپې په تياره کې له خلکو پټ به يو د هغې کې دانيال عليه السلام دفن کوي د ابو العاليه نه چې تپوس کيږي چې تاسو څه وکړل نو هغه همدا کيسه کوي او بيا فرمايي فلما كان الليل دفناه، وسوينا القبور كلها، لنعميه على الناس، لا ينبشونه، ژباړه: بس چې کله شپه شوه دا مو دفن کړل او بيا مو هغه ټول قبرونه دځمکې سره هموار کړل چې پټ يې کړو د خلکو څخه چې راويې نه باسي، نو وګورئ عزتمندو د عمر رضي الله عنه د دې کار مقصد ښکاره همدا دى چې څوک د ده د قبر نه مشهد او ميله او د عبادت ځاى او بوت جوړ نه کړي نو دا دلائل ښکاره صراحت کوي پدې چې هر هغه شى او مکان چې د خلکو د ګمراهى سبب وي هغه به نړيدلى شي هغه قبر وي که ونه حجر وي او که بناء او ابادي نو يوه ونه چې قران يې ذکر کوي خو عمر رضى الله عنه يې کټ کوي او هيڅ صحابي

او تابعـــي دا کار نه منع کوي او نه پرې بد وايي دا ولې دا ځکه چې فتنه تـرينه ودريــږي او دا کار بيا نه صـرف دومره بلکې د امت روسـتني سـلف او فقها هم د دې تائيد کوي إمام شافعي رحمه الله په خپل کتاب الأم ۱/۳۱۶ کې فرمايي : وقد رأيت من الولاة من يهدم بمكة ما يبنى فيها فلم أر الفقهاء يعيبون ذلك

ژباړه: او يقينا ما ليدلـــي د واليانو څخه چې هغوی به ورانولـي په مکه کې هغه اباداني چې په قبـرونو به جوړې شـوې وې او نه به وو فقهاء چـې بد به يـې ويل په دې کار دغه ډول علامه ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد ۳/۳۴۴ کې فـرمايـي ومنها: أنه لا يجوز إبقاء مواضع الشرك والطواغيت بعد القدرة على هدمها وإبطالها يوما واحدا، فإنها شعائر الكفر والشرك، وهي أعظم المنكرات، فلا يجوز الإقرار عليها مع القدرة البتة، وهذا حكم المشاهد التي بنيت على القبور التي اتخذت أوثانا وطواغيت تعبد من دون الله، والأحجار التي تقصد للتعظيم والتبرك والنذر والتقبيل لا يجوز إبقاء شيء منها على وجه الأرض مع القدرة على إزالته، وكثير منها بمنزلة اللات والعزى، ومناة الثالثة الأخرى،

ژباړه: او د هغې جملـې څخه دا دي چې بې شـــــکه جائز نه دي باقي پريښــودل د شرک ډمواضعو او د طاغوتي ځايونو روســـته د قدرت نه په نړولو او ورانولو د هغـې يو ورځ هم ځکه چې دا د کفر او شــــــرک شـــــــعائر دي او دا تر ټولو لوی منکرات دی نو پس جائـز نه دي چې پاتې کيدل سـره د قدرت نه د دې په نړولو بلکل او دا حکم د هاغو جوړو شو بناګانو هم دی چې جوړې شوې په قبـرونو باندې چـې هغه بوتان او طواغيت نيول شـوي چې عبادت يې بغير له الله څخه کيدای شـي او دغه ډول (دا حکم) د هغو کاڼو هم چـې د تعظيم تبرک نذر او ښــــکلولو په وجه يې تعظيم کيدای شــــي نه دي جائز باقي پاتـې کيدل د دې څخه د هيڅ شـــي په مخ د ځمکې روســـته د قدرت نه په ختمولو د هغې او ډير له هغـې څخه هغه په منــــزله د لات او عــــزیٰ او د منات دي چـــــې دريم اخيرينی دی

زاد المعاد ۳/۳۴۴ دغه ابن القـــيم رحمه الله په إغاثة اللهفان کې دا هم ذکر کړي چې خپله شـــيخ الاســـلام رحمه الله ډيری دغه ډول اشـياء او مواضع چې خلکو ترې معبودان جوړ کړي وو او د تبـرک لپاره يــې خاص کړي وو هغه په خپل لاس په د مشق کې مات کړي دي علامه طرطوشـــــي رحمه الله په الحوادث والـبدع ۱/۳۸ کې د ذات انواط د ونـې حديث ذکـر کوي او بيا فرمايي

فانظرو ارحمكم الله أينما وجدتم سدرة أو شجرة يقصدها الناس ويعظمون من شأنها ويرجون البرء والشفاء من قبلها وينوطون بها المسامير والخرق؛ فهي ذات أنواط؛ فاقطعوها

ژباړه: ښــه وګورئ الله دې په تاسـو ورحميږي چرته چې هم تاسو د بيرې او يا هم بله ونه ومومئ چـې خلک د هغـې (نه د تبـــرک) اراده کوي او د هغې د شـــان تعظيم کوي او د هغې نه د جوړيدو او شفاء اميد ســاتي او هغې کې کونډې او چوغې رازوړندوي د خير د حاصـليدو لپاره نو پس دغه ذات انواط دي دا قطع کـــړئ، دغه ډول ابن القيم رحمه الله د طرطوشی رحمه الله په حوالې ســـره په أفريقه کې د بعضـي اهل علمو باره کې ذکر کړی چې د هغه خوا کې يوه چينه وه چې عين...

العافية به يې ورته ويل چې عام خلک د هغې متعلق په فتنه کې واقع شوی ؤ چـې د لـرې لـرې منطقو څخه به ورته خلک راتلل نو چــې چاته به د نکاح او يا هم د بچي متعلق مشـــکل پيدا کيده نو ويونـکـــي به ورته ووېل چې عافيه ته ورشـــه نو دغه فتنه په کې مشهوره وه نو دغه عالم وايي يوه ورځ سحر وختي(ش۲۰۷)

راغـی او هغه يـې ونـړوله او هماغه ځای باندې يی د سـهار اذان وکړ او دعا يې وغوښته چې ای الله ما خو دا ونړوله ته يې بيا سر مه راپورته کوه (يعني دا بيا مه ښــــکاره کوه) نو فرمايي بيا هغې چيني ترننه ســـر راپورته نه کـــــړ" إغاثة اللهفان ۱/۱۱۲ نو اوس دې مســــــلمانان وګوري چې کتاب او سنت او د علماء امت د شــرکي مواضـــعو د نړولو څومره جدي امر کوي خو بل طـرف صوفيان د داسې مواضـعو ترويج او تعمير کول د ثواب او اجر باعث ګڼي حتیٰ مســاجدو کې مړي دفن کوي او د قبرونو نه طوافونه کوي داسې ډير واقعات يې شــــته چې دې قوم کې دومره مشهور دي چې يادونې ته يې حاجت نه محسوسو

(ش۲۰۷)

(السيف المسلول على من (قاس جوازالقباب علـى قبة قبـر الرسول)

خو دلته که څوک دا وايي چې تاسـو وايـئ چـې په قبـر بنا جوړول او يا ګنبدې قُبّې منع او ناجائز دي او دغه ډول مســـــجد کې مړي دفن کول ناجايز دي نو بيا د نبي صـــلی الله عليه وسـلم په قبر دا ګنبد ولې جوړه شـــوې کومه چې د خلکو ترمنځه د شـنې روضـې په نوم سـره شـهرت لري؟ او فعلاد هغه دغه قبر شـريف په مسجد نبوي کې داخل دی دا ولې نو بعون الله الوهاب د دې سوال او يا هم اعتراض درې جوابونه دي

(۱جواب) قبـــر باندې بنا او کوټه جوړول او ګنبد وغيره منارې جوړول او مســـــاجد ګرځول د دې نه نبي صلی الله عليه وسلم شديده منع کړې ده چې دې باب کې أحاديث مخکې ذکر شوي نو صحابه به څنګه د نبي صلی الله عليه وسلم مخالفت کوي؟! نو معلومه شوه چې نه نبي صلی الله عليه وسلم په مسـجد کې دفن دی او نه په هغه کوټه او ګنبد صـــحابه وو جوړه کړې ده

(۲جواب) دا دی چې دې کې شک نه شته چې نبي صلـی الله عليه وسـلم دفن شوی په کوټه کې دی عائشـــه مور رضي الله عنها د نبي صـلی الله عليه وسـلم په کوټه کې د دغه تدفين دا وجه ذکر کوي چې که د نبي صلی الله عليه وسلم قبر ښـکاره وي او هر څوک ورتلای او هر چاته ښکاريدای نو دا به خلک مســـــجد وګرځوي نو ويفرمايل فلولا ذلك لأبرز قبره غير أنه خشي أن يتخذ مسجدا " ژبـــاړه نو که چرته دغه يره نه وي نو قبر به يې ښکاره شـوی وای خو يره له دې وشوه چې دا مسجد ونه ګرځول شی نو معلومه شـوه چې دا کوټه له پخوا څخه موجوده وه او دا د عائشې مور کوټه وه نو داســـې نه وه چې د اور باندې روسته جوړه شـوې وي او دا يره هم له دې کبله چې د نبي صـلی الله عليه د فرمان مخالفت رانشي نو د هغه تدفين په کوټه کـــې د همدې يرې نه شوی چې د هغه قبر مسـجد ونه ګرځي نو معلومه شـــوه چې نه ورباندې کوټه جوړه شـوې او نه په مســـجد کې دفن شوی بلکه هغه د مســـــجد نه جدا خپل کور کې دفن شوی روسته هم چې کله مســــــجد نبوي کې د پراخ والی ضـــــــرورت محســـوس شو او د امهات المؤمنين کوټې يې په مسـجد کې داخلولې نو بيا د قبـــر نه ګـــرد ديوالو نه ووهل شول او هغه د لمونځ کونکو نه مکمل پناه وګرځول شـــو امام نووي رحمه الله په شرح د صحيح مسـلم کې په ۵/۱۴ کې دغه وضـــاحت کړی دی هغه فرمايـي قال العلماء إنما نهي النبي صلى الله عليه وسلم عن اتخاذ قبره وقبر غيره مسجدا، خوفا من المبالغة في تعظيمه والافتتان به، فربما أدى ذلك إلى الكفر كما جرى لكثير من الأمم الخالية، ولما احتاجت الصحابة رضوان الله عليهم أجمعين والتابعون إلى الزيادة في مسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم حين كثر المسلمون، وامتدت الزيادة في مسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى أن أدخلت

بيوت أمهات المؤمنين فيه ومنها حجرة عائشة رضي الله عنها مدفن رسول الله صلى الله عليه وسلم وصاحبيه أبي بكر وعمر رضي الله عنهما، بنوا على القبر حيطانا مرتفعة مستديرة حوله لئلا يظهر فيصلي إليه العوام، ويؤدي إلى المحذور، ثم بنوا جدارين من ركني القبر الشماليين، وحرفوهما حتى التقيا حتى لا يتمكن أحد من استقبال القبر، ولهذا قال في الحديث: " ولولا ذلك لأبرز قبره "، غير أنه خشي أن يتخذ مسجدا، والله أعلم بالصواب "

(ژباړه) علماوو فرمايلي دي په منع کولو د نبي صلى الله عليه د خپل او يا د بل د قبر نه د مسجد جوړولو څخه دا يره وه د مبالغې کولو نه په تعظيم د هغه او د واقع کيدلو د فتنې نه په هغې کې نو پس ډير ځلې (دغه کارونه) کفر ته وغزيږي لکه څنګه چې دغه کارونه په ډيرو تيرو شوو امتونو کې شوي دي خو چې کله صحابه رضوان الله عليهم اجمعين او د هغوی تابعين محتاج شو چې کله مسلمانان ډير شو او مسجد کې ځای کم ؤ نو پراخ والي د مسجد د رسول الله صلى الله عليه وسلم اوږد شو تردې چې د امهات المؤمنين کوټې يې مسجد کې راداخلې کړې چې هغې کې د عائشې مور کوټه هم وه کومه کې چې نبي صلى الله عليه وسلم او د هغه ملګرې ابو بکر او عمر رضي الله عنهما دفن وو نو د قبر نه يې ورته اوچت اوچت ديوالو ګيرد چاپير ووهل د دې وجې نه چې ښکاره نه شي او عوام ورته لمونځونه ونه کړي د دې وجهې نه چې ممنوع ته ونه غزيږي بيا يې د قبر شمالي جانب ته دوه ديوالونه کاږه د مثلث په شکل ووهل چې سرونه يې سره يوځای شوي د دې وجې چې ميسر نشي چاته چې دا ورته قبر ته مخامخ ودريږي په لمونځ کې او د همدې وجې نه ويل شوي حديث کې چې که دغه يره نه وی نو قبر به يې ښکاره شوی وای خو يره له دې وشوه چې قبر يې مسجد ونه ګرځول شي او الله په حقيقت ډير علم لرونکی دی

(**٣ جواب**) نو لکه څنګه چې معلومه شوه چې دغه کوټه په رسول الله صلى الله روسته د دفن نه نه ده جوړه شوي بلکې دا د عائشې رضي الله عنها کوټه وه وجه دا ده چې نبي صلى الله عليه وسلم کله وفات شو نو د صحابه وو تر منځه نظرونه مختلف شول د ده دفن د ځای متعلق نو د ترمذی روايت کې په ١٠١٨ نمبر راځي چې أبو بکر رضى الله عنه ورته وفرمايل سمعت(ش٢٠٨) من رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئا ما نسيته، قال: «ما قبض الله نبيا إلا في الموضع الذي يحب أن يدفن فيه»، ادفنوه في موضع فراشه: "

ژباړه: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه څه اوريدلي چې هير مې ندي او هغه دا چې (هغه فرمايلي) الله هيڅ نبي نه وفات کوي مګر هاغه ځای کې چې هغه يې خوښه ګڼي چې هلته دفن شي نو پس تاسو دا د خپلې بسترې پرځای دفن کړئ او د مسند ابى يعلى په روايت کې چې په نمبر ٢٢ باندې الفاظ داسې دي چې ابوبکر رضى الله عنه وفرمايل إني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «ما قبض نبي إلا دفن حيث قبض»

ژباړه: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې هيڅ نبي نه شي وفات کيدای مګر دا چې دفن کيدای به شي چې چرته وفات کيدای شي او د ابن ماجه روايت کې د "حيث يقبض " الفاظ دي الغرض دا حديث دليل دی په دې چې نبي صلى الله عليه وسلم باندې کوټه نه بلکې هغه د خاص دليل او صريح نص په وجه په کوټه کې د خپلې بسترې پرځای دفن شوی چې امت کې هيڅ څوک په دې نه شي قياس کيدای

او کومه چې شنه قبه ده په قبر د

نبي علیه السلام نو دا هم نه د صحابه وو او نه د تابعینو دور کې وه بلکې دا وروسته مبتدعینو او قبر پرستو پرې جوړه کړې ده ځکه دا په شریعت کې منع ده
نو که دا کار جائز او یا هم قابل د مدح وای نو دا.به بیا د نورو صحابه کرامو قبرونو باندې هم وی او حال دا چې اوچت اوچت أفضل أفضل صحابه کرام وفات شوي او شهیدان شوي خو د هیڅ یو په قبر کې د دوی څخه کوم یو باندې نه ابادي او نه ګنبد قبه او مناره جوړه شوې ده خو نن چې تاسو ګورئ نو اکثر د دې صوفیانو په پیرانو داسې تعمیرات او ګنبدې جوړې شوې چې عقل ورته حیران پاتې کیږي لرې مه ځئ د بلخ ولایت کې د سخی د روضې په نوم دا ابادي وګورئ ټول افغانستان کې داسې مسجد نه شته خو قبر باندې جوړه شوې دغه ابادي وګورئ دا څومره اسراف شوی دی او بیا شرکیات یې وګورئ چې څومره په کې کیږي د فحشا خو په کې حد نه شته داسې نور دربارونه پاکستان کې وګورئ لاړ شئ ایران ته هلته خو لس قدمه کې تاسو د روافضو الهه وو باندې دغه شرکي دربارونه ابادیانې او ګنبدې وګورئ چې د درواغو په نومونو یې نومولي دا فلانی دی او دا فلانی اول خو دغه یو هم ثابت نه دی چې دا دې د کوم صحابي یا اهل بیت قبر وی او که وی بالفرض نو بیا وربانديې دا ابادیانې او پاخه تعمیرات او په هغې کې ترسره کیدونکي شرکیات ټول په ټوله د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره د دې امامانو او اولیاء مخالفت او نافرمانې ده خو د تصوف صوفیانو او روافضو قسم کړی که توبه ترې وباسي الا ماشاء الله تعالی(ش ۲۰۹)

سعيُ الإبعاد لجيل المسلم عن عمل بدعة الميلاد

مونږ د لوی الله تبارک وتعالی په خاص توفیق او مرسته مخکې فصل کې د تصوف د عقیدې په بنا خصوصا او د روافضو او غیره مشرکینو د اعتقاد په بنا عموما د اوچتو قبرونو او د هغې د پخولو او په هغې د مساجدو او درباورنو ګنبدو او ابادیو جوړول د شریعت محمدي له رویه باطل ناروا او مردود ثابت کړل اوس دې فصل کې راځو د صوفیانو یو بل مشهور ناروا او د بدعي عمل او اعتقاد ردّ کوو چې هغې ته محفَل د مولود او یا د میلاد وایي چې د دوی په عامه اصطلاح کې د عرس او عید میلاد النبی په نوم یادیږي دا څه ته وایي نو راځو اول د دې نه ځان خبروو نو خلاصه به دا وواېو چې دوی د نبي صلی الله علیه وسلم د پیدائش د ورځې او تاریخ لمانځلو ته عرس میلاد یا عرس مولود وایي او بیا دغه لمانځل دوی د ثواب او اجر باعث ګڼي دې کې بیا د هر ځای او منطقې او د هرې سلسلې صوفیان د خاصو خاصو معتقداتو په مرسته نااشنا نا اشنا اعمال ترسره کوي د متقدمینو صوفیانو دې باب کې هم ډیر اقوال او حکایات شته خو د وقت او حال په مناسبت به د دې د أهمیت او فضیلت اجر او ثواب متعلق د متأخرینو مشهورو دیوبندي صوفیانو څخه د یو څو اقوال نقل کړو بیا به د هغوی دغه عمل او اعتقاد د کتاب او سنت محکمې ته پیش کړو

د دیوبندي صوفیانو شیخ المشائخ صوفي حاجی امدادالله په فیصله هفت مسئله کې لیکي : اور مشرب (طریقہ) فقیر کا یہ ہے کہ محفلِ مولد (میلاد) میں شریک ہوتا ہوں بلکہ ذریعہ برکات سمجھ کرہر سال منعقد کرتا ہوں اور قیام میں لطف ولذت پاتاہوں

ژباړه: او د فقیر طریقه دا ده چې زه د میلاد محفل کې شراکت کوم بلکه دغه حاضري د.برکت باعث ګڼم او هر کال دا محفل لمانځم او د دې په ادا کولو کې لطف او لذت محسوسوم دغه ډول د دیوبند جمله صوفیانو د المهند په صـ۶۰ کې د مولود د

لمانځلو په جواز او اعلی استحباب باندې قول کړی دی دغه ډول بل د دوی مشهور صوفی اشرف علی تهانوي د میلاد النبي د لمانځلو متعلق په ارشاد العباد فی عید میلاد ص۴ کې لیکي

هم اسے باعث برکت سمجھتے ہیں اور جس مکان میں عید میلاد منائی جائے اس میں برکت ہوتی ہے ۔

ژباړه: مونږ دا باعث د برکت ګڼو او کوم ځای کې چې دغه عید میلاد ولمانځل شي نو.هغه ځای کې برکت راځي دغه ډول صوفي رشید احمد لدهیانوي دیوبندي هم په احسن الفتاوی ص۳۴۷ کې میلاد لمانځل د.اعلی مرتبو د حصول سبب ګڼلی دی الغرض عزتمندو مسلمانانو دا د متقدمینو غوندې د ټولو متاخرینو صوفیانو نظریه هم ده هغه دیوبندیان دي که بریلویان سیفیان دی او که نور دوی ټول دغه میلاد لمانځل د ثواب اجر او اعلی مرتبو د حاصلیدو سبب ګڼي خو اوس مونږ راځو او د دوی د دې اعتقاد او عمل متعلق کتاب او سنت کې ګورو چې په دې دلیل هم شته او که نه؟

نو اول خو دا واورئ چې د میلاد د لمانځلو متعلق تذکره او فضیلت نه په قران کې او نه چرته په صحیح یا حسن بلکه په ضعیف حدیث کې هم نه شته نو دې باره کې چې دوی عموما د کومو احادیثو څخه د دې په جواز او فضیلت مجبور شوي نو هغه جمله هغه احادیث دي چې د نبي صلی الله علیه وسلم د پیدایش متعلق په کې نا اشنا عجائب او غرائب تذکرې فضائل او محامد ذکر شوی خو حقیقت دا دی چې دغه واړه احادیث سل په سله د ځان نه جوړ شوي موضوعي احادیث دي د دې احادیثو په بطلان نه صرف اهل حقو بلکه خپله صوفیانو هم د بطلان او موضوعیت حکم لګولی دی د تصوف مشهور داعي او صوفی عبدالله بن محمد بن الصدیق الغماری چې په ۱۴۱۳ هجری کې مړ شوی چې صوفیان هغه ته د مغرب او افریقي محدث وایي هغه په خپله رساله مرشد الحائر لبیان وضع حدیث جابر کې لیکي «ما یوجد في کتب المولد النبوي من أحادیث لا خِطام لها ولا زِمام هي من الغلو الذي نهی الله ورسوله عنه، فتحرم قراءة تلك الکتب

ژباړه: هغه چې مونډلی شي په کتابونو کې د نبي صلی الله علیه وسلم د پیدایش د احادیثو متعلق هغه برای نام احادیث چې واګی او قضیه یط نه شته هغه د هاغې غلو څخه دي چې الله او د هغه رسول منع کړې ده هغه غلو پس حرام به وي لوستل د دغه کتابونو

دا شو د دې احادیثو حقیقت او د صوفیانو د خپل کور ګواهی او شاهدی د دې په بطلان اوس راځو د مولود د ردّ تفصیل ته

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو !

د مشرکو صوفیانو د عقیدوي خرافاتو ، ګمراهیو او شرکیاتو د سلسله واري لړۍ په لړ کې مو اومه برخه ولوسته د دې علمي ، مالوماتي او تحقیقاتي سلسلې په راتلونکې اتمه برخه چې د مجلې په راتلونکې ګڼه کې به باذن الله خپره شي تاسې د مولود په رد تفصیلي مدلل بحث ولولئ ان شاء الله

4

اسباب

النصر والتمكين

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى صَدَقَ وَعْدَه وَنَصَرَ عَبْدَه وأعزَّ جنده، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَه ، لاشيأً قبلهُ ولا شيأً بعده وأشهدُ أن محمداً عبدهُ ورسولهُ أما بعد.

عزتمندو مسلمانانو ورونو ! په تېرو برخو کې د الله تعالی د نصرت او تمکين په اسبابو خبره کېدله چې د هغې له جملې څخه شپږ اسباب ذکر شوي وو.

اووم سبب: نصرة دين الله

اوم سبب د نصرت او تمکين دا دی چې کوم خلک د الله د دين د نصرت په خاطر راپورته شي الله تعالی د دې خلکو سره خامخا نصرتونه او مددونه کوي، مقصد دادی چې کله مؤمنانو په خپله مبارزه، دعوت او جهادونو کې نيتونه رب ته خالص کړل او د خپلې مبارزې او جهاد هدف يې د الله کلمه اوچتول وي، د هغه د دين او پيغمبر نصرت يې هدف وي، نو دې خلکو سره د الله معيت او نصرت وعدې رب العالمين کړې، او دا اعلان يې خپلو بندګانو ته کړی چې تاسې د رب نصرت وکړئ، زه خامخا ستاسې سره نصرت کوم الله تعالی فرمايي:

> يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ
> [سُوْرَةُ محَمَّد : ٧]

ژباړه: اې مؤمنانو که تاسې د الله (د دين) سره مرسته وکړئ، نو هغه به ستاسې سره مرسته وکړي او ستاسې قدمونه به کلک کړي.

مفسيرينو د دې معنی داسې کړې، چې (إن تنصروا دين الله بالجهاد في سبيله، والحكم بكتابه، وامتثال أوامره، واجتناب نواهيه، ينصركم الله على أعدائكم، ويثبت أقدامكم عند القتال) يعني که تاسې د الله د دين نصرت په جهاد في سبيل الله سره وکړ، او د هغه په کتاب باندې په فيصلو کولو سره او د هغه د اوامرو په عملي کولو او د نواهيو څخه په ځان ساتنې سره، نو الله به ستاسې سره ستاسې د دښمنانو په مقابل کې نصرت وکړي او ستاسې قدمونه به د قتال په لار کې مضبوط کړي.

امام قرطبي رحمه الله وايي : (أي إن تنصروا دين الله ينصركم على الكفار ...) يعنی که تاسې د الله تعالی د دين مدد وکړئ نو الله به ستاسې سره د کفارو مقابل کې مدد وکړي، بيا وايي دې ايات کې چې (ويثبت اقدامكم) راغلی نو (تثبيت الأقدام عبارة عن النصر والمعونة في موطن الحرب) د قدمونو مضبوطول عبارت دی د نصرت او مدد څخه د جنګ په ځايونو کې.

نو معلومه شوه چې إلهي نصرت د نيکانو بندګانو سره حتمي دی، خو مشروط دی چې مونږ به د رب د دين نصرت کوو بيا به د رب نصرتونه راځي، مونږ به د رب د دين د نفاذ او قيام لپاره مبارزه او جګړه کوو بيا به د رب نصرتونه راځي، نيتونه کې به مو اخلاص وي، د قتال او جهاد نه به زمونږ هدف هماغه وي کوم هدف چې رب راته ټاکلی نو بيا د رب مددونه راتلونکي دي.

په سورة الحج کې هم الله تعالی د همدې سبب ذکر کوي او فرمايي :

> وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ • ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلْمَعْرُوفِ وَنَهَوْاْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ
> [سُوْرَةُ الحَجّ : ٤١،٤٠]

ژباړه: الله به هرو مرو له هغو کسانو سره مرسته وکړي، چې د هغه مرسته وکړي. الله ډېر زورور او برلاسی دی.

دا هغه کسان دي چې که مونږ دوی ته په ځمکه کښې قدرت ورکړو، نو لمونځ به قايم کړي، زکات به

ورکړي، په ښــو چارو به امر وکړي او له بديو څخه به منع وکـړي. او د ټولو چارو پای د الله په لاس کښې دی.نو دې ايات کې هم تصــريح ده چې رب د هغه خلکو ســره خامخا نصــرت کوي چې څوک د الله او د هغه د دين نصرت کوي.

او دا د مؤمن لپاره ډير لوی قوت دی چې د رب نصـرت ورته حاصل شي، بيا دی د ټرئ لاس خلاص وي، بيا به د کفارو فوجونه او اسباب بې معنی وي لکه الله تعالی فرمايي :

> إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِى يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ
> [سُوْرَةُ آل عِمرَان : ١٦٠]

ژباړه: که الله مو مرستندوی وي، نو هيڅ قوت درباندې برلاسی کېدای نه شـي؛ او که هغه تاسـې پرېږدي، نو بيا د الله وروســته څوک ســتاســې مرسته کوونکی کېدای شي؟ نو څوک چې رښـتيني مؤمنان دي، هغوی دې يوازې پـــر الله توکُل وکـــړي.نو مجاهدينو ورونو!

که چيرې مونږ او تاسې د رب د دين نصــــرت په صحي او کامله معنی شــــروع کړ بيا قريبه ده چې رب دا تياري شـپې رڼا کړي ، بيا نژدې ده چې دا ســهار به روښــانه کړي ، بيا لرې نده ورونو چې دا د ســختيو او امتحانونو ولچکې به رب ماتې کړي، او د دار الكفـر د دې زندان څخه مو رب د تمکين ازادئ ته بوځي،

> وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ
> [سُوْرَةُ فَاطِر : ١٧]

دغســـي کار کول، د الله لپاره هيڅ ګران نه دی.

او که چيـــری مونـــږ د رب د دين نصرت په صحی معنی ونکړ دا شپې به نوری هم تياره کيــــږي ،په دې ســــهار به بيا وريځې راځي ، دا د ســـختيو ولچکې او زندانونه به نور هم سختيږي.

د رب العالمين د دين نصـرت دا هغه خبــره ده چـــې رب العالمين خپلو بندګانو ته امر پدې ســـره کوي او ورته فرمايي:

> يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُونُوٓا أَنصَارَ اللَّهِ
> [سُوْرَةُ الصَّف : ١٤]

ژباړه: اې مؤمـــــــنانو! د الله مرستندويان شئ.

او دا هغه خبـره ده چـــې زمونـــږ د پيغمبر محمد صـلـی الله عليه وسـلم څخه مخکې هم پيغمبرانو خپل اتباع دې خبرې ته دعوت کړي وو چې رب العالمين يې مونږ او تاسې ته نمونې ذکر کوي عيســی عليه الســلام همدا خبره خپلو ملګرو ته کړی وه او ورته وايې:

> يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُونُوٓا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّـۧنَ مَنْ أَنصَارِىٓ إِلَى اللَّهِ ۖ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ ۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٌ ۖ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ ءَامَنُوا عَلَىٰ عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَٰهِرِينَ
> [سُوْرَةُ الصَّف : ١٤]

